# د اشعیا نبي کتاب

۱ ۱ په دې کتاب کې هغه رویا ده چې خدای د یهودا او اورشلیم په اړه د عزیا، یوتام، احاز او حزقیا د
پاچاهۍ په دوران کې د آموص زوی اشعیا ته ښکاره کړه.

## څښتن خپل غوره شوی قوم رټي

۲ څښتن وویل: «ای اسمانه او ځمکې، زه چې څه وایم ورته غوږ ونیسئ! کوم اولادونه چې ما وروزل او
لوی مې کړل، هغوی زما په وړاندې سرغړونه وکړه. ۳ غویان خپل خاوند او خره خپل اخور پېژني چې
څوک ورته خوراک رسوي. خو زما قوم اسراییل ما نه پېژني، ځکه چې شعور نه لري.»

۴ ای د ګناهونو نه ډک، فاسد او بدعمله قومه! تاسو په خپلو ګناهونو کې ډوب شوي یئ! تاسو څښتن د
اسراییلو سپېڅلی خدای پرېښی، د هغه نه مو مخ اړولی او سپکاوی مو ورته کړی دی. ۵ تاسو ولې خپل
یاغیتوب ته دوام ورکوئ؟ ایا غواړئ چې د دې نه نوره هم زیاته سزا ووینئ؟ ستاسو سر ټپي او زړه مو ناروغ
دی. ۶ له سره نیولې تر پښو ستاسو په بدن کې روغ ځای نشته. ستاسو ټول بدن ټپي، موړې موړې او د
ناسور په زخم بدل شوی دی. ستاسو زخمونه لا پاک شوي نه دي، نه ورباندې پټۍ ایښودل کېږي او نه هم
ملهم.

۷ ستاسو وطن وران شوی او ښارونه مو سوځول شوي دي. ستاسو د سترګو په وړاندې پردي خلک
ستاسو ځمکې نیسي او هرڅه ورانوي. ۸ اورشلیم لکه د انګورو په باغ کې د جونګړې او د بادرنګو په پټي
کې د څېرې په شان یوازې پاتې دی او کلابند شوی ښار دی. ۹ که چېرې مطلق قادر څښتن ځینې
خلک ژوندي نه وای پرېښي، نو اورشلیم به د سدوم او عمورې په شان بیخي تباه شوی وای.

۱۰ ای اورشلیمه! ستا حکمرانان او خلک لکه د سدوم او عمورې په شان دي. څه چې څښتن تاسو ته
وایي، هغه ته غوږ ونیسئ او زمونږ د خدای تعلیم ته پاملرنه وکړئ. ۱۱ څښتن وایي: «ولې زما دپاره دومره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قرباني؟ کوم پسونه چې تاسو يې ماته د سوځېدونکې قربانۍ په توګه وړاندې کوئ او د ډېرو چاغو حيواناتو وازګه چې ماته نذرانه کوئ بېزاره شوی يم. د غويانو، ورېو او وزانو د وينو څخه هم خوشحاله نه يم. ۱۲
تاسو نه چا دا غوښتي دي چې کله تاسو ماته د عبادت دپاره راځئ نو دا شيان درسره راوړئ؟ ستاسو نه چا دا غوښتنه کړې ده چې راشئ او زما د عبادت ځای تر پښو لاندې کړئ؟ ۱۳ نورې دا بې ګټې نذرانې ماته مه راوړئ. ستاسو د خوشبويۍ د سوځولو د بوی نه کرکه لرم. زه ستاسو د نوې مياشتې اخترونه، ستاسو د سبت ورځې او ستاسو ديني غونډې نه شم زغملی، دا ټول د ګناهونو له امله فاسدې شوې دي. ۱۴ زه ستاسو د نوې مياشتې د اخترونو او سپېڅلو ورځو څخه کرکه کوم، د دې بار له زغملو څخه ستړی شوی يم.

۱۵ کله چې تاسو د دعا دپاره لاسونه پورته کړئ، زه به تاسو ته ونه ګورم. تاسو چې هرڅومره دعاګانې وکړئ زه يې نه قبلوم، ځکه چې ستاسو لاسونه په وينو ککړ دي. ۱۶ خپل ځانونه ووينځئ او پاک شئ. خپل ټول بد کارونه چې زما په وړاندې يې کوئ، هغه پرېږدئ. نور يې مه کوئ. ۱۷ نېک کارونه زده کړئ. د انصاف په لټه کې اوسئ، د مظلومانو سره مرسته وکړئ، يتيمانو ته خپل حق ورکړئ او د کونډو د حقونو څخه دفاع وکړئ.»

۱۸ څښتن وايي: «اوس راځئ چې دا موضوع حل کړو. ستاسو ګناهونه د وينې د رنګ په شان دي، خو زه به تاسو داسې ووينځم چې د واورې په شان سپين او د وړيو په شان پاک شئ. ۱۹ که چېرې تاسو غواړئ چې زما اطاعت وکړئ، نو تاسې به د ځمکې ثمره وخورئ. ۲۰ خو که تاسو انکار او سرغړونه وکړئ، نو په توره به ووژل شئ.» څښتن په خپله داسې ويلي دي.

## د ګناهکارانو ښار

۲۱ هغه ښار چې يو وخت وفادار ؤ، ولې اوس د بدلمنې ښځې په شان شوی دی؟ دا ښار چې يو وخت د عدالت او نېکۍ څخه ډک ؤ، خو اوس يوازې قاتلان په کې اوسېږي. ۲۲ ای اورشليمه، ته يو وخت د سپينو زرو په شان وې خو اوس د يو بې ارزښته فلز په شان يې. ته د ډېرو ښو انګورو شرابو په شان وې، خو اوس په شرابو کې اوبه ګډې شوې دي. ۲۳ ستاسو مشران ياغيان او د غلو ملګري دي، هغوی ټل سوغاتونه او رشوتونه اخلي. هغوی هېڅکله په محکمو کې د يتيمانو څخه دفاع نه کوي او کله چې کونډې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې دعوې وړاندې کوي هغوی ورته غوږ نه نيسي.

۲۴ نو اوس مطلق قادر څښتن، د اسراييلو قوي خدای داسې وايي: «زه به خپل دښمنان په خپل غضب
اخته کړم او د هغوی نه به خپل بدل واخلم. ۲۵ زه به ستاسو په وړاندې اقدام وکړم او تاسو به په داش
کې داسې پاک کړم لکه څنګه چې فلز چاڼيږي. ستاسو نه به ټوله ناپاکي لېرې کړم. ۲۶ زه به تاسو ته
داسې قاضيان او مشاوران درکړم لکه څنګه چې په پيل کې مو لرل. بيا به اورشليم د نېکۍ او وفادارۍ د
ښار په نوم ياد شي.»

۲۷ څرنګه چې د اورشليم خلک يوځل بيا انصاف وکړي او توبه وباسي، نو وبه ژغورل شي. ۲۸ خو څوک
چې د څښتن په وړاندې سرغړونه او ګناه کوي هغه به تباه شي. هرڅوک چې څښتن پرېږدي، نو هغه به
ووژل شي.

۲۹ تاسو به پښېمانه شئ چې د څېړۍ د ونو لاندې مو د عبادت څخه خوند واخيست او وبه شرمېږئ چې
په غوره شويو باغونو کې مو عبادت وکړ. ۳۰ تاسې به لکه د بې پاڼو او د وچو څېړيو ونو او بې اوبو باغونو
په شان له منځه ځئ. ۳۱ زورور خلک به د خپلو بدو کړنو په خاطر لکه پنبه چې د اور په لمبه کې سوځي،
له منځه لاړ شي. هېڅوک به دا توان ونه لري چې هغوی د دې اور څخه وژغوري.

## ابدي سوله

(ميکاه ۴: ۱ - ۳)

**۲** ۱ دا هغه پيغام دی چې خدای د يهودا او اورشليم په هکله د آموص زوی اشعيا باندې نازل کړ:

۲ راتلونکو ورځو کې به

په کوم غر چې دی جوړ شوی د څښتن کور

وي به نړۍ کې دا غر لوړ له ټولو غرونو څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به لوړ وي ټولو غونډيو څخه

وي ټول قومونه ورروان به د سېلاب په شان

۳ هغوی به راشي وبه وايي داسې:

«راځئ ورخېژو د څښتن غره ته مونږ

پورته شو کور ته د يعقوب د خدای

هلته به وښايي هغه مونږ ته خپلې لارې

او مونږ به وکړو هغه کار چې وي خوښ د هغه»

ځکه چې شريعت د څښتن به له صهيونه راشي

د ده کلام به راشي له اورشليمه

۴ څښتن به وکړي قضاوت د قومونو ترمنځ

د قاضي په شان به حل کړي د ډېرو خلکو شخړې

خپلو تورو نه خلک جوړې به کړي يوې

نېزې بدلې په لورونو به کړي

بيا به هېڅکله قومونه غوره نه کړي د جنګ لاره

بيا به هېڅکله دوی نه نيسي د جنګ تياری

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ اوس ای د یعقوب اولادې، راځئ چې د څښتن په نور کې چې زمونږ لاره یې رڼا کړې ده، وګرځو.

## د کبر او غرور له منځه تلل

۶ ای خدایه، تا خپل قوم یعنې د یعقوب اولاده پریښې ده! دا وطن د ختیځ څخه نیولې په لوېدیځ کې تر
فلسطینه پورې د جادوګرۍ نه ډک شوی دی. خلک د پردیو سره د یووالي تړون کوي. ۷ د هغوی وطن
د سرو او سپینو زرو نه ډک دی او د هغوی خزانې نه خلاصیږي. د هغوی وطن د اسونو څخه ډک دی او
بې شمېره جنګي ګاډۍ لري. ۸ د هغوی وطن د بتانو نه ډک دی او دوی هغو شیانو ته سجده کوي چې
په خپلو لاسونو یې جوړ کړي دي.

۹ هغوی به ټول ټیټ شي او وبه شرمیږي. ای څښتنه، هغوی مه بخښه! ۱۰ په سمڅو کې ورننوځئ او
د څښتن له وېرې او د هغه د شان او شوکت څخه ځان په خاورو کې پټ کړئ! ۱۱ هغه ورځ به راشي چې
د انسان غرور پای ته ورسیږي او د انسان لویي له منځه لاړه شي، بیا به یوازې د څښتن ستاینه کیږي. ۱۲
مطلق قادر څښتن یوه ورځ ټاکلې ده چې کبرجنو او مغرورو خلکو ته سزا ورکړي او هغوی به سپک او ذلیل
کړي. ۱۳ په هغه ورځ به د لبنان د سبر ټولې لوړې لوړې ونې او د باشان د سیمې د څېړیو ټولې ونې له
منځه یوسي. ۱۴ په هغه ورځ به ټول لوړ لوړ غرونه او غونډۍ، ۱۵ هر یو اوچت برج او د کلاګانو ټول
ټینګ دېوالونه هوار کړي. ۱۶ په هغه ورځ به حتی ډېرې غټې، ښکلې او د بحیرې کشتۍ ګانې ډوبې
کړي. ۱۷-۱۸ انساني غرور به پای ته ورسیږي او د انسان لویي به له منځه لاړه شي. بتان به بیخي له
منځه ځي او په هغه ورځ به یوازې د څښتن ستاینه کیږي.

۱۹ کله چې څښتن راشي او ځمکه ولړزوي، نو خلک به د هغه له وېرې څخه د غرونو په غارونو کې یا د
ځمکې په سوریو کې ننوځي، ترڅو د څښتن د قهر نه وتښتي او د هغه د شان او شوکت نه پټ شي. ۲۰
کله چې هغه ورځ راورسیږي، نو خلک به د سرو او سپینو زرو بتان چې خپله یې د عبادت دپاره جوړ کړي
دي، لېرې وغورځوي او هغه به ناپاکو موږکانو او شوپرکانو ته پرېږدي. ۲۱ کله چې هغه راشي او ځمکه
ولړزوي، نو خلک به د هغه له وېرې د غرونو په کټونو او غارونو کې ننوځي، ترڅو د څښتن د قهر څخه
وتښتي او د هغه د شان او شوکت نه پټ شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ په فاني انسانانو باندې نور توکل مه کوئ. د انسان نفس په پوزه کې دی او عمر یې ډېر لنډ دی.
انسان هېڅ دی.

## په اورشلیم او یهودا کې ګډوډي

۳ ۱ اوس څښتن، مطلق قادر څښتن به د اورشلیم او یهودا نه ټول شیان چې د خلکو ژوند ورسره تړلي
دي، واخلي. هغه به د خوړو او اوبو قحطي راولي. ۲ څښتن به د هغوی جنګیالیان او د هغوی عسکر، د
هغوی قاضیان او پیغمبران، د هغوی فال کتونکي او سپین ږیري، ۳ د هغوی نظامي او ملکي مشران، د
هغوی مشاوران، ماهر کسبګران او جادوګران، هم واخلي. ۴ څښتن به هلکان د هغوی مشران کړي او
ماشومان به په هغوی باندې حکومت وکړي. ۵ خلک به په یو بل باندې ظلم او زیاتی کوي. ځوانان به د
خپلو مشرانو سپکاوی کوي او سپک خلک به د شریفو خلکو عزت نه کوي.

۶ داسې وخت به راشي چې د یوې طایفې خلک به د خپل منځ نه یو کس خوښ کړي او هغه ته به
ووایي: «ته خو یوه چپنه لرې، راشه د دې کنډوالې مشر شه.»

۷ خو هغه به په ټینګه ځواب ورکړي: «نه! زه ستاسو سره مرسته نه شم کولای. زما سره نه خواړه شته او
نه چپنه. ما د خپل مشر په توګه مه ټاکئ!»

۸ هو، اورشلیم تباه کیږي! او یهودا سقوط کوي! هغوی چې هرڅه وایي او هرڅه کوي هغه د څښتن په
خلاف دي. هغوی د هغه د جلال په وړاندې سرکښي کوي. ۹ د هغوی د مخونو څخه د هغوی ملامتیا
ښکاره ده. هغوی د سدوم د خلکو په شان په ښکاره ګناه کوي. افسوس د هغوی په حال! ځکه هغوی په
خپله دا تباهي په خپل ځان باندې راوستې ده.

۱۰ نېکو خلکو ته ووایئ: «ستاسو هر کار به سم روان وي. تاسو به د خپل کار او زحمت ثمره ووینئ.»
۱۱ بدو خلکو ته ووایئ: «افسوس ستاسو په حال! ځکه ستاسو سره به د بدو کارونو په بدل کې عمل
وشي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ماشومان زما په قوم باندې ظلم کوي او ښځې په هغوی باندې حکومت کوي. ای زما قومه، ستاسو
مشران تاسو بې لارې کوي، نه غواړي چې تاسو په سمه لاره لاړ شئ.

## څښتن د خپل قوم په هکله قضاوت کوي

۱۳ څښتن دې ته تيار دی چې خپله محاکمه دايره کړي او د خلکو قضاوت وکړي. ۱۴ څښتن د خپل
قوم سپين ږيري او مشران د محاکمې دپاره راولي. هغوی ته وايي: «تاسو زما د انګورو باغ لوټ کړی دی او
د غريبانو څخه مو چې هرڅه وړي دي، د هغو څخه مو خپل کورونه ډک کړي دي. ۱۵ تاسو حق نه لرئ
چې زما قوم تر پښو لاندې کړئ او د غريبانو سرونه په ځمکه ووهئ. زه مطلق قادر څښتن خدای داسې
وايم.»

## د اورشليم ښځو ته خبرداری

۱۶ څښتن وويل: «وګورئ، د اورشليم ښځې څومره مغرورې دي! هغوی هسکې غاړې نيولې او روانې دي.
هغوی د شهوت په سترګو هرې خواته ګوري. په ناز او نخرو باندې قدمونه اخلي او خپل پايزيبونه شرنګوي.
۱۷ خو زه به هغوی ته سزا ورکړم - د هغوی سرونه به وخرايم او هغوی به بې پردې او رسوا کړم.»

۱۸ داسې ورځ راورانه ده چې څښتن به د اورشليم د ښځو څخه هغه ټول شيان چې هغوی ورباندې
مغروره دي، اخلي، يعنې: د هغوی پايزيبونه، د سر ټيک، د نوې مياشتې د سپوږمۍ په شان غاړکۍ، ۱۹
غوږوالۍ، بنګړي او نقابونه، ۲۰ ټيکري، بازوبندونه، کمربندونه، د عطرو بوتلونه او تعويذونه، ۲۱ ګوتې
او پيزوانونه، ۲۲ ښکلې چپنې، بې لستوڼو چپنې، شالونه، لاسي بکسونه، ۲۳ آئينې، د کتان کالي، تاجونه
او څادرونه.

۲۴ د عطرو په ځای به د هغوی نه بد بوی خېژي، د ښايسته کمربندونو په ځای به هغوی زيږه پړي له
ځانه راتاو کړي وي، د ښايسته ويښتانو په ځای به هغوی ګنجيانې وي، د ښکلو جامو په ځای به هغوی
بدرنګې جامې اغوستې وي، د هغوی ښايست به د شرم په داغ بدل شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ د ښار سړي به په توره او ستاسو تکړه سړي به د جګړې په ډګر کې ووژل شي. ۲۶ د ښار د دروازو
څخه به د ژړا او وير اوازونه اورېدل کيږي او خپله ښار به په ماتم کې ويجاړيږي.

۴ ۱ کله چې هغه ورځ راشي، نو اووه ښځې به د يو سړي لمن ونيسي او ورته به ووايي: «مونږ په خپله د
خپلو ځانونو دپاره خوراک او کالي تيارو‌و، يوازې غواړو چې ته زمونږ مېړه اوسې، ترڅو له دې شرمه وژغورل
شو چې مونږ واده شوې نه يو.»

## اورشليم به بيا ودان شي

۲ هغه ورځ راتلونکې ده چې څښتن به د دې وطن هر بوټی او ونه لويه او ښايسته کړي او هغه حاصلات
چې ځمکه يې ورکوي هغه به د هغو ټولو اسراييليانو دپاره چې ژوندي پاتې کيږي، د وياړ او عزت سبب شي.
۳ هغه خلک چې په صهيون کې پاتې شوي دي او ليکل شوي دي چې په اورشليم کې به ژوندي واوسي،
نو هغوی به سپېڅلي وګڼل شي. ۴ له دې نه مخکې به څښتن د اسراييلو د قوم په هکله قضاوت وکړي
او هغه به پاک کړي او د اورشليم ګناهونه او هغه وينه چې هلته توی شوې ده، هغه به ووينځي. ۵ بيا
به څښتن د صهيون په غره باندې او په هغو ټولو خلکو باندې چې په هغه ځای کې راټوليږي، د ورځې له خوا
وريځ او د شپې له خوا به ورباندې لوګی او د اور ځلېدونکې لمبې نازلې کړي. دا به د دې جلالي ځای دپاره
يو پوښ وي. ۶ د هغه جلال به په ښار باندې د جونګړې په شان سيوری جوړ کړي چې د ورځې له ګرمۍ
نه او همدارنګه د توفان او باران څخه يې خوندي وساتي او د هغه څخه به د امن ځای جوړ کړي.

## د انګورو د باغ سندره

۵ ۱ ونيسئ غوږ کله چې دا سندره وايمه زه

ده دا سندره زما د دوست په خاطر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده دا سندره د هغه د انګور باغ په هکله

زما د دوست ؤ د انګورو یو باغ

په حاصلخېزه غونډۍ پروت ؤ دا باغ

٢ ځمکه يې وکینډله پاکه يې له تیږو کړله

په کې تاکونه د انګورو يې ډېر ښه وکرل

په هغه کې يې کړ جوړ برج د پهرو

په کې يې جوړ کړ د انګورو خم

بیا يې وکړ انتظار د انګور د پخېدلو

خو ټول انګور لا هم تروه وو

٣ نو اوس زما دوست وايي: «ای د اورشلیم او یهودا اوسېدونکو، زما او زما د انګورو د باغ په منځ کې
قضاوت وکړئ. ٤ ایا داسې کوم کار ؤ چې ما د دې باغ دپاره نه وي کړی؟ نو بیا ولې دا تروه انګور
خواږه نه شول او نه داسې ښه انګور چې ورته په تمه ومه؟ ٥ زه به اوس درته ووایم چې د خپل د انګورو
له باغ سره څه وکړم. زه به هغه د اغزیو کټارې چې ګردچاپېره ورڅخه تاو شوې دي، لېرې کړم، دېوالونه به
يې راچپه کړم. هغه به همداسې پرېږدم چې هغه تر پښو لاندې شي. ٦ هغه به پرېږدم چې هرزه بوټي
په کې راشنه شي. زه به د انګورو تاکونه اصلاح نه کړم او نه به يې په ځمکه کې رمبی ووهم، هغه به پرېږدم
چې له اغزیو او کرکڼو ډک شي. زه به ورېځو ته حکم وکړم چې باران ورباندې ونه وروي.»

٧ د انګورو باغ دی قوم د اسراییلو د مطلق قادر څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یهودا خلک یې تاکونه د انګورو

چې څښتن ایښي وو په ډېره خوشحالۍ خپل باغ کې

څښتن لرله د انصاف تمه ترې

خو د دې په ځای هغوی قتلونه وکړل

هغه لرله د نېکۍ تمه ترې

خو د دې په ځای د عدالت دپاره

پورته شو فریاد د مظلومانو خلکو

## د یهودا د خلکو بد عملونه

٨ افسوس ستاسو په حال! تاسو نور کورونه او پټي اخلئ چې جایداد مو زیات شي، ترڅو چې نور ځوک
دلته پاتې نه شي او یوازې تاسو په دې هېواد کې واوسېږئ. ٩ ما اورېدلي چې مطلق قادر څښتن وایي:
«په رښتیا د دې غټو او ښکلو کورونو نه به کنډوالې جوړې شي او نور به ځوک په کې نه اوسیږي. ١٠ لس
جریبه ځمکه چې د انګورو تاکونه په کې ایښودل شوي وي هغه به یوازې یوه چاټۍ شراب ورکړي. لس منه
تخم به یوازې یو من حاصل ورکړي.»

١١ افسوس ستاسو په حال! تاسو سهار وختي پاڅېږئ، د شرابو په څښلو پیل کوئ او د شپې تر ناوخته
نشه پراته یئ. ١٢ تاسو په محفلونو کې ربابونه، چنګونه، چمبې او شپیلۍ وهئ او شراب څښئ، خو تاسو
د څښتن کارونو ته پام نه کوئ او نه پوهېږئ چې هغه څه کوي. ١٣ نو ځکه تاسو زما قوم به د ناپوهۍ په
وجه پردیو هېوادونو ته د اسیرانو په توګه یووړل شئ. ستاسو عزتمن به د لوږې او عام خلک به مو له تندې
مړه شي. ١٤ نو د مړو دنیا په ډېرې اشتها سره خپله خوله خلاصه نیولې ده چې د اورشلیم عزتمن، عادي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مست او شور جوړوونکي خلک ژوندي تېر کړي. ۱۵ هغوی به ټول ټيټ شي او وبه شرمېږي. مغرور خلک
به خوار او ذليل شي، ۱۶ خو مطلق قادر څښتن خپله لويي د قضاوت په کولو سره څرګندوي. خدای خپل
سپېڅلتوب د نېکو کارونو په کولو سره ښکاره کوي. ۱۷ د ښار په کنډوالو کې به وري واښه خوري او
سېرلي به په کې د ځان دپاره څړځايونه پيدا کوي.

۱۸ افسوس ستاسو په حال، چې د دروغو په مزو مو خپل ګناهونه تړلي دي، لکه څوک چې د غويانو د
ګاډۍ په شان خپله بد عملي ځان پسې راکاږي. ۱۹ تاسو وايئ: «پرېږده څښتن چې څه غواړي هغه زر تر
زره وکړي، ترڅو مونږ وکولای شو هغه وګورو. پرېږده چې د اسراييلو سپېڅلی خدای خپلې نقشې عملي
کړي او راځئ وګورو چې د هغه اراده څه ده.»

۲۰ افسوس ستاسو په حال! تاسو بدو ته ښه او ښو ته بد، تيارې ته رڼا او رڼا ته تياره، تريخ ته خوږ او خوږ
ته تريخ وايئ.

۲۱ افسوس ستاسو په حال! تاسو په خپلو سترګو ځان هوښيار ګڼئ او په خپل نظر ځان ځيرک بولئ.

۲۲ افسوس ستاسو په حال! تاسو د شرابو د څښلو ماهران يئ! تاسو د شرابو په ګډولو کې تکړه يئ! ۲۳
تاسو د رشوت په اخيستلو سره يو مجرم ازادوئ او نه پرېږدئ چې د يو بې ګناه کس سره انصاف وشي.

۲۴ نو لکه څنګه چې په اور کې بوس او وچ واښه مړاوي کيږي او سوځيږي، نو ستاسو ريښې به ورستې،
ستاسو غوټۍ به وچې شي او باد به يې لېرې يوسي. ځکه چې تاسو د مطلق قادر څښتن شريعت رد کړی او
د اسراييلو د سپېڅلي خدای لارښوونو ته مو په سپکه سترګه کتلي دي. ۲۵ نو ځکه څښتن په خپل قوم
باندې په قهر دی او خپل لاس يې را اوچت کړی دی چې هغوی ته سزا ورکړي. غرونه به ولړزيږي او د مړو
بدنونه به په کوڅو کې لکه د خزلو او چټليو په شان پراته وي. خو بیاهم د څښتن قهر لا نه دی سوړ شوی، د
هغه لاس لا تر اوسه د سزا ورکولو دپاره اوچت دی.

۲۶ څښتن هغو قومونو ته چې لېرې پراته دي اشاره ورکوي او هغوی راغواړي. هغوی ته شپېلۍ وهي چې
د نړۍ له بل سره راشي. ګورئ! هغوی په منډه منډه راځي. ۲۷ د هغوی نه هېڅوک هم نه ستړی کيږي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېڅوک نه ښويېږي. هغوی ته هېڅکله خوب نه ورځي او نه ويده کېږي. د هغوی کمربند نه سستېږي او د هغوی د څپليو تسمې نه شلېږي. ۲۸ د هغوی غشي تېره دي او ليندې يې د ويشتلو دپاره تيارې دي. د هغوی د اسونو سومان لکه د تيږې په شان کلک دي او د هغوی د جنګي ګاډيو ارابې لکه د بوړبوړکۍ په شان تاوېږي. ۲۹ عسکر د ځوانو زمريانو په شان غړمبېږي، غريږي او ښکار رانيسي او داسې ځای ته يې وړي چې هېڅوک يې ترې نه شي خلاصولی. ۳۰ کله چې هغه ورځ راورسېږي، هغوی به په خپل ښکار باندې وغريږي او اواز به يې لکه د بحيرې د څپو په شان وي. ګورئ! ټول هېواد به تياره وي، خلک به په تکليف کې وي او رڼا به د ټينګو ورېځو تر شا وي.

## څښتن اشعيا ته د پيغمبرۍ بلنه ورکوي

٦ ۱ په کوم کال چې عزيا پاچا مړ شو، ما څښتن وليد چې هغه په ډېر لوړ تخت باندې ناست ؤ. ټول د عبادت ځای د هغه د چپنې په لمن باندې ډک شوی ؤ. ۲ د هغه دپاسه الوتونکي اسماني موجودات ولاړ وو او هر يو يې شپږ شپږ وزرونه لرل. په دوه وزرو باندې يې خپل مخونه پټ کړي وو، په دوه وزرونو يې خپل بدن پټ کړی ؤ او له دوه وزرونو څخه يې د الوتلو دپاره کار اخيست. ۳ هغوی په وار سره دا ويل او يو بل ته به يې غږ کاوه:

«سپېڅلی، سپېڅلی!

سپېڅلی دی مطلق قادر څښتن!

ډکه ده نړۍ ټوله د هغه د جلال نه»

۴ د هغوی د اوازونو د شور له لاسه د عبادت د ځای بنياد ولړزېد او د عبادت ځای د لوګي څخه ډک شو.

۵ ما وويل: «افسوس زما په حال! زما دپاره نوره کومه هيله نشته، ځکه زما د ژبې نه چې هر ټکی راوځي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه له ګناه نه ډک دی او زه د داسې خلکو په منځ کې اوسېږم چې د هغوی هره خبره له ګناه ډکه ده. خو ما په خپلو سترګو پاچا يعنې مطلق قادر څښتن ليدلی دی.»

۶ بيا يو اسماني موجود د قربانۍ له ځايه د پلټې پاکوونکو په وسيله يوه سره سکروټه راواخيستله او زما خواته راوالوت. ۷ هغه په سرې سکروټې زما شونډې لمس کړې او ويې ويل: «وګوره، دا سکروټه ستا په شونډو باندې لګېدلې ده او اوس ستا ګناه پاکه او جرم دې بخښل شوی دی.»

۸ بيا مې د څښتن اواز واورېد چې پوښتنه کوي: «څوک ولېږم؟ څوک دې ته تيار دی چې زمونږ پيغام خلکو ته ورسوي؟» ما ورته په ځواب کې وويل: «زه حاضر يم! ما ولېږه!»

۹ نو څښتن ماته وويل: «لاړ شه او دې خلکو ته دا پيغام ورسوه: ‹تاسو که هرڅومره واورئ، پوه به نه شئ. که هرڅومره وګورئ، ليدلی به يې نه شئ.› ۱۰ د دې خلکو زړونه سخت کړه، د هغوی غوږونه کاڼه کړه او سترګې يې ړندې کړه چې ونه ويني، غوږونه يې وانه وري او په زړونو کې پوه نه شي. که چېرې هغوی داسې وکړل، نو کېدای شي چې ماته راوګرځي او شفا ومومي.»

۱۱ ما پوښتنه وکړه: «ای څښتنه، ترڅو پورې به داسې وي؟» هغه ځواب راکړ: «تر هغې پورې چې ښارونه وران، کورونه خالي او ځمکه شاړه او ويجاړه شي. ۱۲ زه به هغه خلک لېرې ولېږم او ټول وطن به وران او ويجاړ کړم. ۱۳ حتی که په هغه وطن کې د لسو کسانو څخه يو پاتې شي، نو هغه به هم له منځه لاړ شي. هغه به د څېړۍ د ونو په شان وي چې پرې کيږي او تنه يې پاتې کيږي.»

بيا د دې تنې څخه سپېڅلی قوم راپيدا کيږي.

## د آحاز پاچا دپاره پيغام

**۷** ۱ کله چې احاز د يوتام زوی او د عزيا لمسی د يهودا پاچا ؤ، د سوريې پاچا رزين او د اسراييلو پاچا د رمليا زوی فقح په اورشليم باندې حمله وکړه، خو ويې نه شو کولای چې هغه فتح کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ کله چې دا خبر د داود اولادې یعنې د یهودا پاچا، احاز ته ورسېده چې د سورېې لښکرې د اسراییلو
سره یوځای شوې، د پاچا او د هغه د خلکو زړونه داسې رپېدل لکه ونې چې په باد کې رپېږي.

٣ څښتن اشعیا ته وویل: «د خپل زوی شاریاشوب سره لاړ شه او له آحاز پاچا سره وګوره. تاسو به هغه د
پاسني ډنډ د لښتي په سر چې د کالیو وینځونکو د پټي په لاره کې پرته ده، پیدا کړئ. ٤ احاز ته ووایه
چې پام وکړي، ارام اوسي او د هغو دواړو پاچاهانو یعنې د رزین او د هغه د سوریایي لښکرو او د رملیا د
زوی له نقشو څخه ونه وېرېږي او زړونه ونه بایلي. د هغوی قهر یوازې د هغو دوو ټوټو لرګیو د لوګي په شان
دی چې د هغه څخه راپورته کیږي. ٥ سورېې د اسراییلو او د رملیا د زوی سره یوځای ستا په وړاندې
دسیسه جوړه کړې ده. ٦ هغوی نیت لري چې په یهودا باندې حمله وکړي، خلک ووېروي، هغه فتح
کړي او بیا د تبییل زوی په تخت باندې کښېنوي.

٧ خو زه څښتن تعالی دا وایم چې داسې به هېڅکله ونه شي. ٨ ولې؟ ځکه چې رزین پاچا کمزوری
دی، دمشق چې د سورېې پایتخت دی قوي نه دی، نو ښکاره ده چې سوریه کمزورې ده. خو د اسراییل په
اړه باید وویل شي چې هغه به په پنځه شپېتو کالو کې ټوټې ټوټې شي او هغه به د یو قوم په شان پاتې نه
شي. ٩ همدارنګه د رملیا زوی کمزوری دی، سامره چې د اسراییلو پایتخت دی، قوي نه دی او ښکاره
ده چې اسراییل کمزوری دی. که چېرې ستاسو ایمان ټینګ نه وي، نو په رښتیا به تاسو هم ټینګ پاتې نه
شئ.»

## د عمانوییل نښه

١٠ څښتن احاز ته یو بل پیغام ورولېږه: ١١ «د خپل څښتن خدای څخه وغواړه چې یوه نښه د ثبوت په
توګه درکړي. داسې شیان وغواړه چې هغه د مړو د دنیا په ژور ځای کې یا پورته په اسمان کې وي.»

١٢ احاز په ځواب کې وویل: «زه نښې ته اړتیا نه لرم او زه نه غواړم چې څښتن وازمایم.» ١٣ اشعیا
وویل: «ای د داود د پاچا اولادې، اوس غوږ ونیسئ. ایا دا ستاسو دپاره کافي نه وه چې خلک مو بې حوصلې
کړل؟ او اوس غواړئ چې زما خدای هم بې حوصلې کړئ؟ ١٤ نو ښه ده، څښتن به خپله تاسو ته یوه نښه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دروښايي او هغه دا ده: پېغله به اميدواره شي، هغه به يو زوی وزېږوي او په هغه باندې به عمانوييل نوم
کېږدي، چې معنی يې ده: ‹خدای زمونږ سره مل دی.› ۱۵ - ۱۶ مخکې له دې چې هغه ماشوم ښه او بد
وپېژني، هغه به مستې او شات وخوري، ځکه چې د هغو دوو پاچاهانو هېوادونه به چې تاسو ورڅخه وېرېږئ
وران او ويجاړ شي.

۱۷ خو څښتن به په تا، ستا په خلکو او په ټوله شاهي کورنۍ باندې سختې ورځې راولي. له هغه وخت
راهيسې چې د اسراييلو پاچاهي د يهودا څخه بېله شوې وه تر نن ورځې داسې سختې ورځې نه دي راغلې.
هغه به د اشور پاچا راولي.»

۱۸ کله چې هغه ورځ راشي، نو څښتن به شپېلۍ ووهي او مصريان به د مچانو په شان د نيل د سيند د
لېرې ويالو څخه راشي او اشوريان به لکه د مچيو په شان د خپل وطن څخه راشي. ۱۹ هغوی به په ژورو
واديو او د ګټانو په درزونو کې ډلې ډلې راشي او د اغزيو په بوټو او په ټولو څړځايونو کې به ځای په ځای
شي.

۲۰ کله چې هغه ورځ راشي، څښتن به د فرات د سيند له بلې غاړې څخه د اشور امپراتور د نايي په توګه
اجير ونيسي او هغه به ستاسو د سرونو، ږيرو او د بدن نور ويښتان وخرايي.

۲۱ په هغه ورځ به هېڅوک د يوې ځوانې غوا او دوو مېږو يا وزو څخه زيات ونه لري. ۲۲ هغه به دومره
شيدې ورکړي چې هغوی مستې وخوړلی شي. هو، يو څو کسان چې په وطن کې ژوندي پاتې دي هغوی به د
خوراک دپاره مستې او شات ولري.

۲۳ کله چې هغه ورځ راشي، د انګورو ډېر ښه باغونه چې په هر يو کې به زر تاکونه وي او هر يو باغ به د
يو زر سپينو زرو ټوټو بيه ولري، دا باغونه به له اغزيو او کرکنو ډک شي. ۲۴ خلک به هلته د ليندو او
غشو سره د ښکار دپاره ورځي، ځکه ټول وطن به د اغزيو او کرکنو څخه ډک شي. ۲۵ ټولې کرنيزې
غونډۍ به له اغزيو او کرکنو څخه داسې ډکې شي چې خلک به هلته نه ځي. له هغه نه به داسې ځای جوړ
شي چې غويان او پسونه به په کې څرېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اشعیا زوی د خلکو دپاره یوه نښه

۸ ۱ ښښتن ماته وویل: «یوه لویه تخته راواخله او په هغې باندې په غټو ټکو ولیکه: ‹مهیر شلال حاش
بز.› یعنې مال به زر لوټ شي او شتمني به په چټکۍ سره په غنیمت ونیول شي.» ۲ ما دوه اعتباري
کسان چې یو یې اوریا کاهن او بل یې زکریا د یبرکیا زوی دی، راوغوښتل چې شاهدان اوسي.

۳ څه موده وروسته زما پیغمبره ښځه امیدواره شوه او زوی یې پیدا شو. ښښتن ماته وویل: «په هغه
باندې د ‹مال به زر لوټ شي او شتمني به په چټکۍ سره په غنیمت ونیول شي› نوم کېږده. ۴ مخکې
له دې چې ماشوم وکولای شي ‹مور› او ‹پلار› ووایي، د اشور امپراتور به د دمشق ټوله شتمني او د سامرې
ټول غنیمت له ځان سره یوسي.»

## د اشور د امپراتور راتګ

۵ ښښتن یوځل بیا ماته وویل: ۶ «په دې خاطر چې د یهودا خلکو د شیلوخ د ویالې هغه اوبه چې په
ارامۍ سره جاري دي بې ارزښته وګڼلې او د رزین او د فقح پاچاهانو سره خوشحاله دي، ۷ نو ځکه زه
ښښتن به د اشور امپراتور او د هغه ټولې لښکرې راولم چې په یهودا باندې حمله وکړي. هغوی به د فرات د
سیند د سیلاب په شان چې اوبه یې د غاړو نه اووښتې وي، حمله وکړي. ۸ هغوی به د سیلاب په شان
له یهودا نه تېر شي، لکه د سیند په شان به له ځنډو نه واوړي او خلک به تر ستوني پورې پټ کړي.»

خو خدای زمونږ سره مل دی او لکه د مرغۍ په شان به په خپلو خپرو وزرونو هغه وطن وساتي.

۹ ای قومونو، یوځای راغونډ شئ او وویرېږئ! ای لېرې هېوادونو، د جګړې دپاره تیار شئ خو تاسو به
ټوټې ټوټې شئ! ۱۰ خپلې نقشې جوړې کړئ! خو هغه به هېڅکله بریالي نه شي. خومره خبرې چې غواړئ
ویې کړئ! خو هغه ټولې به بې ګټې وي، ځکه چې خدای زمونږ سره مل دی.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ښښتن خبرداری پیغمبر ته

۱۱ خدای زه ټینګ ونیولم او ماته یې خبرداری راکړ چې په هغې لارې باندې به نه ځې په کومه چې دغه
خلک ځي، هغه وویل: ۱۲ «هره خبره دسیسه مه ګڼئ څرنګه چې دغه خلک فکر کوي او له هغو شیانو
چې هغوی وېرېږي تاسو مه وېرېږئ. ۱۳ باید پوه شئ چې زه مطلق قادر ښښتن، سپېڅلی یم. تاسو زما
درناوی وکړئ او زما نه ووېرېږئ. ۱۴ ښښتن به ستاسو دپاره یو پناه ځای وي. هغه به د اسراییلو او د
یهودا دپاره د یوې داسې تیږې په شان وي چې خلک ورباندې راغورځېږي، لکه ګټ چې ورباندې رالوېږي.
هغه به د اورشلیم د خلکو د راګېرېدلو دپاره یو دام وي. ۱۵ ډېر به ورباندې راوغورځېږي، هغوی به
راولوېږي او ټوټې ټوټې به شي. هغوی به په دام کې راګېر شي.»

## اشعیا او د هغه ماشومان د نښو په توګه

۱۶ هغه تعلیم چې خدای ماته راکړی دی، هغه په یو طومار کې ولیکل شي او بیا به وتړل شي او مهر به
شي، وروسته به زما شاګردانو ته ورکړل شي. ۱۷ ښښتن خپل ځان د یعقوب د قوم څخه پټ کړی دی، خو
زه به په صبر سره هغه ته انتظار وباسم او هغه ته هیله من یم. ۱۸ ګورئ زه د خپلو اولادونو سره چې
ښښتن ماته راکړي دي، مطلق قادر ښښتن چې تخت یې د صهیون په غره باندې دی، هغه مونږ د نښو او
خبرداریو په توګه د اسراییلو خلکو ته رالېږلي یو.

۱۹ خو خلک به تاسو ته ووایي چې د فال کتونکو او جادوګرانو سره چې چوف چوف کوي مشوره او
پوښتنه وکړئ. هغوی به وایي: «ایا خلک د خپلو خدایانو سره مشوره نه کوي؟ خلک باید د ارواح ګانو څخه
د ژوندیو دپاره مشوره او لارښوونه وغواړي.» ۲۰ د ښښتن تعلیم او حکمونو ته پام وکړئ! که د دې کلام
له مخې خبرې ونه کړي، نو د هغوی دپاره د سهار رڼا نشته.

## د وارخطایۍ وخت

۲۱ په ټول وطن کې به خلک ډېر ناامیده، وږي او سرګردانه ګرځي. له لوږې او غوسې به خپل پاچا او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای ته شکنځلې کوي. هغوی به اسمان ته ګوري، ۲۲ یا به ځمکې ته ګوري، خو پرته له تکلیفه او تورې
تیارې څخه به بل هېڅ نهویني او په تکه توره تیاره کې به وغورځول شي.

## راتلونکی پاچا

۹ ۱ خو هغه خلک چې په کړاو کې دي، دا تیاره د تل دپاره نه پاتې کیږي. پخوا څښتن د زبولون او
نفتالي سیمې سپکې او رسوا کړې، خو په راتلونکې کې به دا سیمې د مدیترانې له بحیرې نیولې د اردن د
سیند تر بلې غاړې او حتی جلیل پورې چې پردي قومونه په کې اوسیږي د شان او شوکت خاوند کړي.

۲ هغه خلک چې تیارو کې ګرځېدل

هغوی ولیده یوه لویه رڼا

چې اوسېدل توره تیاره ځمکه کې هغه خلک

په هغو خلکو اوس رڼا ځلیږي.

۳ ای څښتنه، تا لوی کړی دی دا قوم

وربخښلې خوشحالي ده تا دې قوم ته

تا چې څه کړي دي هغوی پرې خوشحالي کوي

لکه کړي خلک خوشحالي چې د فصلونو د رېبلو وخت کې

یا کله خلک چې وېشي د غنیمت مالونه

۴ د خوشحالۍ دلیل یې دا ؤ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تا مات کړلو د دوی د اوږو جغ

تا کړله هغه لښته ماته چې وهلې يې اوږې له هغو

تا ورکړه ماته هغه قوم ته

چې کاوه ظلم يې د ستا په خلکو

لکه لښکر د مديانيانو چې مات کړی ؤ تا

۵ ښورويي چې بوټان ځمکه د لښکرو يرغلګرو

او چې کالي يې دي ککړ په وينو

هغه ټول به شي خاشاک د سوځېدو د اور دپاره

۶ زېږېدلی زمونږ دپاره يو ماشوم دی

مونږ ته يو زوی دی راکړل شوی

وي به بار د حکومت د هغه په اوږو

هغه يادېږي به په دې نومونو:

«عجيب مشاور»، «قادر خدای»

«ابدي پلار» او «د سولې شاهزاده»

۷ هغه به کښېني د داود په تخت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واک او قدرت د پاچاهۍ به يې د وخت په تېرېدو زياتيږي

پاچاهي به د هغه وي تل په امن

بنياد به ټينګ د پاچاهۍ وي د هغه په عدالت او انصاف

له همدا اوس نه تر ابده پورې

مطلق قادر څښتن به وکړي دا کار په خپل غيرت باندې

## اسراييلو ته د څښتن سزا

۸ څښتن د اسراييلو قوم يعنې د يعقوب اولادې ته خبرداری ورکړ چې هغوی ته به سزا ورکړل شي. ۹
هغه ټول اسراييليان او هغه ټول خلک چې د سامرې په ښار کې اوسيږي، هغوی به پوه شي چې دا کار هغه
کړی دی، خو هغوی مغرور او کبرجن دي. هغوی وايي: ۱۰ «د خښتو ودانۍ راغورځېدلې دي، خو مونږ
به د هغو په ځای له توږل شويو تيږو ودانۍ جوړې کړو. د انځرو د لرګيو کوم تيران چې مات شوي دي د
هغو په ځای به د سبر د لرګيو تيران جوړ کړو.» ۱۱ په دې خاطر څښتن به د رزين دښمنان راوپاروي چې
په اسراييلو باندې حمله وکړي. ۱۲ سوريې له ختيځې خوا او فلسطين له لوېديځې خوا خپلې خولې
خلاصې نيولې چې اسراييل ژوندي تېر کړي. خو بياهم د څښتن قهر لا نه دی سوړ شوی او د هغه لاس لا
تر اوسه د سزا ورکولو دپاره اوچت دی.

۱۳ که څه هم مطلق قادر څښتن د اسراييلو خلک وهلي دي، خو هغوی لا هم توبه نه ده ويستلې او هغه
ته يې بېرته رجوع نه ده کړې. ۱۴ په دې خاطر به څښتن په يوه ورځ کې د اسراييلو مشرانو او خلکو ته
سزا ورکړي يعنې د هغوی سرونه او لکۍ به پرې کړي. د خرما څانګې چې د عزت نښه ده او لوخې چې د
عاجزۍ نښه ده، دواړه به پرې کړي. ۱۵ سپين ږيري او عزتمن خلک سر او هغه پيغمبران چې د دروغو
تعليم ورکوي، هغه لکۍ دي. ۱۶ د دې خلکو لارښوونکي هغوی بې لارې کړي دي او د تباهۍ خواته يې
بيولي دي. ۱۷ نو څښتن به په ځوانانو، حتی په يتيمانو او کونډو باندې هم رحم ونه کړي، ځکه چې ټول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک بې ایمانه او بدکاره شوي دي او هغوی چې هرڅه وايي هغه احمقانه دي. خو بیاهم د څښتن قهر لا نه
دی سوړ شوی، د هغه لاس لا تر اوسه د سزا ورکولو دپاره اوچت دی.

۱۸ د خلکو بده کړنه د هغه اور په شان بلیږي چې اغزي او کرکڼې له منځه وړي. هغه د ځنګل د اور په
شان ده چې لوګی یې هوا ته پورته کیږي. ۱۹ ځکه چې مطلق قادر څښتن په قهر دی، د هغه سزا د هغه
اور په شان ده چې ټول وطن سوځوي او خلک تباه کوي او څوک په خپل ورور باندې زړه نه سوځوي. ۲۰
خلک د خوړلو دپاره هرڅه په لاس راوړي، خو وږي پاتې کیږي او نه مړیږي. د ډېرې لوږې له امله حتی
هغوی خپل ماشومان هم خوري. ۲۱ د منسي او افرایم خلک په یو بل باندې حمله کوي او بیا دواړه
یوځای کیږي او په ګډه په یهودا باندې حمله کوي. خو بیاهم د څښتن قهر لا نه دی سوړ شوی، د هغه لاس
لا تر اوسه پورې د سزا ورکولو دپاره اوچت دی.

۱۰ ۱ افسوس ستاسو په حال! تاسو د بې عدالتۍ قوانین جوړوئ او لیکل شوې پرېکړې مو د ظلم په
بنیاد ولاړې دي. ۲ په دې ډول تاسو نه پرېږدئ چې بې وزلي خپل حقونه تر لاسه کړي او د هغوی سره
انصاف او عدالت وشي. په دې ډول تاسو د کونډو او یتیمانو شتمني لوټوئ. ۳ نو تاسو به د سزا په ورځ
څه کوئ؟ کله چې خدای د کوم لېرې وطن نه په تاسو باندې مصیبت راولي، نو تاسو به څه کوئ؟ تاسو به
د مرستې په خاطر چېرته منډې وهئ؟ خپله شتمني به چېرته پټوئ؟ ۴ تاسو یا په جګړه کې وژل کېږئ،
او یا تاسو اسیر نیول کېږئ. خو بیاهم د څښتن قهر لا نه دی سوړ شوی، د هغه لاس لا تر اوسه د سزا
ورکولو دپاره اوچت دی.

## د اشور پاچا د خدای د لاس وسیله

۵ څښتن وویل: «افسوس ستا په حال ای اشوره! زه ستا نه د یو لرګي په توګه کار اخلم چې په تا هغو
خلکو ته سزا ورکړم چې زه ورباندې په قهر یم. ۶ زه اشوریان لېږم چې په هغه بې ایمانه قوم باندې چې
زه یې په قهر کړی یم، حمله وکړي. زه اشوریان لېږم چې د هغوی مالونه لوټ کړي او په غنیمت یې ونیسي،
په خپله دوی لکه د کوڅو د خاورو په شان تر پښو لاندې کړي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ خو د اشور د پاچا په زړه کې د تاو تریخوالي نورې نقشې دي. هغه غواړي چې ډېر قومونه له منځه
یوسي. ۸ هغه وايي: «زما هر يو قوماندان پاچا دی! ۹ ما د کرکمیش، کلنو او همدارنګه د ارفاد او
حمات ښارونه فتح کړي دي. دمشق او سامره مې هم فتح کړي دي. ۱۰ ما خپل لاس د هغو پاچاهیو د
فتح کولو دپاره اوچت کړی چې د بتانو عبادت کوي. هغه پاچاهیو د اورشلیم او سامرې څخه زيات بتان
درلودل. ۱۱ ما سامره او د هغې ټول بتان له منځه یووړل، خو زه به اورشلیم او د هغه مجسمې چې
عبادت ورته کيږي، هم له منځه یوسم.»

۱۲ کله چې څښتن خپل کارونه د صهیون په غره او اورشلیم کې پای ته ورسوي، نو هغه وخت به د اشور
پاچا ته د هغه د ټولو لافو او ټول غرور په خاطر سزا ورکړي.

۱۳ د اشور پاچا لاپې وهي او وايي: «زه د خپلو متو په زور، پوهې او حکمت سره په جګړو کې بریالی شوم.
د هېوادونو ترمنځ مې سرحدونه له منځه یووړل او د هغوی خزانې مې لوټ کړې. لکه د قوي غويي په شان
مې د هغو ځایونو پاچاهان د تختونو څخه وغورځول. ۱۴ د نړۍ هېوادونه زما دپاره د مرغۍ د ځالې په
شان وو. ما د هغوی خزانې داسې په اسانۍ سره خالي کړې لکه څوک چې د ځالې نه پاتې شوې هګۍ
راټولوي. نه یو وزر ورپېده چې ما ووېروي او نه کومه مښوکه خلاصه شوه چې په ما باندې وچوغيږي.»

۱۵ خو څښتن وايي: «ايا تبر دا دعوه کولای شي چې دی د هغه سړي څخه چې ورڅخه کار اخلي ډېر
لوی دی؟ ايا اره د اره کوونکي نه مهمه ده؟ انسان لرګی راپورته کوي، نه لرګی انسان.» ۱۶ نو مطلق قادر
څښتن به يو وژونکی مرض راولېږي چې د اشور جنګيالیو ته، چې تکړه دي، سزا ورکړي. د هغوی لويي او
شتمني به د اور لمبې وسوځوي. ۱۷ د اسراییلو رڼا به په سوځوونکي اور بدله شي. د اسراییلو د سپېڅلي
خدای د غوسې لمبې به په یوه ورځ د اشوریانو هرڅه لکه د اغزيو او کرکڼو په شان وسوځوي. ۱۸ شنه
شنه ځنګلونه او حاصلخېزې ځمکې به داسې بیخي له منځه لاړې شي لکه څنګه چې یوه وژونکې ناروغي
انسان له منځه وړي. ۱۹ په ځنګلونو کې به دومره لږې ونې پاتې شي چې حتی يو ماشوم به هم وکولای
شي چې هغه وشمېري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراييلو ژوندي پاتې شوي خلک

۲۰ داسې ورځ راروانه ده چې د اسراييلو هغه خلک چې ژوندي پاتې شوي دي، يعنې د يعقوب اولاده چې
ژغورل شوې ده، هغوی به نور په هغه هېواد باندې چې په دوی يې ظلم کړی دی، تکيه ونه کړي. هغوی به
يوازې په څښتن يعنې د اسراييلو په سپېڅلي خدای باندې تکيه کوي. ۲۱ د يعقوب پاتې شوې اولاده به
مطلق خدای ته رجوع وکړي. ۲۲ که څه هم اسراييليان اوس د بحيرې د شګو په شان زيات دي خو يوه
کوچنۍ پاتې شوې برخه به راستنه شي. په دې خلکو باندې د تباهي پرېکړه شوې ده او هغوی د دې لايق
دي. ۲۳ هو، لکه څنګه چې مطلق قادر څښتن خدای پرېکړه کړې ده، هغه به ټول هېواد له منځه يوسي.

## اشوريانو ته د څښتن سزا

۲۴ مطلق قادر څښتن خدای داسې وايي: «ای زما قومه چې په صهيون کې اوسېږئ، له اشوريانو مه
وېرېږئ، که څه هم هغوی په تاسو باندې داسې ظلم کوي لکه څنګه چې مصريانو درسره کاوه. ۲۵ ځکه
زما قهر به ډېر لږ وخت وروسته پای ته ورسيږي او بيا به زه اشوريانو ته په قهر شم او هغوی به له منځه
يوسم. ۲۶ زه مطلق قادر څښتن به هغوی په خپله قمچينه داسې ووهم لکه څنګه مې چې د مديان خلک د
غراب د ګټې تر څنګ وهلي وو. زه به اشوريانو ته هغه شان سزا ورکړم لکه څنګه چې مې د مصريانو لښکر
په بحيره کې ډوب کړی ؤ. ۲۷ کله چې هغه ورځ راشي، نو د اشوريانو پېټی به ستاسو له اوږو او د اسارت
جغ به ستاسو له غاړې څخه لېرې شي. جغ به د سوکالۍ له امله مات شي.»

## د يرغلګرو حمله

۲۸ د دښمن لښکر د عای ښار ته رسېدلی دی! هغوی د مجرون نه تېر شوي دي او خپل سامان يې په
مخماس کې پرېښی دی! ۲۹ هغوی د کنډو څخه تېر شوي دي او شپه به جبع کې تېروي. د رامې د ښار
خلک له وېرې رپېږي او د جبعې يعنې د شاوول پاچا د ښار خلک تښتېدلي دي. ۳۰ ای د جليم خلکو،
چيغې ووهئ! ای د ليشې خلکو، غوږ ونيسئ! ای د عناتوت بې چاره خلکو! ۳۱ د مدمينې خلک تښتي او د
جيبيم خلک د پناه ځای لپاره منډې وهي. ۳۲ دښمن به نن د نوب په ښار کې وي. هغوی خپل سوک د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اورشلیم خواته چې د صهیون په غره کې دی د اخطار په توګه خوځوي.

۳۳ ګورئ، مطلق قادر څښتن به هغوی داسې راوغورځوي لکه څنګه چې د لوړو ونو څانګې په درب
رالویږي. د ونو په شان به د هغوی لوی لوی خلک راوغورځوي او هغوی به خوار او ذلیل شي. ۳۴ څښتن
به هغوی داسې راوغورځوي لکه څنګه چې ونې د ځنګل په منځ کې په تبر رالویږي، لکه څنګه چې د لبنان
شایسته او جګې ونې راغورځیږي.

## د یسي د اولادې څانګه

۱۱ ۱ د یسي د زوی داود شاهي کورنۍ د هغې ونې په شان ده چې وهل شوې وي، خو څنګه چې د
هغې ونې له تنې څخه نوې څانګې راشنې کیږي نو همداسې به د داود د اولادې څخه «یوه څانګه» یعنې یو
نوی پاچا راڅرګند شي.

۲ د څښتن روح به له هغه سره وي

هغه روح چې ورکوي خلکو ته پوهه او حکمت

هغه روح چې ورکوي مشوره او قوت

وي به د څښتن د پېژندنې او درناوي روح

۳ او خوشحالیږي به هغه د څښتن وېره کې

په ظاهري بڼه د چا به قضاوت نه کوي

او نه به کوي پرېکړه هسې خبرو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ بلکې کوي به قضاوت د غریبانو د انصاف له مخې

او کړي دفاع به د بې وزلو د حقونو څخه

د هغه د کلام زور به ولړزوي ځمکه

یو پوکی به یې د خولې یوسي له منځه بدکاران

۵ وي عدالت به د هغه ملاتړ

وفاداري به یې وي کمربند

۶ د هغه په پاچاهۍ کې به لېوان

او وري یوځای اوسي

د سېرلو سره به یوځای وي پړانګان پراته

خوسیان به د زمریانو د بچو سره

یوځای خوراک کړي

او دوی به پیایي یو وړوکی ماشوم

۷ خوراک به یوځای کوي اېږې او غواګانې سره

او د هغوی بچیان به یوځای وي په امن پراته

زمریان به خوري بوس د غویانو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ کړي د شيدو ماشوم به لوبې د چمچه مار سوړه کې

له شيدو څخه بېل شوی ماشوم

وهي سوړه کې به لاس د زهرجن مار

۹ زما په سپېڅلي غره صهيون باندې به

هېڅا او هېڅ شي ته به ونه رسي زيان

او نه به له منځه لاړ شي

لکه چې څنګه دي بحرونه د اوبو څخه ډک

نړۍ به دغه شان وي ډکه د څښتن د پېژندنې څخه

## د جلاوطنو خلکو بېرته راستنېدل

۱۰ داسې ورځ به راشي چې د يسي د زوی داود د کورنۍ څخه به يو نوی پاچا د ټولو قومونو دپاره يو
بيرغ وي. هغوی به د هغه په لټه کې وي او د هغه استوګنځی به له جلاله ډک وي. ۱۱ کله چې هغه
ورځ راشي نو څښتن به يوځل بيا خپل لاس اوچت کړي او خپل پاتې خلک به چې په اشور، مصر، فتروس،
ايتوپيا، عيلام، بابل او حمات په هېوادونو او د مديترانې د بحيرې په غاړو او جزيرو کې دي، بېرته راولي.
۱۲ څښتن به د نښې په توګه د قومونو په منځ کې يو بيرغ ورپوي او د نړۍ د څلورو کنجونو څخه به
جلاوطني خواره واره اسراييليان او يهوديان بېرته راولي. ۱۳ د اسراييليانو حسادت به د يهودا سره پای ته
ورسيږي او يهودا به اسراييليان ونه ځوروي او هغوی به نور د اسراييليانو له خوا ونه ځورول شي. ۱۴
هغوی به په ګډه د لوېديځ له خوا په فلسطينيانو حمله وکړي او هغه خلک به لوټ کړي چې ختيځ خواته
اوسيږي. هغوی به د ادوم او موآب خلکو ته ماتې ورکړي او د عمون خلک به د هغوی اطاعت کوي. ۱۵
څښتن به د سرې بحيرې خليج وچ کړي. هغه به خپل لاس د فرات د سيند خواته اوچت کړي او دا سيند

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به د یو سوځوونکي باد سره په اوو ویالو باندې ووېشي، ترڅو هرڅوک وکولای شي په اسانۍ سره په پښو د
هغه نه تېر شي. ۱۶ د څښتن د قوم نه د هغو خلکو دپاره چې ژوندي پاتې شوي دي، د اشور نه به د وتلو
لویه لاره جوړه شي لکه د هغوی د نیکونو په شان چې د مصر نه وتل.

## د ژغورنې دپاره د شکرګزارۍ سندره

۱۲ ۱ داسې ورځ راروانه ده چې تاسو به دا سندره ووایئ:

«ای څښتنه، زه کوم شکرګزاري ستا!

که څه هم ته راته په قهر وې

اوس نور په قهر نه يې او ماته تسلي راکوې

۲ ګورئ، چې خدای زما ژغورونکی دی

زه به هغه باندې توکل کوم او نور به نه وېرېږم

ځکه څښتن خدای زه قوي کړمه

د هغه په هکله زه سندره وایم

زه يې ژغورلی یمه

۳ څنګه چې تږي خوشحالېږي د کوهي په اوبو

همداسې کړي به خوشحالي هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغه وخت چې خدای وژغوري خپل قوم»

۴ هغه ورځ راروانه ده چې تاسو به دا سندره ووایئ:

«کړئ د څښتن شکر ادا! وکړئ دعا یې په نوم!

هغه چې څه کړي بیان یې کړئ ټولو قومونو ته

هغوی ته ووایئ چې څومره ډک دی د هغه نوم د جلال نه

۵ څښتن ته ووایئ سندره د هغه د پر جلاله کارنامو په خاطر

پرېږدئ چې نړۍ ټوله د دې څخه خبره شي

۶ ای اوسېدونکو د صهیون

په لوړ اواز ووهئ چیغې او سندرې د خوښۍ ووایئ

ځکه ډېر لوی دی سپېڅلی خدای د اسراییلو

او اوسیږي ستاسو منځ کې»

## د بابل سقوط

۱۳ ۱ دا هغه پیغام دی چې د بابل په اړه د خدای له خوا د آموص زوی اشعیا ته ورسېده.

۲ د وچې غونډۍ په سر د جګړې بیرغ ورپوئ! عسکرو ته چیغې ووهئ او خپل لاسونه ورته د اشارې په
توګه پورته کړئ چې د ښار د شریفو خلکو په دروازو حمله وکړي. ۳ څښتن خپله خپلو تکړه او ډاډمنو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنګیالیو ته حکم کړی چې وجنګیږي او هغو خلکو ته چې هغه وربانديې په قهر دی، سزا ورکړي.

۴ هغه شورماشور ته غوږ ونیسئ چې په غرونو راپورته شوی دی، د خلکو د لویې ګڼې ګونې اوازونو ته، د
پاچاهیو او قومونو د خلکو د راغونډېدلو اوازونو ته غوږ ونیسئ. مطلق قادر څښتن خپلې لښکرې د جګړې
دپاره تیاروي. ۵ هغوی د لېرې لېرې وطنونو او د نړۍ د بل سر څخه راځي. دا د څښتن وسله ده چې
خپل قهر څرګندوي او هغه به ټوله نړۍ ورانه کړي.

۶ ژړا او انګولا کوئ! ځکه چې د څښتن ورځ رانژدې ده، هغه ورځ چې مطلق قادر خدای به ټول له منځه
یوسي. ۷ په دې خاطر د هر چا لاسونه به سست شي او د ټولو خلکو زړونه به اوبه شي. ۸ هغوی ټول
به سخت ووېرېږي او په دردونو به اخته شي، په داسې درد لکه څنګه چې یوې ښځې ته د لنګون په وخت
کې پیدا کیږي. هغوی به یو بل ته وګوري او د بدل شویو څېرو په لیدلو سره به حیران او په وېره کې شي.
۹ ګورئ، د څښتن ورځ راروانه ده. هغه بې رحمه او د سختې غوسې او د غضب نه ډکه ورځ ده. ځمکه
به ورانه او ټول ګناهکاران به له منځه لاړ شي. ۱۰ په اسمان کې به ستوري رڼا نه ورکوي. کله چې لمر
راوخېژي نو هغه به تیاره وي او سپوږمۍ به رڼا نه ورکوي.

۱۱ څښتن وايي: «زه به په نړۍ افت نازل کړم او ټولو بدعمله خلکو ته به د هغوی د ګناهونو په خاطر
سزا ورکړم. زه به د خلکو غرور او کبر پای ته ورسوم او هر مغرور او ظالم به ذلیل کړم. ۱۲ ژوندي پاتې
شوي خلک به د سوچه سرو زرو او انسانان به د اوفیر د سرو زرو نه لږ وي. ۱۳ په هغه ورځ چې زه مطلق
قادر څښتن خپل سخت قهر څرګنده کړم نو اسمانونه به ولړزوم او ځمکه به له خپله ځایه وخوځیږي.

۱۴ کوم پردي خلک چې په بابل کې اوسیږي هغوی به په تېښته خپلو قومونو او وطنونو ته داسې راستانه
شي لکه هوسۍ چې له ښکاریانو تښتي یا لکه پسونه چې پرته د شپون نه هرې خواته خواره واره وي. ۱۵
هرڅوک چې ونیول شي هغه به په توره باندې ووژل شي. ۱۶ د هغوی د سترګو په وړاندې به د هغوی
ماشومان په وهلو وهلو ووژل شي، د هغوی کورونه به لوټ شي او د هغوی ښځې به بې عزته شي.»

۱۷ څښتن وايي: «ګورئ، زه به زه به د ماد خلک راوپاروم چې په بابل حمله وکړي. هغوی نه د سپینو زرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پروا لري او نه له سرو زرو سره خوشحاله دي. ۱۸ هغوی به په خپلو لیندو او غشو ځوانان ووژني. هغوی
به په ماشومانو او حتی په تي رودونکو ماشومانو هم رحم ونه کړي. ۱۹ د ټولو نه ډېره د شان او شوکت نه
ډکه د بابل پاچاهي ده چې د هغه ځای اوسېدونکي کلدانیان ورباندې وياړي. خو زه څښتن به بابل داسې له
منځه یوسم لکه څنګه چې سدوم او عموره مې له منځه وړي وو. ۲۰ هلته به نور هېڅکله هېڅوک هم نه
اوسېږي. تر راتلونکو نسلونو به دا ځای هېڅکله اباد نه شي. هېڅ کوم عرب به هلته خپله خېمه ونه دروي
او نه به کوم شپون هلته خپلې رمې وڅروي. ۲۱ دا به داسې ځای وي چې وحشي حیوانات به په کې
اوسېږي او کونګیان به په کې ځالې جوړوي. هلته به شترمرغان اوسېږي او وحشي وزې به د هغو په کنډوالو
کې ټوپونه وهي. ۲۲ له برجونو او له ښکلو ماڼیو څخه به یې د لېوانو او سورلنډیانو اوازونه راځي. د بابل د
ویجاړېدو وخت رارسېدلی دی او د هغه عمر لنډ دی.»

## د جلاوطنۍ څخه راستنېدل

۱۴ ۱ څښتن به یوځل بیا د یعقوب په اولادې باندې رحم وکړي او هغه به بیا اسراییل د خپل قوم په
توګه غوره کړي. هغوی به پرېږدي چې بیا خپل وطن اباد کړي او هلته واوسېږي او پردي خلک به راشي او
له هغوی سره به په یووالي کې ژوند وکړي. ۲ نور قومونه به له اسراییلیانو سره مرسته وکړي چې هغوی
بېرته د څښتن ځمکې ته راستانه شي او هلته به نوموړي قومونه لکه د غلامانو او وینځو په شان د اسراییلو
خدمت کوي. کومو خلکو چې یو وخت یې اسراییلیان په اسارت نیولي وو اوس به اسراییلیان په هغو باندې
حکومت کوي، چا چې یو وخت په هغوی باندې ظلم کاوه.

## د بابل پاچا د مړو په دنیا کې

۳ کله چې څښتن د اسراییلو خلک د هغوی له دردونو، کړاوونو او له هغو سختو کارونو په کولو چې
هغوی مجبور وو، وژغوري، ۴ هغه وخت به هغوی د بابل پاچا ته په ملنډو ووايي:

«ګورئ، هغه ظالم پاچا له منځه تللی او ظلم یې پای ته رسېدلی دی! ۵ څښتن د بدکارانو لښته او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حکمرانانو امسا ماته کړې ده، ۶ چا چې به په قهر او غضب سره تل په خلکو باندې ظلم کاوه او د هغو
قومونو له ځورولو به یې لاس نه اخیست چې تسلیم شوي وو. ۷ اوس ټوله نړۍ له ارامۍ او سولې خوند
اخلي او هر یو د خوشحالۍ سندرې وایي. ۸ حتی د لبنان د سروې او سبر ونې د پاچا په سقوط باندې
خوشحالي کوي او وایي: ‹اوس چې ته رانسکور شوی یې، داسې څوک نشته چې مونږ ووهي.›

۹ د مړو دنیا په ډېر احساساتي توګه ستا د راتللو انتظار کوي. د ځمکې د ټولو مشرانو ارواګانې راپارول
کیږي چې ستا هرکلي ته ودریږي. حتی د ټولو پاچاهانو ارواګانې له خپلو تختونو راپورته کیږي. ۱۰ هغه
ټول به تاته ووایي: ‹ته اوس زمونږ په شان کمزوری شوی یې! ته اوس زمونږ په شان یې!› ۱۱ د چنګ په
وهلو به ستا درناوی کېده، خو اوس ستا شان او شوکت ستا سره په ګور کې ښخ شوی دی. ته د خوځنده
چینجیو په بستره کې پروت او د چینجیو په کمپله کې پټ یې.»

۱۲ ای د بابل پاچا، ای د سهار روښانه ستوریه، ته له اسمان نه څنګه راولوېدلې! تا خو قومونه فتح کول،
خو اوس ته په ځمکه راغورځول شوی یې. ۱۳ تا په خپل زړه کې ویل: «اسمان ته به وخېژم او خپل تخت
به د خدای د ستورو دپاسه کېږدم. په شمال کې به په هغه غره باندې چې خدایان راټولیږي، کښېنم. ۱۴
د وریځو دپاسه به وخېژم او د خدای تعالی په شان به شم.» ۱۵ خو د هغې په ځای، ته د مړو د دنیا
ډېرې ژورې کندې ته راوړل شوی یې. ۱۶ کله چې مړي تا ویني، هغوی به تاته په ځیر وګوري، په
فکر کې به ډوب شي او پوښتنه به وکړي: «ایا دا هغه سړی نه دی چې ځمکه یې خوځوله او د نړۍ پاچاهان
د ده له وېرې لړزېدل؟ ۱۷ ایا دا هم هغه سړی نه دی چې ښارونه یې وران کړل او نړۍ یې په دښته
باندې بدله کړه؟ ایا دا هماغه سړی نه دی چې هېڅکله یې خپل اسیران نه ازادول او نه یې پرېښودل چې
خپلو کورونو ته لاړ شي؟»

۱۸ د نړۍ ټول پاچاهان د شان او شوکت سره په قبرونو کې پراته دي، ۱۹ خو ته قبر هم نه لرې او ستا
مړی لکه د خوسا شوې څانګې په شان لېرې غورځول شوی دی. ستا مړی د هغو عسکرو د مړو لاندې پټ
دی چې په جګړې کې وژل شوي او د هغوی سره یوځای د تیږو یوې کندې ته غورځول شوی او تر پښو
لاندې کیږي. ۲۰ په دې خاطر چې تا خپل وطن وران کړی او خپل خلک دې وژلي دي، نو ځکه ته به د
نورو پاچاهانو په شان ښخ نه شې. ستا بدکار نه به نسل پاتې نه شي او خلک به تا هېڅ وخت یاد نه کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ پرېږدئ چې وژنه پيل شي! ستا زامن به د خپلو نيکونو د ګناهونو له امله ووژل شي او نور به ونه شي
کولای چې په دې نړۍ کې پاچاهي وکړي او يا ښارونه په کې جوړ کړي.

## څښتن به بابل وران کړي

۲۲ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «زه به په بابل حمله وکړم او هغه به وران کړم. زه به د بابل نوم، د
هغه پاتې شوي خلک او د هغه نسل له منځه يوسم. هېڅوک به ژوندی پاتې نه شي.» ۲۳ مطلق قادر
څښتن بيا وايي: «زه به بابل په يوه جبه زاره او زيمناکه ځمکه باندې بدل کړم او کونګيان به په کې
اوسيږي. زه به بابل د تباهۍ په جارو باندې جارو کړم.»

## د اشور په هکله پيغام

۲۴ مطلق قادر څښتن دا قسم کړی: «ما چې کومه نقشه جوړه کړې هغه به سرته ورسيږي. کومه اراده
چې ما کړې ده، هغه به عملي کيږي. ۲۵ زه به په خپل وطن اسراييلو کې اشوريان تباه کړم او هغوی به په
خپلو غرونو تر پښو لاندې کړم. زه به خپل خلک د اشوريانو د ظلم له جغه او هغو بارونو چې هغوی يې وړي،
وژغورم. ۲۶ د نړۍ دپاره دا زما نقشه ده او ما خپل لاس اوچت کړی دی چې قومونو ته سزا ورکړم.»
۲۷ مطلق قادر څښتن اراده کړې ده، نو څوک يې منع کولې شي؟ هغه د سزا ورکولو دپاره خپل لاس
اوچت کړی دی، نو څوک يې مخه نيولې شي؟

## د فلسطين په هکله پيغام

۲۸ په هغه کال کې چې احاز پاچا مړ شو، دا پيغام د څښتن له خوا نازل شو:

۲۹ ای د فلسطين خلکو، هغه لرګی چې تاسو يې وهلئ، مات شوی دی. خو تاسو په دې باندې مه
خوشحالېږئ. لکه څنګه چې هر بوټی ريښه لري، د عادي مار څخه به زهرجن مار پيدا شي. چې لوی شي،
هغه به په ښامار بدل شي. ۳۰ مسکينان به ډوډۍ وخوري او محتاج خلک به په امن ځای کې ژوند تېر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي. خو زه څښتن به په تاسو فلسطينيانو باندې سخته قحطي راولم او زه به ستاسو پاتې شوي ژوندي خلک ووژنم.

۳۱ اى د فلسطين ټولو خلکو! په ښار کې وژاړئ! د ښار په دروازه کې انګولا وکړئ! اى فلسطينيانو، ووېرېږئ! ځکه له شمال څخه د دوړو او خاورو وريځ راروانه ده - دا داسې لښکر دى چې د هغه په قطارونو کې ډارن عسکر نشته.

۳۲ کوم استازي چې د فلسطين نه مونږ ته راځي هغه ته به څنګه ځواب ورکړو؟ مونږ به هغوى ته ووايو چې څښتن د صهيون بنياد د دې دپاره ايښى دى چې د هغه کړېدلى قوم به په کې پناه ومومي.

## خداى به موآب وران کړي

# ۱۵

۱ د موآب په هکله پيغام:

د موآب د عار او قير ښارونه په يوه شپه کې ورانېږي. ۲ د ديبون خلک غره ته ختلي دي چې په خپلو بتخانو کې وژاړي. د موآب خلک د نبو او ميديبا د ښارونو په خاطر له غمه ژړا او انګولا کوي. هغوى له غمه خپل سرونه او خپلې ږيرې خريلې دي. ۳ خلکو د وير کالي اغوستي دي او د خپلو کورونو په بامونو او د ښار په چوکونو انګولا کوي او په چيغو چيغو ژاړي. ۴ د حشبون او العاله خلک چيغې وهي او د هغوى ژړاګانې تر ياهص اورېدل کيږي. په دې خاطر د موآب په وسلو سمبال عسکر چيغې وهي او له وېرې نه رپيږي. ۵ زما زړه د موآب دپاره فرياد کوي! خلک د صوغر او عجلت شليشه ښارونو ته تښتېدلي دي. ځينې خلک په ژړا کې لوحيت ته خېژي او ځينې د حورونايم په لار د خپل هېواد د ورانۍ په خاطر په چيغو چيغو ژاړي. ۶ د نمريم وياله وچه شوې ده او د هغې په غاړه چې کوم واښه وو، هغه مړاوي شوي دي او هېڅ شين بوټى په کې نه دى پاتې شوى. ۷ په دې خاطر خلک هڅه کوي ترڅو د ولې د ونو د درې نه د خپلې ټولې شتمنۍ سره په تېښته تېر شي. ۸ د موآب په سرحدونو کې په هرځاى کې ژړاګانې اورېدل کيږي. حتى دا ژړاګانې او انګولاوې د اجلايم نه تر بيراېليم پورې هم رسېدلې دي. ۹ په رښتيا د ديبون

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له ښار سره چې کوم سیند دی هغه په وینو باندې سور شوی دی او زه څښتن به د هغه ځای په خلکو
باندې د دې نه ډېر بد مصیبت هم راولم. هو، په موآب کې چې څوک پاتې دي او یا د تښتېدو هڅه کوي،
هغوی به په زمريو باندې ووژل شي.

## د موآبیانو نااميدي

١٦ ١ هغه پاچا ته چې د صهيون په غره پاچاهي کوي، له سالع د دښتې له لارې وري د باج په توګه
ورولېږئ. ٢ د موآب خلک د ارنون د سیند په ګودر کې انتظار کوي او د هغو مرغيو په شان چې د خپلو
ځالو څخه شړل شوې وي، ځي او راځي.

٣ هغوی د یهودا خلکو ته وايي: «مونږ ته مشوره راکړئ چې څه وکړو. د هغې ونې په شان چې د غرمې
په ګرمۍ کې يخ سیوری کوي زمونږ ساتنه وکړئ او پرېږدئ چې ستاسو د سیوري لاندې ارام وکړو. مونږ
مهاجر يو، مونږ په يو خوندي ځای کې پټ کړئ او دښمنانو ته مو په لاس ورنه کړئ. ٤ مونږ ته اجازه
راکړئ چې ستاسو په وطن کې پاتې شو. له هغو خلکو مو وساتئ چې غواړي مونږ له منځه یوسي.»

ظلم او ويجاړي به پای ته ورسيږي او څوک چې وطن ورانوي هغه به ورک شي. ٥ هغه وخت به د داود
له اولادې يو کس پاچا شي او هغه به په تلپاتې مينې او وفادارۍ سره په خلکو باندې پاچاهي کوي. د هغه
قضاوت به د عدالت په بنياد ولاړ وي او پرته له ځنډه به انصاف عملي کوي.

٦ مونږ اورېدلي چې د موآب خلک څومره مغرور دي. مونږ پوهېږو چې هغوی سپين سترګي او کبرجن
خلک دي. هغوی ډېرې لافې وهي، خو د هغوی لافې بېځايه دي. ٧ په دې خاطر، د موآب ټول خلک په
خپل حال باندې ژاړي. کله چې هغوی ته هغه د مميزو کلچې ور په ياد شي چې د قيرحارس په ښار کې به
يې خوړلې، نو هغوی به انګولا او ژړا کوي. هغوی د پښو نه لوېدلي دي. ٨ حشبون ته نژدې کروندې، د
سبمه د انګورو باغونه وچ شوي دي او د نورو قومونو حکمرانانو د انګورو تاکونه پرېکړې دي. په يو وخت
کې د دې تاکونو څانګې د يعزير تر ښاره او ختيځې خواته په دښته کې او لوېديځې خواته د ارام بحيرې تر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلې غاړې پورې رسېدلې. ۹ اوس زه د سبمه د تاکونو پسې ژاړم، لکه څنګه چې د یعزیر خلک هم ژاړي.
زما اوښکې د حشبون او العاله دپاره د سېلاب په شان توییږي. ځکه چې د اوړي مېوې او غلې دانې نشته
چې خلک د خوشحالۍ چیغې ووهي. ۱۰ په هغو حاصلخېزو ځمکو کې هېڅ خوشحالي او خندا نه لیدل
کیږي. د انګورو په باغونو کې نه څوک له خوشۍ نه چیغې وهي او نه څوک سندرې وایي. هېڅوک انګور د
زبېښلو دپاره تر پښو لاندې نه کوي، ما د خوشحالۍ اوازونه غلي کړي دي. ۱۱ نو زما زړه د موآب او
قیرحارس دواړو دپاره د غم رباب وهي. ۱۲ د موآب خلک سیمه ایزو او لویو بتخانو ته د دعا دپاره ځي،
خو هغوی هسې ځانونه ستړي کوي ځکه چې دا هغوی ته هېڅ ګټه نه لري.

۱۳ دا هغه پیغام ؤ چې څښتن پخوا د موآب د خلکو په اړه ورکړی ؤ. ۱۴ اوس څښتن وایي: «په پوره
درې کالو کې به د موآب شان او شوکت له منځه لاړ شي. د موآب له ډېرو خلکو نه به یوازې یو څو تنه
ژوندي پاتې شي او هغوی به هم ډېر کمزوري وي.»

## د سوریې او اسراییلو په هکله پیغام

۱۷ ۱ د دمشق په اړه د څښتن پیغام: «دمشق به نور یو ښار نه وي، هغه به په کنډوالې بدل شي. ۲
د عروعیر ښارونه به د خلکو نه خالي شي. له هغو به د پسونو او غویانو څرځایونه جوړ شي او هېڅوک به یې
نه شړي. ۳ د اسراییلو جنګي کلاګانې به له منځه لاړې شي او دمشق به خپله واکمني له لاسه ورکړي.
د سوریې کوم خلک چې ژوندي پاتې شي هغوی به د اسراییلیانو په شان خوار او ذلیل شي. دا زما، د مطلق
قادر څښتن وینا ده.»

۴ همدارنګه څښتن وویل: «یوه داسې ورځ راتلونکې ده چې د اسراییلو لویي او دبدبه به پای ته ورسیږي
او د هغوی شتمني به په نېستۍ باندې بدله شي. ۵ اسراییل به د داسې پټي په شان وي چې لوګرو یې
غلې دانې رېبلې وي، لکه د رفاییم په دره کې چې کوم پټی خالي وي او حاصل یې ورل شوی وي. ۶
یوازې د اسراییلو د قوم یو څو کسان به ژوندي پاتې شي او هغوی به د زیتونو د داسې ونې په شان وي چې
د هغې څخه ټول زیتون راټول شوي وي او تش دوه یا درې دانې یې په سر کې پاتې وي، یا د هغې مېوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لرونکې ونې په شان چې څلور یا پنځه دانې یې په څانګو کې پاتې وي. دا زما، د اسراییلو څښتن خدای وینا
ده.»

٧ کله چې هغه ورځ راورسیږي، نو خلک به خپل خالق یعنې د اسراییلو سپېڅلي خدای ته رجوع وکړي.
٨ هغوی به نور د قربانۍ په هغو ځایونو باندې چې په خپلو لاسونو یې جوړ کړي دي، یعنې د اشیره په
بتانو او د قربانۍ په هغو ځایونو چې خوشبويي په کې سوځول کیږي، تکیه ونه کړي.

٩ کله چې هغه ورځ راشي، د هغوی قوي ښارونه به شاړ او په ځنګلونو باندې بدل شي. هغه ښارونه به د
هغو سیمو په شان شي چې خلکو د اسراییلو د حملې سره سم پرېښودل او هرڅه به وران او وېجاړ شي. ١٠
ای اسراییلو، تاسو هغه خدای هېر کړی دی چې تاسو یې ژغورلي یئ او د یاده مو وتلي دي چې هغه د یو
زورور ګټ په شان ستاسو ساتنه کړې ده. د هغې په ځای، تاسو ښایسته باغونه کرلي دي چې د پردیو
خدایانو عبادت په کې وکړئ. ١١ خو حتی که په هماغه سهار کې چې تاسو هغه کرلي دي، هغه راشنه
شي او وغوړیږي، بیا به هم هېڅ حاصل ورنه کړي. د دې په ځای به تاسو یوازې په غم او ناعلاجه درد اخته
شئ.

## د دښمن قومونو ماتې

١٢ واورئ، بې شمېره قومونه د بحیرې په شان شور کوي، لکه د بحیرې د لویو لویو څپو د غړمبار په
شان. ١٣ قومونه لکه د تېزو څپو په شان غړمبار کوي، خو خدای هغوی رټي او هغوی لېرې تښتي، داسې
تښتي لکه د باد په وخت کې د غونډیو په سر کې بوس او یا د تند باد په وخت کې چورلېدونکي بوټي. ١٤
قومونه په ماښام کې د زیاتې وېرې سبب ګرځي، خو په سهار کې ورکیږي. دا د هغه چا تقدیر او قسمت
دی چې زمونږ وطن لوټوي.

## د ایتوپیا په هکله پیغام

١٨ ١ افسوس د ایتوپیا په حال چې په سیندونو کې یې د کشتۍ ګانو د بادبان اواز اورېدل کیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ هغه وطن خپل استازي د بحیرې له لارې په داسې کشتۍ ګانو کې لېږي چې د لوخو څخه جوړې
شوې دي. ای چالاکو استازو، دا پیغام هغه قوم ته یوسئ چې قوي او جنګیالی دی، هغه چې لوړ قدونه او
ښویه پوستکي لري او د ټولې نړۍ خلک ورڅخه وېرېږي، د هغه وطن څخه چې په سیندونو باندې وېشل
شوی دی.

۳ ای د ټولې نړۍ خلکو واورئ! کله چې بیرغ د نښې په توګه د غرونو په سرونو درول کیږي، وګورئ! د
سورني هغه اواز ته چې د جګړې دپاره غږول کیږي، غوږ ونیسئ! ۴ ځکه چې څښتن ماته داسې وویل:
«زه به د خپل استوګنځي څخه داسې په ارامۍ سره لاندې ګورم لکه څنګه چې پرخه د لو په وخت کې
وریږي او لکه لمر چې د ورځې په ګرمۍ کې ځلیږي.» ۵ مخکې له دې چې انګور راټول شي، کله چې د
ګل پاڼې راوغورځیږي او انګور پاخه شي، څښتن به د انګورو له تاکونو څخه نودې په چاقو او څانګې به یې په
اره باندې پرې کړي او لېرې وغورځوي. ۶ هغه به ټول د غرونو ښکاري مرغانو او وحشي حیواناتو ته
پراته وي. په اوړي کې به هغه د مرغانو خوراک وي او په ژمي کې به د حیواناتو خوراک وي.

۷ په هغه وخت کې به هغه قوي او جنګیالی قوم چې لوړ قدونه او ښویه پوستکي لري او د ټولې نړۍ
خلک ورڅخه وېرېږي، د هغه وطن څخه چې په سیندونو باندې وېشل شوی دی، د صهیون غره ته راشي،
هغه ځای ته چې د مطلق قادر څښتن نوم په کې یادیږي او هغه ته به نذرانې او سوغاتونه راوړي.

## د مصر په هکله پیغام

# ۱۹

۱ د مصر په هکله پیغام:

ګورئ، څښتن په تېزه وریځ سپور او مصر ته راروان دی. د مصر بتان د هغه په حضور کې لړزیږي او د مصر
خلک د وېرې له امله بې سده کیږي. ۲ څښتن وايي: «زه به په مصر کې کورنۍ جګړه رامنځته کړم او
ورور به د ورور په وړاندې او ګاونډی به د ګاونډي په ضد راوپاروم. ښارونه به د یو بل په وړاندې او
پاچاهي به د پاچاهۍ په ضد وجنګیږي. ۳ زه غواړم چې د مصریانو نقشې شنډې او د هغوی روحیه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کمزورې کړم. هغوی به د خپلو بتانو څخه د مرستې غوښتنه وکړي او د جادوګرانو، فال کتونکو او د مړو د ارواحګانو څخه به مشوره واخلي. ۴ زه به مصريان يو ظالم او بې رحمه پاچا ته په لاس ورکړم چې په هغوی باندې پاچاهي وکړي. دا زه يعنې مطلق قادر څښتن داسې وايم.»

۵ د نيل د سيند اوبه به لږې شي او د وخت په تېرېدلو سره به وچې شي. ۶ د سيند وياله به مخ په وچېدلو شي او بد بوی به ورڅخه پورته شي. لوخې او د نيل د سيند د غاړې واښه به مړاوي شي، ۷ د نيل د سيند د غاړې لوخې او ټول کرل شوي فصلونه به وچ شي او هوا ته به والوزي. ۸ ماهيګيران به چې د نيل په سيند کې په چنګک باندې ماهيان نيسي، وير کوي. هغه څوک چې په جال باندې ماهيان نيسي، هغه به خپل همت له لاسه ورکړي. ۹ د کتان تياروونکي به نااميده شي او اوبدونکي به يې انديښمن شي. ۱۰ ټول کتان جوړوونکي به سخت غمجن او ټول کارګران به خواشيني شي.

۱۱ د صوعن د ښار مشران ډېر بې عقله دي! د فرعون ډېر هوښيار مشاوران احمقانه مشوره ورکوي! نو هغوی څنګه کولای شي چې فرعون ته ووايي: «مونږ عالمان او د پخوانيو پاچاهانو اولاده يو.» ۱۲ ای فرعونه، ستا هغه هوښيار مشاوران چېرته دي؟ هغوی دې تاته ووايي چې مطلق قادر څښتن د مصر په وړاندې څه اراده لري. ۱۳ د صوعن او ممفيس مشران بې عقله دي او هغوی خپل ځانونه غولولي دي. د طايفو مشرانو د مصر خلک بې لارې کړي دي. ۱۴ څښتن د هغوی فکرونه مغشوش کړل چې ګډې وډې مشورې ورکړي. په نتيجه کې مصريان چې هرڅه کوي هغه غلط وي او داسې کاږه واږه ځي لکه کوم نشه سړی چې په خپلو کانګو ښوييږي. ۱۵ په مصر کې هېڅوک، که هغه شتمن وي يا غريب، که لوی يا کوچنی، نه شي کولای چې د خلکو سره مرسته وکړي.

## مصريان او د څښتن عبادت

۱۶ په هغه ورځ کله چې مصريان ووينې چې مطلق قادر څښتن خپل لاس هغوی ته د سزا ورکولو دپاره اوچت کړی دی، نو هغوی به د ښځو په شان له وېرې ولړزيږي. ۱۷ مصريان به د يهودا د خاورې د نوم په اورېدلو په وېره کې وي، دا په دې خاطر چې مطلق قادر څښتن د هغوی په وړاندې داسې اراده لري.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ په هغه ورځ به د مصر په پنځو ښارونو کې خلک په عبراني ژبه خبرې وکړي او د دې ځايونو خلک به
د څښتن تعالی سره د وفادارۍ قسم وکړي. له دې ښارونو څخه يو به د «لمر د ښار» په نوم ياد شي.

۱۹ په هغه ورځ به د مصر د هېواد په منځنۍ برخه کې د قربانۍ ځای او د مصر په سرحد کې به يوه د
تيږو يادګاري ستنه څښتن ته وقف شي. ۲۰ هغوی به په مصر کې د مطلق قادر څښتن د حضور نښې وي.
کله چې د هغه ځای په خلکو ظلم کيږي او د مرستې دپاره څښتن ته زارۍ کوي نو څښتن به د مصريانو د
دفاع او ژغورلو دپاره يو ژغورونکی ورولېږي. ۲۱ څښتن به خپل ځان د مصر خلکو ته ورښکاره کړي او بيا
به مصريان هغه د خپل خدای په توګه وپېژني، د هغه عبادت به وکړي او هغه ته به قربانۍ او نذرانې
وړاندې کړي. هغوی به د څښتن حضور ته د نذرونو وعده وکړي او خپلې وعدې به پوره کړي. ۲۲ څښتن
به لومړی مصريانو ته سزا ورکړي، خو وروسته به بيا هغوی ته شفا ورکړي. هغوی به څښتن ته رجوع وکړي
او هغه به د هغوی دعاګانې قبولې کړي او هغوی ته به روغتيا ورکړي.

۲۳ په هغه ورځ به د مصر او اشور ترمنځ يوه لويه لاره جوړه شي. د دواړو هېوادونو خلک به يو بل سره تګ
او راتګ وکړي او دواړه هېوادونه به په ګډه د څښتن عبادت وکړي. ۲۴ په هغه ورځ به اسراييل له مصر
او اشور سره ملګری شي او دا درې هېوادونه به د ټولې نړۍ دپاره د برکت سبب وګرځي. ۲۵ مطلق قادر
څښتن به هغوی ته برکت ورکړي او وبه وايي: «ای زما خلکو مصريانو، ای زما مخلوقه اشوريانو او ای زما
غوره شوی قومه اسراييله، زه تاسو ټولو ته برکت درکوم.»

## د مصريانو او ايتوپيايانو په اړه نښه

۲۰ ۱ د اشور پاچا سرجون په حکم، د هغه د لښکر قوماندان د فلسطين د اشدود په ښار باندې حمله
وکړه او هغه يې ونيوه. ۲ په هغه وخت کې څښتن د آموص زوی اشعيا ته ويلي وو چې خپل د وير کالي
او خپلې څپلۍ وباسي. هغه دا ومنله، بيا هغه لوڅ ځان او لوڅې پښې روان شو. ۳ نو څښتن وويل: «زما
خدمتګار اشعيا درې کاله لوڅ ځان او لوڅې پښې ګرځېدلی دی. دا د هغې نښه ده چې د مصر او ايتوپيا
خلک به په لويه بلا اخته شي. ۴ په دې ډول به د اشور پاچا د مصر او ايتوپيا خلک د اسيرانو په توګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونیسي. ځوانان او زاړه به یې په لوڅ ځان او لوڅې پښې روان شي. د هغوی هرڅه به بربنډ وي او دا به د
مصر دپاره د شرم خبره وي. ۵ هغو خلکو چې په ایتوپیا باندې تکیه کوله او په مصر یې ویاړ کاوه، هغوی
به ناامیده او رسوا شي. ۶ هغه وخت به د فلسطین د ساحل اوسېدونکي ووایي: ‹وګورئ، په هغو خلکو
چې مونږ وربانديې تکیه کوله او مونږ ورنه د مرستې تمه لرله چې مونږ به د اشور پاچا له حملې څخه وساتي،
داسې بلا راغله، نو مونږ به څنګه ژوندي پاتې شو؟›»

## د بابل د سقوط په هکله پیغام

٢١ ١ دا پیغام د بحیرې د غاړې د دښتې په هکله دی:

لښکرې به له جنوبي دښتې د بوړبوړکۍ په شان د یو وېرووونکي وطن نه په بابل حمله وکړي. ٢ ما یوه
هیبتناکه رویا ولیدله، چې خاینان خیانت کوي او تباه کوونکي تباهي کوي.

ای د عیلام لښکرو، حمله وکړئ! ای د ماد لښکرو، ښارونه کلابند کړئ! کوم درد او غم چې بابل رسولی
دی، خدای به هغه پای ته ورسوي.

٣ نو څه چې مې په رویا کې ولیدل او واورېدل، ډېر ووېرېدم. ټول ځان مې په داسې درد اخته شو لکه په
ښځې چې د لنګون په وخت کې راځي. ٤ زړه مې درزیږي او له وېرې رپېږم. زه د یو ښه او ارام ماښام د
راتللو په هیله وم، خو هغه ماته پرته له وېرې بل هېڅ رانه وړل. ٥ په رویا کې مې ولیدل چې مېلمستیا
تیاره ده او د بابلیانو د ناستې دپاره دسترخوانونه غوړېدلي دي. ټول د خوړلو او څښلو په حال کې دي، چې
ناڅاپه یو اواز پورته شو: «ای افسرانو پورته شئ او خپل سپرونه تیار کړئ!»

٦ بیا څښتن ماته داسې وویل: «لاړ شه، یو پهره دار ودروه او هغه ته ووایه: ‹هرڅه چې دې ولیدل د هغه
راپور راکړه.› ٧ که هغه داسې کسان ووینې چې په دوه اسونو لرونکو جنګي ګاډیو کې راروان وي او یا
داسې عسکر چې په خرو او اوښانو باندې سپاره وي، نو په ډېر ځیر سره دې هغوی ته پام وکړي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ پهره دار غږ وکړ: «باداره، ما شپه او ورځ په ټاکلي ځای باندې پهره کوله. ۹ اوس هغوی راغلل!
خلک په جوړه اسونو لرونکو جنګي ګاډيو باندې سپاره راروان دي.» په دې وخت کې پهره دار خبر ورکړ او
ويې ويل: «بابل سقوط وکړ! د بابل ټول بتان په ځمکه لوېدلي او ټوټې ټوټې شوي دي.»

۱۰ ای زما خلکو اسراييلو، تاسو د غنمو په شان غوبل او باد شوي يئ، خو اوس څه چې ما له مطلق قادر
څښتن څخه اورېدلي دي تاسو ته اعلانوم.

## د ادوم په هکله پيغام

۱۱ دا هغه پيغام دی چې د ادوم په هکله دی.

يو څوک ماته د ادوم څخه اواز کوي: «پهره داره، دا شپه به کله سبا کيږي؟ دا شپه به کله پای ته
رسيږي؟»

۱۲ ما ځواب ورکړ: «شپه به تېره او سهار شي، خو شپه بيا راځي. که ته نوره پوښتنه لرې، نو بېرته راشه
او پوښتنه وکړه.»

## د عربستان په هکله پيغام

۱۳ دا د عربستان په هکله پيغام دی.

ای د ددان خلکو، تاسو چې د خپلو کاروانونو دپاره د عربستان په شاړو دښتو کې خيمې ودروئ، ۱۴ هغو
خلکو ته چې تږي دي او تاسو ته راځي اوبه ورکړئ. ای د تيما خلکو، مهاجرو ته خواړه ورکړئ. ۱۵ ځکه
چې هغوی د تورو او په ليندو کې د غشو له ګوزارونو او تودې جګړې څخه تښتېدلي دي.

۱۶ بيا څښتن ماته داسې وويل: «پوره په يو کال کې به د قيدار ټول شان او شوکت پای ته ورسيږي. ۱۷
د قيدار د لښکرو له غشو ويشتونکو څخه به يوازې يو څو تنه پاتې شي. دا زه، يعنې د اسراييلو څښتن خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ته وایم.»

## د اورشلیم په هکله پیغام

۲۲ ۱ دا پیغام د رویا د درې په هکله دی.

څه خبره ده؟ ولې د ښار ټول خلک بامونو ته ختلي او خوشحالي کوي؟ ۲ ټول ښار له غوغا، شورماشور او
خوښۍ څخه ډک دی.

د دې ښار خلک ووژل شول، خو هغوی په توره یا په جګړه کې نه دي وژل شوي. ۳ ستاسو ټول مشران
وتښتېدل او مخکې له دې چې حتی یو غشی هم ګوزار کړي هغوی ونیول شول. پروا نه لري چې څومره
لېرې وتښتېدل، هغوی ټول ونیول شول او اسیران شول. ۴ اوس ما یوازې پرېږدئ چې د خپل قوم د
بربادۍ په خاطر سخت وژاړم او ماته د تسلۍ راکولو کوښښ مه کوئ.

۵ په رښتیا مطلق قادر څښتن خدای هغه ورځ غوره کړې ده چې د رویا په دره کې خلک له ډار، ماتې او
وارخطایۍ سره مخامخ شي. په هغه ورځ به د ښار دېوالونه راوغورځول شي او د ژړا او مرستې اوازونه به یې
په غرونو کې واورېدل شي. ۶ د عیلام د هېواد عسکر چې په لیندو او غشو سمبال، په اسونو او جنګي
ګاډیو باندې سپاره وو او د قیر د هېواد عسکر سپرونه په لاس تیار وو. ۷ ستاسو ډېرې ښې درې د
دښمن له جنګي ګاډیو ډکې شوې دي او په اسونو باندې سپاره سرتېري د اورشلیم د ښار د دروازو په
مخکې قطار ولاړ دي. ۸ څښتن د یهودا دفاعي قواوې له منځه یوړې.

په هغه ورځ، تاسو د وسلو د راوړلو دپاره سلاح کوټ ته لاړئ. ۹-۱۱ تاسو د اورشلیم د ښار د دېوالونو
هغه ټول ځایونه ولیدل چې رغونې ته یې اړتیا لرله. تاسو د اورشلیم ټول کورونه وکتل او د هغو څخه مو
ځینې د دې دپاره وران کړل چې د هغو د تیږو نه د ښار د دېوالونو په بیا جوړولو کې کار واخلئ. تاسو دننه
په ښار کې یوه ذخیره جوړه کړه او د اوبو د بهېدلو لاره مو د زوړ ډنډ څخه دننۍ ذخیرې ته واړوله. تاسو
په ښکتني ډنډ کې هم د اوبو ذخیره جوړه کړه. خو تاسو خدای ته چې د دې ټولو حالاتو جوړوونکی دی،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاملرنه ونه کړه. په رښتيا هغه د پخوا نه د دې حالاتو نقشه جوړه کړې وه.

۱۲ په هغه ورځ مطلق قادر څښتن خدای تاسو ته بلنه درکړه چې وژاړئ او وير وکړئ، خپل سرونه وخرايئ او د وير کالي واغوندئ. ۱۳ خو د دې په ځای تاسو د خوشۍ جشن جوړ کړ. تاسو غويان او پسونه حلال کړل چې ويې خورئ او شراب مو وڅښل. تاسو وويل: «راځئ چې وخورو او وڅښو، ځکه چې سبا ته مړه کيږو.»

۱۴ مطلق قادر څښتن په خپله زما سره خبرې وکړې او ويې ويل: «ترڅو پورې چې تاسو ژوندي يئ په رښتيا به ستاسو دا ګناه ونه بخښل شي. دا زما يعنې مطلق قادر څښتن خدای خبره ده.»

## د دربار د چارو مسوول شبنا ته خبرداری

۱۵ مطلق قادر څښتن خدای ماته داسې وويل چې شبنا ته چې د پاچا د دربار د چارو مسوول دی، ورشه او هغه ته ووايه: ۱۶ «ته دلته څه کوې؟ ته څه حق لرې چې د تيږو د غونډيو په اوچت ځای کې د خپل ځان دپاره قبر جوړوې؟ ۱۷ ګوره! که ته هرڅومره مهم سړی اوسې، خو څښتن به تا ټينګ راونيسي او لېرې به دې وغورځوي. ۱۸ هغه به تا د توپ په شان تاو او راتاو کړي او بيا به دې يو ډېر لېرې هېواد ته ګوزار کړي. ته به د خپلو هغو جنګي ګاډيو په څنګ کې چې تا ورباندې وياړ کاوه، مړ شې. ته د خپل بادار د کورنۍ د رسوايۍ سبب يې. ۱۹ نو څښتن به ستا څخه دا دنده او لوړ مقام واخلي.»

۲۰ څښتن شبنا ته وويل: «نو زه به په هغه ورځ خپل خدمتګار د حلقيا زوی الياقيم راوغواړم. ۲۱ زه به ستا چپنه هغه ته ورواغوندم، ستا کمربند به د هغه په ملا باندې وتړم او هغه ټول واک چې تا درلود هغه به الياقيم ته ورکړم. هغه به د اورشليم او يهودا خلکو ته د پلار په شان وي. ۲۲ زه به هغه ته د داود د پاچاهۍ د دربار کيلي ورکړم. هغه چې کومه دروازه خلاصه کړي، نو څوک نه شي کولای چې هغه وتړي او کومه دروازه چې هغه تړلې ده، هېڅوک به نه شي کولای چې هغه خلاصه کړي. ۲۳ زه به هغه لکه د مېخ په شان په خپل مقام کې ټينګ کړم او هغه به د خپل پلار د کورنۍ دپاره د سرلوړۍ سبب وګرځي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ خو د هغه ټول خپلوان او اولاده به په هغه بار وي. هغوی به په ده باندې داسې راځوړند وي لکه
لوښي، کاسې او کوزې چې په مېخ باندې ځوړندې وي. ۲۵ په هغه ورځ به هغه مېخ چې په خپل ځای
باندې ټینګ ؤ هغه به سست شي او وبه غورځېږي. هرڅه چې په هغه باندې ځوړند وو، نو هغه به له منځه
لاړ شي.» دا څښتن ویلي دي.

## د صور او صیدون په هکله پیغام

# ۲۳

۱ دا پیغام د صور په هکله دی:

ای د بحیرې کشتۍ چلوونکو، د صور دپاره له غمه چیغې ووهئ! ستاسو د صور بندر وران شوی او کورونه
مو په کنډوالو بدل شوي دي. څه چې تاسو په قبرس کې اورېدلي دي، هغه رښتیا دي. ۲ ای د بحیرې د
غاړې اوسېدونکو! ای د صیدون سوداګرانو، ویر وکړئ! تاسو به له بحیرې څخه تېرېدلئ ۳ ترڅو د مصر
څخه غلې دانې په بیه واخلئ او بیا یې په نورو خرڅې کړئ. په دې ډول تاسو د ټولو قومونو دپاره د
سوداګرۍ مرکز وئ.

۴ ای د صیدون ښاره، ای د بحیرې د غاړې کلا، وشرمېږه! ځکه بحیره وایي: «ما هېڅکله د لنګون درد
احساس نه کړ او زامن او لورګانې مې نه دي زېږولي. ما هېڅکله ماشومان نه دي لوی کړي.»

۵ کله چې د صور بد خبر مصر ته ورسیږي، د هغه ځای خلک به ټکان وخوري.

۶ ای د لېرې هېوادونو اوسېدونکو، له ډېره غمه چیغې ووهئ! کوښښ وکړئ چې هسپانیې ته وتښتئ!
۷ ایا دا هماغه د صور خوشحاله ښار دی چې ډېر پخوا ودان شوی ؤ؟ ایا دا هماغه ښار دی چې خپل
اوسېدونکي یې لېرې هېوادونو ته لېږل چې هلته استوګن شي؟ ۸ چا دا نقشه درلودله چې په صور یعنې
د پاچاهیو په جوړوونکي ښار باندې چې سوداګران یې شاهزاده ګان او د نړۍ عزتمن خلک وو، دا بلا او
مصیبت راولي؟ ۹ مطلق قادر څښتن دا نقشه درلودله، ترڅو د هغوی شوکت او غرور له منځه لاړ شي
او عزتمن خلک یې خوار او سپک شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ای د هسپانيې خلکو، په خپل هېواد کې خواره واره شئ لکه څنګه چې د نيل سيند د غاړو اوړي.
اوس داسې څوک نشته چې ستاسو مخه ونيسي. ۱۱ څښتن خپل لاس په بحيرې باندې اوچت کړی دی او
د نړۍ پاچاهۍ يې لړزولې دي. هغه حکم کړی چې د کنعان کلاګانې دې له منځه لاړې شي. ۱۲ هغه
وويل: «ای د صيدون مظلومو خلکو، ستاسو خوشحالي پای ته ورسېدله. حتی که تاسو قبرس ته هم وتښتئ،
هلته به هم هوسا او په امن کې ونه اوسئ.»

۱۳ د بابل هېواد وګورئ چې د خلکو څخه خالي شوی دی. اشوريانو بابل د وحشي حيواناتو د منډې وهلو
ځای جوړ کړی دی. هغوی د کلابندۍ د برجونو زينې جوړې، د بابليانو کلاګانې يې ورانې او ښار يې په
کنډوالې بدل کړ.

۱۴ ای د بحيرې کشتۍ چلوونکو، له غمه وژاړئ! ځکه ستاسو د ښار کلا ورانه شوې ده.

۱۵ صور به د اوياو کالو دپاره چې د يو پاچا عمر دی هېر کړای شي. د دې کلونو د تېرېدلو نه وروسته به
صور د يوې بدلمنې ښځې په شان وي چې په دې سندره کې يادېږي:

۱۶ ای هېره شوې بدلمنې

خپل رباب راواخله

او تاوه راتاوه شه د ښار نه

ښه ساز غږوه

او ډېرې سندرې ووايه

چې خلک دې بيا ياده کړي.

۱۷ د اويا کالو نه وروسته به څښتن اجازه ورکړي چې صور بيا پرمختګ وکړي. لکه يوه بدلمنه ښځه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل بدن په هر چا باندې خرڅ کړي، نو د پخوا په شان به د نړۍ د نورو هېوادونو سره تجارتي اړيکې ټينګې
کړي. ۱۸ خو د تجارت له لارې کومه ګټه چې هغوی لاسته راوړي هغه پيسې به ذخيره او پاسره نه شي،
بلکې هغه به څښتن ته وقف شي. په دې پيسو باندې به د هغو خلکو دپاره چې د څښتن خدمت کوي، ډېر
خواړه او ښايسته کالي واخلي.

## نړۍ ته د څښتن سزا

**۲۴** ۱ ګورئ، نژدې دی چې څښتن ځمکه ورانه او ويجاړه او شاړه کړي. هغه به د ځمکې مخ کندې
کپرې او خلک به يې خواره واره کړي. ۲ که هغه عادي خلک وي يا کاهنان، غلامان وي يا باداران،
وينځې وي يا بادارانې، اخيستونکي يا خرڅوونکي، پور ورکوونکي يا پور اخيستونکي، د دې ټولو تقدير او
قسمت به يوشان وي. ۳ ځمکه به په پوره توګه ويجاړه او لوټ شي. دا څښتن ويلي دي.

۴ ځمکه وچيږي، هرڅه مړاوي کيږي او د نړۍ بنياد سستيږي. د نړۍ غوره خلک کمزوري کيږي. ۵
خلکو د ځمکې مخ ناپاکه کړی دی، ځکه چې هغوی د څښتن د حکمونو څخه سرغړونه کړې ده او د هغه
تلپاتې لوظ يې مات کړی دی. ۶ نو په دې خاطر ځمکه لعنتي شوې ده. خلک يې د خپلو کړنو سزاويني
او ورځ په ورځ د هغوی شمېر کميږي. ۷ د انګورو تاکونه وچيږي او شراب کميږي. کوم خلک چې يو
وخت خوشحاله وو اوس اوسيلي وباسي. ۸ د هغوی له خوشحالۍ ډک د چمبو او ربابونو اواز او د چړچو
کوونکو اوازونه نور نه اورېدل کيږي. ۹ له بده مرغه خلک نور شراب نه څښبي او سندرې نه وايي، هغوی
ته شراب خوند نه ورکوي. ۱۰ ښار وران او ګډوډ شوی دی او د هر يو کور دروازه تړلې ده، ترڅو هېڅوک
ورننه نه وځي. ۱۱ خلک په کوڅو کې د شرابو د نشتون له امله چيغې وهي. خوښي د تل دپاره له منځه
تللې او خوشحالي د ځمکې له مخه ورکه شوې. ۱۲ ښار وران شوی او دروازې يې دړې وړې شوې دي.
۱۳ نو د نړۍ ټول قومونه به داسې شي لکه د زيتون د هغې ونې په شان چې مېوه يې راټوله او يا د هغه
تاک په شان چې انګور يې شکول شوي وي.

۱۴ ژوندي پاتې شوي خلک د خوشحالۍ سندرې وايي. هغوی چې په لوېديځ کې دي څښتن ته په لوړ اواز

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال ورکوي. ۱۵ څوک چې په ختيځ کې دي، د څښتن ستاينه وکړئ. څوک چې د بحيرې په غاړو او
جزيرو کې دي، د اسراييلو د څښتن خدای ثنا او صفت وکړئ. ۱۶ مونږ د نړۍ له هرې خوا د عادل
خدای د ثنا او صفت سندرې اورو.

خو افسوس زما په حال! زه د خاينانو د خيانت د دوام له امله ډنګر او کمزورى شوى يم. د هغوى ټګي نوره
هم زياتيږي. ۱۷ اى د نړۍ خلکو واورئ! وېره، کندې او دامونه تاسو ته تيار دي. ۱۸ که څوک له وېرې
تښتي هغه به په کنده کې لويږي، که څوک له کندې ووځي هغه به په دام کې راګير شي. سخت بارانونه
وريږي او د ځمکې بنيادونه لړزيږي. ۱۹ ځمکه به بيخي وچوي، هغه به سره بېله شي او سخته به
ولړزيږي. ۲۰ ځمکه به لکه د نشه سړي په شان کږه وږه لاړه شي او هغه به د يوې جونګړې په شان وي
چې په توفان کې زنګيږي. نړۍ به د خپلو ګناهونو له امله کړوپه شي، هغه به داسې راوغورځيږي چې بيا به
هېڅکله راپورته نه شي.

۲۱ په هغه ورځ به څښتن په اسمان کې اسماني قدرتونو ته او په ځمکه کې د نړۍ پاچاهانو ته سزا
ورکړي. ۲۲ خدای به هغوى د بنديانو په توګه په يوه کنده کې راغونډ کړي او له ډېرو ورځو وروسته به
ورته سزا ورکړي. ۲۳ نو سپوږمۍ به تياره شي او لمر به نور نه ځليږي، ځکه چې مطلق قادر څښتن به په
اورشليم کې د صهيون په غره باندې پاچاهي کوي او مشران به د هغه جلال ويني.

## د څښتن د ثنا او صفت سندره

**۲۵** ۱ اى څښتنه، ته يې خدای زما

زه به کومه درناوى ستا

او ثنا او صفت به کوم ستا د نامه

ځکه تا کړي دي ډېر عجيبه کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه څه چې پلان کړي تا پخوا وو

په وفادارۍ دې رسولي هغه سرته

۲ تا بدل کړي دي ښارونه کنډوالو باندې

او ورانې کړې دې دي ټینګې کلاګانې

کومې ماڼۍ چې جوړې کړې وې پردو قومونو

هغه شوې ورانې د تل دپاره داسې

چې بیا به جوړې نه شي هیڅکله

۳ نو په دې خاطر به وکړي ثنا او صفت ستا

د نړۍ د تکړه قومونو خلک

او خلک به تا نه ویره وکړي

د ظالمو قومونو په ښارونو کې

۴ ځکه چې ته د مصیبت په وخت کې

یې ساتونکی د غریبو او بې وسه خلکو

تا ورکړې ده پناه هغوی ته د توفانونو وخت کې

او ورکړې دې دی سیوری

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سوځوونکې ګرمۍ په وخت کې

د توفان په شان دی پوکی د ظالمانو

چې لګیږي په دېوال

٥ لکه ګرمي د صحرا چې وچوي ځمکه

خو ای څښتنه، غلي کوې ته اوازونه

د پردو قومونو داسې

لکه وريځ چې سړوي ډېره ګرمي

نو غلې کوې ته همدارنګه

سندره د ظالمو خلکو

## د خدای مېلمستيا د صهيون په غره کې

٦ مطلق قادر څښتن به د صهيون په غره باندې د نړۍ ټولو قومونو ته د خوندورو خوراکونو او د انګورو
د ښو زړو شرابو مېلمستيا تياره کړي. ٧ دلته به هغه د غم څادر لېرې کړي چې په ټولو خلکو باندې
هوار دی او د قومونو څخه به هغه کفن لېرې کړي چې په هغوی باندې پروت دی. ٨ څښتن تعالی به د
تل دپاره مرګ لېرې کړي! هغه به د هرچا د سترګو اوښکې وچې کړي او د خپلو خلکو هغه رسوايي او
بې عزتي چې هغوی په ټوله نړۍ کې ورسره مخامخ دي، لېرې کړي. دا په خپله څښتن ويلي دي.

٩ په هغه ورځ به خلک داسې وايي: «وګورئ، هغه زمونږ خدای دی چې ورته سترګې په لاره وو او مونږ
يې ژغورلي يو. هغه څښتن دی چې مونږ د هغه نه هيله لرله، نو په دې خاطر چې هغه مونږ ژغوري، بايد د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالۍ جشن جوړ کړو.»

## خدای موآب ته سزا ورکوي

١٠ ښتن به د صهيون د غره ساتنه کوي، خو د موآب خلک به داسې تر پښو لاندې شي لکه بوس چې په
ډېران کې تر پښو لاندې کيږي. ١١ هغوی به د خپلې ژغورنې په خاطر د لامبوزنو په شان لاس او پښې
وهي، خو ښتن به د هغوی مهارت له منځه يوسي او غرور به يې مات کړي. ١٢ ښتن به د موآب
جنګي کلاګانې چې لوړ لوړ دېوالونه لري، راوغورځوي او د خاورو سره به يې خاورې کړي.

## خدای به خپلو خلکو ته بری ورکړي

٢٦ ١ هغه ورځ راتلونکې ده چې خلک به د يهودا په خاوره کې دا روحاني سندره ووايي:

دی قوي زمونږه ښار

ځکه چاپېر دي له هغه نه

دېوالونه د خدای د خلاصون

٢ دروازې د ښار کړئ خلاصې

ترڅو راننوځي نېک قوم

هغه قوم چې ښتن ته وفادار دی

٣ ای ښتنه، پوره امن کې ساتې ته هغه څوک

چې لري اراده ټينګه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه په تا باندې توکل لري

۴ تل په څښتن باندې توکل وکړئ

ځکه تلپاتې غر دی څښتن خدای زمونږه

۵ هغه څوک چې وو مغرور او کبرجن

هغوی يې کړل خوار او ذليل

هغه ښارونه هغه وران کړل

چې وو قوي او لوړو ځايونو کې وو

او کړل يې د خاورو سره خاورې هغه

۶ اوس په وران شوي ښار کې ګرځي مظلومان

او تر پښو لاندې کوي غريبان خلک

۷ لاره سمه ده د نېکو خلکو

ای څښتنه، هواروې لاره د نېکو خلکو

۸ ای څښتنه، مونږ کوو ستا د حکمونو اطاعت

او ده تاته زمونږ هيله

زمونږه زړونه غواړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ژوندی وساتو ستا نوم او یاد

٩ زه ټوله شپه تاته لېوال يمه

د سهار له خوا زه يمه ستا لټون کې د زړه له کومي

کله چې ته کړې قضاوت د نړۍ د اوسېدونکو

هغه وخت به خلک پوه شي په انصاف او عدالت باندې

١٠ که مهرباني هم وشي په بدکارانو باندې

خو دوی نه زده کوي هېڅکله

چې وکړي نېک کار

هغوی دوام ورکوي د انصاف ځمکه کې هم

بدو کارونو ته خپل

او د څښتن لويي او جلال نه ويني

١١ ای څښتنه، نه پوهيږي دښمنان ستا

چې اوچت شوی دی ستا لاس د هغوی د سزا دپاره

هغوی ته وښايه چې ته لرې غيرت د خپل قوم دپاره

ترڅو وشرميږي دوی او وسوځيږي ستا د قهر اور کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ای څښتنه، ته به راکړې ارامي مونږ ته

ځکه زمونږ بریالیتوب دی ستا د کار نتیجه

۱۳ ای زمونږ څښتنه خدایه،

په مونږ حکم کړی ډېرو واک لرونکو

خو ته یوازېنی واک لرونکی او څښتن يې زمونږ

۱۴ خو اوس مړه شوي هغوی او راژوندي کیږي نه بیا

ارواحګاني د هغوی نه راځي بېرته

ځکه چې تا سزا ورکړې او تباه کړي دي دوی

او له منځه وړی دې د هغوی نوم او نښان دی

۱۵ خو ای څښتنه، تا ډېر کړی دی خپل قوم

پراخ کړی دې دی زمونږ هېواد

او څرګنده کړې دې ده خپله لويي

۱۶ ای څښتنه، هغوی وکړله رجوع تا ته

د کړاوونو وخت کې

کله چې ورکړه تا هغوی ته سزا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا حضور ته يې دعا وکړه

۱۷ ای څښتنه، تا په مونږه داسې چيغې ووهلې

لکه يوه ښځه چې د ماشوم د زېږېدو په وخت کې

له ډېره درده تاويږي راتاويږي او وهي چيغې

۱۸ لکه د ښځې د لنګون په وخت کې

تاوېدو راتاوېدلو مونږ له درده

خو څه مو ونه زېږول

مونږ ورنه کړل ماشومان نړۍ ته

او حاصل مو نه کړلو برې په ځمکه

۱۹ خو مړه شوي خلک به ستا بېرته راژوندي شي

هغوی به پاڅي له قبرونو څخه

چې په خاورو کې اوسيږي هغوی

شي دې راويښ او ودې وايي د خوشحالۍ سندرې

لکه چې څنګه تازه کوي ځمکه ځلېدونکې پرخه

نو څښتن به راژوندي کړي هغه مړه شوي خلک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اسراییلیانو ته سزا او بخښنه

۲۰ ای زما خلکو، خپلو کورونو ته لاړ شئ او خپلو ځانونو پسې دروازې وتړئ. د لږ وخت دپاره خپل ځانونه
پټ کړئ ترڅو د څښتن قهر سوړ شي. ۲۱ ځکه وګورئ، څښتن د خپل استوګنځي څخه راروان دی چې د
ځمکې خلکو ته د هغوی د ګناهونو په سبب سزا ورکړي. د کومو خلکو وینه چې د ځمکې په مخ تویه شوې
ده هغه به ښکاره شي او نور به ځمکه د وژل شویو خلکو مړي نه پټوي.

# ۲۷

۱ په هغه ورځ به څښتن په خپلې تېرې، وژونکې او غټې تورې سره بحري بلا ته یعنې هغه
تښتېدونکی مار چې تاوېږي او راتاوېږي، سزا ورکړي او هغه ښامار به ووژني چې په بحیره کې اوسېږي.

۲ په هغه ورځ به څښتن ووایي: «د یو زړه وړونکي د انګورو باغ په اړه سندره ووایئ:

۳ زه څښتن یمه ساتونکی د دې باغ

او هر وخت ورته اوبه ورکوم

شپه او ورځ ترې زه ساتنه کوم

چې څوک ونه رسوي زیان ورته

۴ زه د انګورو په باغ په قهر نه یمه نور

خو که په کې ولیدل شي اغزي او کرکنې

وبه جنګېږم د هغو په وړاندې

او ټول به وسوځوم زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ خو که وغواړي دښمنان زما د قوم

چې راوړي ماته پناه

او غوښتنه وکړي له ما د روغې جوړې

پربېږدئ چې وکړي روغه جوړه دوی زما سره.»

۶ هغه وخت به راشي چې د اسراییلو قوم یعنې د یعقوب اولاده لکه د ونې په شان ریښې وکړي، غوټۍ
ونیسي او ګلان وغوړوي او ټوله نړۍ له مېوې ډکه کړي.

۷ څښتن اسراییلیانو ته دومره سزا نه ده ورکړې لکه د هغوی دښمنانو ته چې یې ورکړې ده. د اسراییلو
خلک یې د هغوی په اندازه نه دي وژلي. ۸ څښتن د اسراییلو خلکو ته سزا ورکړه او هغوی یې جلاوطنه
کړل. هغوی یې د ختیځ له خوا د یو تند باد سره لېرې یووړل. ۹ خو د اسراییلو ګناهونه به یوازې هغه
وخت وبخښل شي او پای ته به ورسیږي کله چې بتانو ته د قربانۍ د ځایونو تیږې لکه د تباشیر په شان
ټوټې ټوټې شي او همدارنګه بتانو ته د خوشبويۍ د سوځولو د قربانۍ ځایونو او د اشیره د بتانو نښې نښانې
پاتې نه شي.

۱۰ ټینګ ښارونه پرېښودل شوي دي او د دښتې په شان څوک په کې نه اوسیږي. هغه د څارویو څرځای
جوړ شوی دی چې په کې ارام وي او د څانګو پاڼې وخوري. ۱۱ د ونو څانګې وچې شوې، ښځې یې ماتوي
او د سوځولو دپاره یې وړي. څښتن چې د هغوی خالق دی، په دې قوم زړه نه سوځوي او رحم نه کوي، ځکه
چې هغوی پوهه نه لري.

۱۲ په هغه ورځ به څښتن لکه څوک چې غنم له بوسو جدا کوي، همداسې به د اسراییلو خلک د فرات د
سیند نه نیولې د مصر تر پولې پورې یو یو کس راغونډ کړي. ۱۳ په هغه ورځ به لوی سرنی ووهل شي او
هغه ټول اسراییلیان چې د اشور او د مصر په هېوادونو کې جلاوطنه دي، هغوی به بېرته خپل هېواد ته
راستانه شي او د څښتن عبادت به د هغه په سپېڅلي غره باندې چې په اورشلیم کې دی، وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## افسوس د سامرې د ښار په حال

۲۸ ۱ افسوس د سامرې د ښار په حال! ځکه چې د اسراییلو د نشه يي مشرانو د پرتمين تاج په شان
دی. هغه د یوې حاصلخېزې درې په سر پروت دی، خو ښایست به يې لکه د ګلانو په شان مړاوی شي. دا د
هغو خلکو دپاره ویاړ دی چې په شرابو نشه کیږي. ۲ ګورئ، څښتن داسې زورور کسان لري چې حملې
ته تیار دي، دا کسان به د يو زورور توفان، ږلۍ، باران او سېلاب په شان راشي او ښار به تباه او له منځه لاړ
شي. ۳ بیا به سامره چې د نشه يي مشرانو غرور او د يو پرتمين تاج په شان دی، تر پښو لاندې شي. ۴
بیا د دې مړاوي کېدونکي ګل ښکلا به چې د یوې حاصلخېزې درې په سر کې دی، داسې له منځه لاړه شي
لکه د انځرو د لومړنۍ مېوې په شان چې ژر تر ژره وخوړل شي.

۵ په هغه ورځ به مطلق قادر څښتن د خپلو ژوندي پاتې شویو خلکو دپاره لکه د يو پرتمين تاج په شان
وي. ۶ څښتن به هغو کسانو ته چې د قاضیانو په توګه دنده لري د عدالت او انصاف وس او توان ورکړي
او هغو کسانو ته چې د حملې په وخت کې د ښار له دروازو ساتنه کوي، زړورتيا ورکړي.

## اشعیا او د یهودا نشه يي کاهنان او نبیان

۷ حتی تر دې پورې چې کاهنان او نبیان هم دومره نشه دي او دومره ډېر شراب يې څښلي چې په لاره
کاږه واږه روان دي. نبیان په هغه رویاګانو نه پوهیږي چې څښتن ورته رالېږلي او هم کاهنان د قضاوت کولو
په وخت کې زنګيږي. ۸ د هغوی دسترخوان د کانګو او چټلیو څخه ډک دي او هېڅ يو پاک ځای په کې
نه لیدل کیږي.

۹ هغوی زما نه شکایت کوي او وايي: «دا سړی چې مونږ ته زده کړه راکوي، څوک دی؟ د هغه پيغام ته
څوک اړ دی؟ د هغه تعلیم او پيغام یوازې د هغو ماشومانو دپاره ښه دي چې همدا اوس له تي نه بېل شوي
دي. ۱۰ په رښتیا هغه تش د بې معنی لغتونو اواز وباسي.»

۱۱ ګورئ، که تاسو زما خبرو ته غوږ ونه نیسئ، نو څښتن به د پردیو خلکو په وسیله په عجیبه ژبه له تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره خبري وکړي. ۱۲ څښتن غوښتل چې تاسو ستړو ته ارامي درکړي، خو تاسو د هغه د منلو څخه ډډه
وکړه. ۱۳ نو له دې امله به تاسو ته د څښتن کلام لکه د بې معنی لغتونو د اواز په شان وي. نو هغه وخت
چې هر قدم اخلئ، وبه ښويېږئ. تاسو به ټپيان شئ، په دام کې به راګېر شئ او اسيران به شئ.

## د صهيون د بنياد غوره تيږه

۱۴ ای د اورشليم ملنډې وهونکو حاکمانو، د څښتن کلام ته پاملرنه وکړئ. ۱۵ تاسو وايئ چې له مرګ
سره مو تړون کړی دی او د مړو له دنيا سره مو لاس يو کړی دی. تاسو ډاډه يئ چې کله په تاسو باندې د
سيلاب په شان مصيبت راشي نو تاسو به بچ شئ، ځکه چې تاسو فکر کوئ چې کولای شئ په ټګۍ او دروغو
ځان خوندي وساتئ. ۱۶ نو په دې خاطر دا هغه څه دي چې څښتن تعالی يې وايي: «زه د صهيون بنياد
په يوې غوره، ازمايل شوې او قيمتي تيږه ږدم. نو په هغه باندې به دا ټکي ليکل شوي وي: ‹هرڅوک چې
ايمان راوړي، هغه نه وارخطا کيږي.› ۱۷ انصاف به د هغه بنياد دپاره د اندازه کولو رسۍ وي او صداقت
به د هغه شاقول وي.»

توفان او ږلۍ به ستاسو د پناه ځايونه چې د دروغو په بنياد اېښودل شوي دي، وران کړي او سېلابونه به
هغه له منځه يوسي. ۱۸ هغه تړون چې تاسو له مرګ سره کړی ؤ هغه به ړنګ شي او د مړو له دنيا سره
مو چې لاس يو کړی دی هغه به باطل شي. کله چې په تاسو باندې د سيلاب په شان مصيبت راشي، نو تاسو
به د پښو لاندې کړي. ۱۹ هغه مصيبت به په ورځ يا شپه او يا هرکله چې راشي، هغه به ونه شئ زغملای.
که چېرې په دې پيغام باندې پوه شئ، تاسو ته به ډېره وېره پيدا شي. ۲۰ تاسو به د هغه کس په شان يئ
چې په دې متل کې ياد شوی دی: «د هغه کټ دومره لنډ ؤ چې پښې يې په کې نه شواې غزولی او کمپله
يې هم دومره لنډه وه چې ځان يې په کې نه شو پټولی.» ۲۱ څښتن به په قهر راپاڅيږي او جګړه به
وکړي، لکه څنګه چې يې د فراسيم په غره او د جبعون په دره کې کړې وه. نو هغه به عجيبه او غير عادي
کارونه سرته ورسوي. ۲۲ نو بيا زه چې تاسو ته کوم خبرداری درکوم په هغه باندې ملنډې مه وهئ. که
ملنډې مو ووهلې، نو خلاصېدل به درته ډېر ګران شي. ځکه ما د مطلق قادر څښتن خدای پرېکړه واورېدله
چې هغه به ټول وطن وران کړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای حکمت

۲۳ واورئ، ماته غوږ ونیسئ او زما خبرو ته پام وکړئ. ۲۴ هېڅ بزګر په خپلو پټیو کې په پرله پسې توګه
قلبه نه کوي او نه يې د کرلو دپاره هواروي. ۲۵ خو کله چې هغه ځمکه د کرلو دپاره تیاره شوه، په دې
وخت کې په ځمکه کې تخمونه کري. هغه پوهیږي چې د بوټو تخمونه لکه شبت او ځیره چېرته وشیندل
شي، د غنمو او اوربشو تخمونه په قطارونو کې او د غلو دانو نور تخمونه د پټیو په څنډه کې وکرل شي. ۲۶
بزګر په خپله دنده پوهیږي، ځکه چې د هغه خدای ورته سمه لارښودنه کړې ده. ۲۷ هغه د شبت او
ځیرې د تخمونو د ټکولو دپاره د درمند ټکولو څپر نه کار نه اخلي بلکې د لرګیو نه کار اخلي. ۲۸ هغه د
غنمو د درمند په غوبل کولو پوهیږي چې تر کومه وخته هغه غوبل شي چې غنمو ته زیان ونه رسیږي. هغه
د اسونو د ګاډۍ څخه کار اخلي ترڅو وکولای شي د ګاډۍ په ارابو باندې د غنمو درمند ښه غوبل کړي
چې غلې دانې خرابې نه شي. ۲۹ دا هرڅه مطلق قادر څښتن هغه ته ورزده کوي، ځکه چې د هغه نقشې
ډېرې لوړې او د حکمت څخه ډکې دي.

## د اورشلیم کلابندي

۲۹ ۱ ای د قربانۍ لویه ځایه، ای د قربانۍ لویه ځایه، افسوس ستا په حال! هغه ښار چې داود کلابند
کړې ؤ. کال په کال خپل جشنونه او اخترونه ولمانځئ، ۲ خو بیا به څښتن په هغه ښار چې د «خدای د
قربانۍ د لوی ځای» په نوم یادیږي، مصیبت راولي. په ټول ښار کې به ژړا او انګولا وي او هغه به لکه د
قربانۍ د ځای په شان وي. ۳ څښتن به په هغه ښار باندې حمله وکړي او له هرې خوا به يې کلابند او د
کلابندۍ برجونه او په دېوالونو باندې به يې لاره جوړه کړي. ۴ اورشلیم به د ارواحګانو په ښار بدل شي
او د خلکو د زګېروویو اواز به لکه د مړو د ارواحګانو د اواز په شان وي چې د ځمکې د لاندې څخه ښه نه
اورېدل کیږي.

۵ نو ای اورشلیمه، ټول پردي قومونه چې په تا باندې حمله وکړي، هغوی به د دوړو په شان والوزي او
بې رحمه لښکرې به د بوسو په شان په هوا کې لېرې یووړل شي. نو ناڅاپه او سمدلاسه به ۶ مطلق قادر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځېنتن به ستاسو د ژغورنې دپاره راشي. د هغه سره به تندر، برېښنا، زلزله، لوی شور، بوړبوړکۍ، توفان او
تباه کوونکي اور وي. ۷ نو بیا ټول هغه قومونه چې د قربانۍ د لوی ځای یعنې اورشلیم او د هغه د لوړې
کلا په ضد حمله کوي او ښار کلابندوي، هغوی به لکه د شپې د خوب د لیدلو او یا د رویا په شان له سترګو
پناه شي. ۸ هغوی به لکه د یو داسې کس په شان وي چې د لوږې له لاسه مري او په خوب کېویني
چې خوراک کوي خو وږی راپاڅیږي، یا لکه څوک چې له تندې مري او په خوب کې ویني چې اوبه څښي،
خو تږی راپاڅېږي او ستونی یې وچ وي. د هغو ټولو قومونو حالت به چې په اورشلیم د حملې دپاره راټول
شوي دي، همداسې وي.

## خبرداریو ته پاملرنه نه کول

۹ خپلې بې عقلۍ ته دوام ورکړئ او همداسې ړانده اوسئ. بې له شرابو نشه اوسئ. پرته د شرابو د
څښلو نه په لاره زنګېږئ. ۱۰ څکه څښتن تاسو په درانه خوب ویده کړي یئ. نبیان باید د خلکو سترګې
اوسي، خو خدای د هغوی سترګې پټې کړې دي. ۱۱ ټوله رویا به درته لکه د یو مهر شوي کتاب په شان
وي او نه شئ کولای په هغه پوه شئ، هغه که سواد لرونکي سړي ته هم ورکړئ چې هغه ولولي، وایي به: «زه
یې نه شم لوستلی، څکه چې هغه مهر شوی دی.» ۱۲ که هغه کتاب یو داسې کس ته ورکړئ چې سواد
ونه لري او د هغه څخه وغواړئ چې هغه ولولئ، وبه وایي: «زه یې نه شم لوستلی.»

۱۳ څښتن وویل: «دا خلک تش په خبرو زما عبادت کوي، خو زړونه یې په کوم بل ځای کې دي. د هغوی
عبادت یوازې د انساني حکمونو څخه الهام اخلي. ۱۴ په دې خاطر زه به یوځل بیا په خپلو عجیبه او
فوق العاده کارونو هغوی ته ټکان ورکړم. څوک چې پوه وي هغه به ناپوه شي او د هغوی ټوله هوښیاري به له
منځه لاړه شي.»

## د راتلونکې دپاره هیلې

۱۵ افسوس د هغه چا په حال چې خپلې نقشې د څښتن څخه پټوي! هغوی خپلې نقشې په تیاره کې عملي
کوي او وایي: «څوک کولای شي مونږ ووینې؟ څوک پوهیږي چې مونږ څه کوو؟» ۱۶ هغوی سرچپه فکر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي او د کلال او د منګي په فرق نه پوهيږي. ايا جوړ شوی شی خپل جوړوونکي ته ويلی شي: «تا زه نه يم جوړ کړی» يا ووايي: «ته په هېڅ هم نه پوهېږې»؟

١٧ په ډېر لنډ وخت کې به د لبنان د ځنګل نه حاصلخيزه پټي جوړ شي او د پټيو نه به ځنګل جوړ شي.
١٨ کله چې هغه ورځ راشي کوم کتاب چې په لوړ اواز سره لوستل کيږي نو کاڼه به يې اورېدلی شي او
هغه ړانده چې په تياره او تورتم کې ژوند تېروي، د هغوی سترګې به وغړېږي. ١٩ ښتن به يوځل بيا
مظلومان خوشحاله کړي او غريبان به د اسراييلو د سپېڅلي خدای له امله خوشې وکړي. ٢٠ د هغو خلکو
ژوند به پای ته ورسيږي چې ظلم کوي او په خدای باندې ملنډې وهونکي به له منځه لاړ شي. هغه خلک به
تباه شي چې بدې نقشې جوړوي. ٢١ ښتن به هغه کسان له منځه يوسي چې د دروغو په ويلو سره يو
بې ګناه انسان مجرم ګڼي، جنايت کوونکو ته د سزا د ورکولو مخنيوی کوي او په محکمه کې د بې ګناه
خلکو حق خوري.

٢٢ نو په دې خاطر ښتن چې ابراهيم يې د کړاوونو څخه وژغوره، د يعقوب د اولادې په اړه داسې وايي:
«د يعقوب قوم به نور نه بې عزته کيږي او د هغوی مخونه به نور له شرمه نه سره کيږي. ٢٣ کله چې زه
هغوی ته اولادونه ورکړم او هغوی هغه ووينې، نو بيا به دا ومني چې زه د اسراييلو سپېڅلی خدای يم.
هغوی به له وېرې زما درناوی کوي. ٢٤ څوک چې بې لارې کيږي، هغوی به په حقيقت پوه شي او هغه
کسان چې ګيله لري هغوی به تعليم ومني.»

## د مصر سره بې ګټې تړون

**٣٠** ١ ښتن ويلي دي: «افسوس د ياغي زامنو په حال! ځکه هغوی له ما سره مشوره نه کوي او خپلې
نقشې جوړوي. زما د خوښې او رضا په خلاف د نورو سره تړون کوي او په دې ډول د خپلو ګناهونو بار
ډېروي. ٢ هغوی بې له دې چې زما سره مشوره وکړي د مرستې په خاطر مصر ته ځي. هغوی له فرعونه
غواړي چې د دوی ساتنه وکړي او هغوی د مصر سيوري ته پناه وړي. ٣ خو په فرعون توکل به د هغوی
د شرم او د مصر سيوري ته پناه وړل به د هغوی د رسوايۍ سبب وګرځي. ٤ که څه هم د يهودا د پاچا
استازي لا د مخکې نه د مصر د صوعن او حانيس ښارونو ته رسېدلي دي، ٥ د يهودا قوم به وشرمېږي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رسوا به شي چې هغوی په یو بې باوره هېواد باندې باور وکړ. ځکه هغوی ورځخه د مرستې تمه لرله، خو هغه هېواد د هغوی سره هېڅ مرسته ونه کړه.»

۶ دا د څښتن هغه پیغام دی چې د جنوبي دښتې د حیواناتو په اړه دی: دا استازي د هغه وطن په لاره سفر کوي چې خطرناک او د ستونزو څخه ډک دی، چې هلته زمریان او زهرجن او ټوپ وهونکي ماران اوسیږي. هغوی خپل خره او اوښان په قیمتي سوغاتونو بار کړي دي او هغه هېواد ته یې وړي چې د هغوی سره مرسته نه شي کولای. ۷ د مصر مرسته ګټه نه لري. نو ځکه ما مصر ته د «د سیند د لویې او بېکاره بلا» لقب ورکړی دی.

## د خلکو سرغړونه

۸ څښتن ماته وویل: «اوس لاړ شه، د هغوی په وړاندې دا ټولې پېښې د یوې تیږې په لوحې او یا په یو طومار کې د تلپاتې نښې په توګه ولیکه. ۹ هغوی تل د څښتن په وړاندې سرغړونه کوي، دروغجن دي او د هغه د تعلیم د منلو څخه انکار کوي. ۱۰ هغوی نبیانو ته وایي: ‹رویاګانې مه ګورئ. مونږ ته د رښتینولۍ په اړه خبرې مه کوئ. مونږ ته هغه خبرې وکړئ چې اورېدل یې غواړو. خیر دی که هغه دروغ هم وي. ۱۱ زمونږ له لارې نه اخوا شئ او زمونږ مخه مه نیسئ. مونږ نه غواړو چې د اسراییلو د سپېڅلي خدای په اړه څه واورو.›»

۱۲ په دې خاطر د اسراییلو سپېڅلی خدای داسې وایي: «زه چې څه وایم هغه تاسو نه منئ او په ظلم او غولونې باندې تکیه کوئ. ۱۳ تاسو ګناهکاران یئ. تاسو د هغه لوړ دېوال په شان یئ چې درز یې کړی وي او دا دېوال به ډېر زر ناڅاپه راوغورځیږي. ۱۴ دا دېوال به لکه د خاورین لوښي په شان ټوټې ټوټې شي، داسې په بې رحمۍ سره به ټوټې ټوټې شي چې یوه ټوټه به یې هم داسې غټه نه وي چې د نغري نه ورباندې بل سکاره راواخیستلی شي او یا په کې د ډنډ څخه اوبه راوویستل شي.»

۱۵ څښتن تعالی د اسراییلو سپېڅلی خدای خلکو ته داسې وایي: «زما خواته راستانه شئ او په ما باندې باور وکړئ ترڅو وژغورل شئ. بیا به تاسو قوي، ارام او په امن کې اوسئ.» خو تاسو دا ونه غوښتل. ۱۶ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې په ځای، تاسو پلان لرئ چې په تېزو اسونو باندې سپاره شئ او د خپلو دښمنانو څخه وتښتئ. تاسو په
حقه يئ، بايد وتښتئ. تاسو فکر کوئ چې ستاسو اسونه تېز دي، خو د هغو خلکو اسونه چې په تاسو پسې
دي هغه ستاسو د اسونو څخه ډېر تېز دي! ١٧ کله چې تاسو د دښمن يو عسکر ووينئ، نو ستاسو زر
کسان به ورڅخه وتښتي. پنځه عسکر ستاسو د ټولو د ځغلولو دپاره بس دي. ستاسو د لښکر څخه به د غره
په سر د بيرغ د لرګي پرته نور هېڅ شی پاتې نه شي. ١٨ خو بياهم څښتن دې ته انتظار کوي چې په تاسو
باندې مهربان شي. هغه تيار دی چې په تاسو رحم وکړي، ځکه چې څښتن عادل خدای دی. هغه خلک
بختور دي چې په څښتن باندې توکل کوي.

## د خدای برکت ورکول خپل قوم ته

١٩ ای د صهيون خلکو چې په اورشليم کې اوسېږئ، تاسو به نور ونه ژاړئ. څښتن رحيم دی او څنګه چې
هغه ستاسو ژړا او چيغې واوري، نو په تاسو به رحم وکړي او ستاسو غوښتنه به ومني. ٢٠ که څه هم
څښتن تاسو ته د ډوډۍ او اوبو دپاره تکليف درکړی دی، بياهم هغه ستاسو ښوونکی دی او نور به ستاسو
څخه خپل ځان نه پټوي. تاسو به په خپلو سترګو هغه ووينئ. ٢١ که چېرې له تاسو لاره ورکه شي چې ښي
خواته لاړ شئ يا چپ خواته، ستاسو غوږونه به د شا له خوا د هغه اواز واوري: «لاره دا ده، په دې لاره لاړ
شئ.» ٢٢ بيا به تاسو خپل هغه بتان چې په سپينو او سرو زرو باندې پوښل شوي دي لکه د نجس شي په
شان لېرې ګوزار کړئ او وبه وايئ: «زمونږ د مخې نه لېرې شئ!»

٢٣ هرکله چې تاسو تخمونه کرئ نو څښتن به باران را اوروي چې هغه راشنه شي او تاسو ته به پرېمانه
حاصلات درکړي. هغه وخت به ستاسو د څارويو د پوولو دپاره پراخه څرځايونه وي. ٢٤ کوم غوايان او
خره چې ستاسو په پټيو کې قلبه کوي هغوی به ډېر ښه خوراک چې په بېلچې او درې غاښي ښاخې سره
پاک شوی دی، وخوري. ٢٥ کله چې ستاسو دښمنان ووژل شي او لوړ برجونه يې راوغورځېږي، په هغه
ورځ به ستاسو دپاره د اوبو وياله له هره غره څخه او له هرې غونډۍ څخه جاري شي. ٢٦ د سپوږمۍ رڼا
به د لمر په شان وي او د لمر رڼا به اووه ځلې زياته شي او داسې به وي لکه په يوه ورځ کې چې د اوو ورځو
رڼا راشي. دا به هغه وخت وشي چې څښتن د خپلو خلکو هډوکي چې مات کړي يې دي وتړي او په هغو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټپونو باندې چې خپلو خلکو ته يې ورکړي دي د ملهم پټۍ کېږدي او هغوی روغ کړي.

## اشور ته سزا

٢٧ وګورئ، د څښتن واک او جلال د لېرې ځای څخه ښکاري. اور او تور لوګی د هغه د غوسې نښه ده.
هغه خبرې کوي او د هغه وينا د اور په شان سوځوونکې ده. ٢٨ د هغه ساه لکه د سېلاب په شان ده چې
اوبه يې تر ستوني پورې رسيږي. هغه به قومونه چاڼ او غلبېل کړي چې ورک يې کړي. هغه به د هغوی په
خوله کې قيضه واچوي او د تباهۍ خواته به يې يوسي. ٢٩ خو ای د څښتن قومه! تاسو به خوشحاله يئ او
داسې سندرې به ووايئ لکه د سپېڅلي اختر په شپه يې چې وايئ. تاسو به د هغو خلکو په شان خوشحاله يئ
چې د شپېلۍ په وهلو سره د څښتن کور ته روان وي، د هغه چا کور چې د اسراييلو ساتونکی دی.

٣٠ څښتن به خپل د شان او شوکت نه ډک اواز د هر چا غوږ ته ورسوي او د خپل قهر زور به ورته وښايي.
هرڅوک به د اور لمبې، سيلۍ، زورور باران او د ږلۍ توفان ووينې. ٣١ کله چې اشوريان د څښتن اواز
واوري، نو هغوی به د هغه د سزا لرګی احساس کړي او ډېر به ووېرېږي. ٣٢ هرځل چې څښتن په خپل
لرګي په هغوی ګوزارونه کوي، نو د هغه قوم به چمبې او ربابونه وهي. خدای به په خپله د اشوريانو په
وړاندې وجنګيږي. ٣٣ ډېر پخوا د اشور پاچا د مړي د سوځولو دپاره يو ځای تيار شوی ؤ. هغه ځای ژور
او پراخه دی او د لرګيو څخه ډک دی. د څښتن پوکی به لکه د اور غورځوونکي لمبو د ويالې په شان هغه
ته اور واچوي.

## د اورشليم ساتندوی

٣١ ١ افسوس د هغو کسانو په حال چې د مصر د خلکو څخه مرسته غواړي! هغوی د مصر په لوی
نظامي قوت، يعنې اسونو، جنګي ګاډيو او په اسونو سپاره عسکرو باندې تکيه کوي. خو هغوی په څښتن،
يعنې د اسراييلو په سپېڅلي خدای تکيه نه کوي او نه ورڅخه مشوره غواړي. ٢ خو څښتن په خپل
حکمت سره پوهيږي چې څه بلا او مصيبت په هغوی نازل کړي. هغه خپله اراده سرته رسوي. بد عمله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو او د هغوی ملاتړ کوونکو ته به سزا ورکړي. ۳ مصریان انسانان دي، نه خدای. د هغوی اسونه
یوازې جسم لري، کوم روحاني موجودات نه دي. کله چې څښتن هغوی ته د سزا ورکولو دپاره خپل لاس
اوږد کړي، نو مرسته ورکوونکي به وښوییږي او مرسته اخیستونکي به ولویږي. ټول به یوځای له منځه لاړ
شي.

۴ څښتن ماته داسې وویل: «فرض کړئ یو زمری په خپل ښکار باندې غوریږي او د شپنو یوه ډله
راغونډیږي چې ویې شړي، خو بیاهم زمری په بې پروایۍ سره د شپنو د چیغو او شورماشور څخه نه
وېریږي. همدا شان به زه چې مطلق قادر څښتن یم، د صهیون په غره د جګړې دپاره راښکته شم. زما مخه
هېڅوک نه شي نیولی. ۵ لکه څنګه چې یوه مرغۍ د خپلو بچیانو د ساتلو دپاره د خپلې ځالې په شاوخوا
کې الوزي، نو زه مطلق قادر څښتن به هم د اورشلیم ساتنه کوم او هغه به وژغورم.»

۶ ای د اسراییلو خلکو، تاسو د څښتن په وړاندې سخته سرغړونه کړې ده. نو اوس بېرته د هغه خواته
راوګرځئ. ۷ یو داسې وخت راروان دی چې تاسو ټول به هغه بتان چې په خپلو ګناهکارو لاسونو مو له
سپینو او سرو زرو جوړ کړي دي، لېرې وغورځوئ.

۸ «اشوریان به د تورې په وسیله له منځه لاړ شي، خو نه د انسان په توره. هغوی به د جګړې له ډګره
وتښتي او ځوانان به یې د بېګارۍ دپاره ونیول شي. ۹ د هغوی زړور عسکر به له وېرې وتښتي او د
هغوی قوماندانان به دومره ووېریږي چې هغوی به خپل د جګړې بیرغونه هم پرېږدي او وبه تښتي.» دا د
څښتن وینا ده، هغه څښتن چې حضور یې په صهیون کې د اور او په اورشلیم کې د تنور په شان دی.

## عادل پاچا

**۳۲** ۱ وګورئ، یو وخت به یو عادل پاچا په تخت کښېني او د هغه ټول مامورین به هم په انصاف او
صداقت سره حکومت وکړي. ۲ هغوی هر یو به د باد او توفان څخه د پټېدلو د ځای په شان وي. هغوی
به د داسې ویالو په شان وي چې په وچه ځمکه کې بهیږي او په شاړه ځمکه کې به د یو لوی ګټ د سیوري

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شان وي. ۳ نو بیا به د هغوی سترګې د حقیقت د لیدلو دپاره بندې نه وي او غوږونه به یې د اورېدلو
دپاره خلاص وي. ۴ هغوی به نور نه بې حوصلې کېږي، بلکې په هوښیارۍ سره به عمل کوي. د چا چې
ژبه بندېږي هغوی به د خلکو سره په روانه ژبه خبرې وکړي. ۵ نور به هېڅوک بې عقله سړي ته شریف
او رذیل سړي ته نېک ونه وایي. ۶ بې عقله سړی بې عقلې خبرې کوي او د بدو کارونو په اړه فکر کوي.
هغه غواړي چې بد کارونه او د څښتن په خلاف غلطې ویناوې وکړي. له وږو خلکو سره مرسته نه کوي او
تږو خلکو ته اوبه نه ورکوي. ۷ رذیل سړی بد سړی وي او بد کارونه کوي. هغه د دروغو په ویلو سره د
غریبانو د تباه کولو دپاره دسیسې جوړوي او د دې مخه نیسي چې هغوی دې خپل حقونه تر لاسه کړي.
۸ خو شریف خلک د نېک کار نقشه جوړوي او په نېک کار باندې ټینګ ولاړ وي.

## د اورشلیم ښځو ته خبرداری

۹ ای بې پروا ښځو، چې هوسا ژوند لرئ، زما خبرو ته غوږ ونیسئ. ای مېرمنو، چې په ځان باندې تکیه
کوئ زما وینا ته پام وکړئ! ۱۰ اوس تاسو د خپل ژوند څخه راضي یئ، خو یو کال او څو ورځې وروسته به
تاسو په لړزېدلو شئ، ځکه د انګورو او د نورو مېوو حاصلات به نه وي چې هغه راټول کړئ. ۱۱ ای ښځو،
تاسو چې ارام او بې غمه ژوند لرئ، اوس له وېرې په لړزېدلو شئ! خپل کالي وباسئ، بربنډې شئ او د وير
کالي واغوندئ. ۱۲ له غمه خپلې سینې ووهئ، ځکه چې حاصلخېزه پټي او د انګورو تاکونه مو تباه شوي
دي ۱۳ او د اغزیو او د کرکڼو بوټي زما د قوم په ځمکه کې راشنه شوي دي. هو، په دې خاطر هم غم
وکړئ چې د هغو د کورونو او د ښار خوشحالي او خندا به پای ته ورسیږي. ۱۴ حتی پاچا به هم شاهي
ماڼۍ پرېږدي او له ګڼه ګوڼې ډک پایتخت به له خلکو څخه بیخي خالي شي. هغه جنګي کلا او د هغه
برجونه چې د هغو په وسیله به څارنه کېدله، هغه به وران او د تل دپاره به د حیواناتو استوګن ځای شي.
ځنګلي خره به په کې هسې ګرځي او راګرځي او پسونه به په کې څرېږي. ۱۵ تر هغه وخته به حالات
همداسې وي، ترڅو چې د اسمان څخه په مونږ باندې د خدای روح نازل شي. دښته به په حاصلخېزه پټي
بدله شي او دا پټی به ډېر حاصلخېزه وي. ۱۶ نو بیا به عدالت په دښته کې پیاده شي او انصاف به په
حاصلخېزه پټي کې عملي شي. ۱۷ د انصاف نتیجه به تلپاتې سوله او امن وي. ۱۸ زما قوم به په امن
ځایونو کې اوسیږي او کورونه به یې خوندي او ارام وي. ۱۹ حتی که ږلۍ ځنګلونه ویجاړ هم کړي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارونه د خاورو سره خاورې هم شي. ۲۰ بختور يئ تاسو چې د کروندو دپاره پرېمانه اوبه لرئ او د خرو او
غوياڼو دپاره هر چېرته د څرېدلو ځايونه لرئ.

## د مرستې دپاره دعا

۳۳ ۱ افسوس ستاسو په حال چې خلک تباه کوئ او خيانت کوئ، که څه هم تاسو تباه او برباد شوي
نه يئ او نه ستاسو سره خيانت شوی دی. ستاسو د تباهۍ او خيانت وخت به پای ته ورسيږي او هغه وخت
به راورسيږي چې تاسو د تباهۍ او خيانت ښکار شئ.

۲ ای څښتنه، په مونږ رحم وکړه. زمونږ هيله تاته ده. هر سهار مونږ ته قوت راکړه او د کړاوونو په وخت
کې زمونږ ژغورونکی شه. ۳ کله چې دښمن ستا د تندر په شان اواز اوري، نو تښتي. ستا له پاڅېدو سره
قومونه خواره واره کيږي. ۴ زمونږ د دښمنانو شتمني به داسې لوټ او تالا شي، لکه ملخان چې په
کروندو باندې حمله وکړي.

۵ څښتن څومره لوی دی. هغه په اسمان کې اوسيږي. هغه به صهيون د عدالت او انصاف څخه ډک
کړي ۶ او ستاسو دپاره به يو ټينګ بنياد وي. هغه به تل تاسو وژغوري او تاسو ته به ډېر حکمت او ډېره
پوهه درکړي. د څښتن څخه وېره د صهيون دپاره د خزانې په شان ده.

۷ واورئ! زړور خلک په کوڅو کې د مرستې دپاره چيغې وهي. د سولې استازي اوس په چيغو چيغو
ژاړي. ۸ لويې لارې دومره له خطره ډکې شوې دي چې هېڅوک ورباندې سفر نه شي کولای. خلکو
تړونونه مات کړي دي او هغه وعدې چې د شاهدانو په وړاندې يې کړې وې، نه دي عملي کړې. هغوی نور
د هېچا درناوی نه کوي. ۹ د اسراييلو ځمکه وچه او شاړه پرته ده. د لبنان ځنګلونه وچ شوي دي. د
شارون حاصلخېزه دره لکه د دښتې په شان شوې ده. د باشان او د کرمل د ونو پاڼې رالوېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د څښتن خبرداری خپلو دښمنانو ته

۱۰ څښتن قومونو ته وايي: «اوس پاڅېږم. زه به تاسو ته خپل قدرت او لويي وښايم. ۱۱ ستاسو نقشې
بې ارزښته دي او هرڅه چې کوئ هغه بې ګټې دي. ستاسو نفس به په اور بدل شي، تاسو به په خپله
وسوځوي او له منځه به مو يوسي. ۱۲ تاسو به لکه د اغزيو د بوټو په شان په اور کې وغورځول شئ، وبه
سوځئ او په ايرو به بدل شئ. ۱۳ ای لرې او نژدې خلکو، څه چې مې تر سره کړي، هغه ته پام وکړئ او
زما قدرت ومنئ.»

۱۴ د صهيون ګناهکاران وېرېږي، بې ايمانه خلک رپيږي او وايي: «د خدای قضاوت د يو تباه کوونکي اور
په شان دی. څوک به زمونږ څخه په داسې تل بلېدونکي اور کې ژوندی پاتې شي؟» ۱۵ هغه څوک ژوندی
پاتې کېدای شي چې په خپل ژوند کې نېک وي او رښتيا وايي، د غريبانو د غولولو دپاره د خپل زور څخه کار
وانخلي او د رشوت اخيستلو څخه لاس واخلي، د قتل په نقشو کې برخه وانخلي او د بدۍ څخه هم ځان
وساتي. ۱۶ داسې کسان به په امن کې ژوند کوي او هغوی به داسې په امن کې اوسېږي لکه څنګه چې
څوک د تيږو په کلاګانو کې اوسېږي. هغوی ته به خواړه ورکړل شي او بې له شکه به اوبه ولري.

## د جلال څخه ډکه راتلونکې

۱۷ تاسو به د پاچا هغه شان او شوکت ووينئ چې په يو لوی او پراخ هېواد پاچاهي کوي. ۱۸ بيا به د
تېر شوي ظلم په اړه فکر وکړئ، له خپل ځانه به پوښتنه وکړئ او وبه وايئ: «هغه پردي مامورين چېرته دي
چې زمونږ نه به يې باج اخيسته؟ هغه جاسوسان چېرته دي چې زمونږ برجونه به يې شمېرل؟» ۱۹ خو
تاسو به نور د هغه پردي هېواد کبرجن خلک ونه وينئ چې په پردۍ ژبه يې خبرې کولې او تاسو د هغه په
معنی نه پوهېدلئ. ۲۰ صهيون ته وګورئ، يعنې هغه ښار ته چې مونږ په کې خپل ديني اخترونه لمانځو.
تاسو به اورشليم ووينئ چې هغه د اوسېدلو دپاره څنګه خوندي ځای دی. اورشليم به د هغې خېمې په شان
وي چې نه خوځېږي او موږي به يې هېڅکله راونه ويستل شي او رسۍ به يې هېڅکله ونه شلېږي. ۲۱
هلته به زمونږ د جلال څخه ډک څښتن د لويو سيندونو او ويالو په شان زمونږ څخه ساتنه وکړي او نور به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دښمن کشتۍ ونه شي کولای د هغه نه تېرې شي. ۲۲ څښتن په خپله زمونږ قاضي، حکم ورکوونکی او
پاچا دی او هغه به مونږ وژغوري. ۲۳ د دښمن د کشتۍ ګانو طنابونه او رسۍ به سستې شي، نه به يې
ستنې ټينګې شي او نه به يې بادوانونه خلاص شي. د دښمن د لښکرو ټول مالونه به د غنيمت په توګه
ووېشل شي او دا مال به دومره ډېر وي چې ګوډانو ته به هم په کې خپله برخه ورسيږي. ۲۴ زمونږ د وطن
اوسېدونکي به هېڅکله دا شکايت ونه کړي: «زه ناروغ يم» او د هغوی ټول ګناهونه به وبخښل شي.

## د خدای دښمنانو ته سزا

۳۴ ۱ ای د ټولو قومونو خلکو، نژدې راشئ او غوږ ونيسئ. ای د نړۍ ټولو خلکو واورئ! ۲ څکه
څښتن په ټولو قومونو او د هغوی په لښکرو ډېر په قهر دی. هغوی به په مرګ محکوم او ټول به حلال کړي.
۳ د هغوی مړي به نه ښخيږي، د خوسا شويو مړو بوی به ټوله څمکه ونيسي او د هغوی وينې به د
غرونو نه جاري شي. ۴ لمر، سپوږمۍ او ستوري به خواره واره او فنا شي. اسمان به لکه د طومار په شان
تاو او راتاو شي او ستوري به داسې راولويږي لکه څنګه چې د انګورو د تاک څخه وچې پاڼې او د انځرو د
ونو څخه وچ انځر رالويږي.

۵ د څښتن تورې خپل کار په اسمان کې سر ته رسولی دی او اوس به د ادوم په خلکو ګوزار وکړي،
يعنې هغه خلک چې څښتن په نابودۍ محکوم کړي دي. ۶ د هغه توره به په وينو رنګ او په وازګو کې
پټه وي، يعنې د وريو او وزو په وينو او همدارنګه د پسونو د پښتورګو په وازګو کې. هو، څښتن به د ادوم د
هېواد او د بزرې په ښار کې ډېر خلک لکه د قربانۍ په شان حلال کړي. ۷ حتی هغه خلک به هم مړه
شي چې د څنګلي غويانو او سخوندرانو په شان قوي دي. څمکه به په وينو خړوبه او په وازګو به پټه شي.

۸ څکه څښتن له دښمنانو څخه د بدل د اخيستلو ورځ او د صهيون د تاوان ورکولو دپاره يې کال ټاکلی
دی. ۹ د ادوم سيندونه به د قير څخه ډک او خاوره به يې په ګوګړو بدله شي او ټول وطن به د قير په
شان وسوځي. ۱۰ ادوم به شپه او ورځ سوځي او تل به ورڅخه لوګی پورته کيږي. هغه وطن به له يو نسله
تر بل نسله پورې وران وي او نور به هېڅوک له هغه ځايه تېر نه شي. ۱۱ کونګيان او کارغان به هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېواد ونیسي او هغوی به په کې واوسیږي، ځکه ښتن اراده لري چې ادوم له منځه یوسي او هغه شاړ او خالي پرېږدي. ۱۲ د اشرافو څخه به هېڅوک ژوندی پاتې نه شي، ترڅو پاچا شي او ټول مشران به له منځه لاړ شي. ۱۳ په ټولو ماڼیو او دېوال لرونکو ښارونو کې به اغزي راشنه شي او سورلنډیان او کونګیان به په کې اوسیږي. ۱۴ په ادوم کې به د صحرا حیوانات د لېوانو سره قدم وهي او د وزانو په شکل پېریان به په کې یو بل ته نارې وهي. همدارنګه د مرغۍ په شان دېوان به د شپې په وخت هلته ځي چې د ارام کولو دپاره ځای پیدا کړي. ۱۵ کونګیان به په ادوم کې خپلې ځالې جوړوي، هګۍ به په کې اچوي، بچې به ورنه وباسي او د خپلو بچیو ساتنه به کوي. هلته به د باښو جوړې هم راشي.

۱۶ د ښتن کلام ولټوئ او ولولئ، ترڅو پوه شئ چې د هغه ټولې پېشګویۍ عملي کیږي. ټول وحشي حیوانات او مرغان به حاضر وي او هېڅ یو به بې جوړې نه وي. ځکه ښتن په خپله دا ویلي دي او د هغه روح به هغوی راټول کړي. ۱۷ دا ښتن دی چې د ادوم اندازه یې معلومه کړې ده او حیوانات او مرغان یې په کې وېشلي دي، ترڅو هغه هېواد تل د هغوی شي او نسل په نسل په هغه کې واوسیږي.

## د خوشحالۍ سپېڅلې لاره

**۳۵** ۱ خوشحالي به وکړي صحرا او وچه ځمکه

خوشحالي به وکړي دښته

او وبه غوړیږي ګلان

۲ او هغه ګلان به غوټۍ ونیسي پرېمانه

اوربدل کیږي به په دې ځایو کې

نارې او د خوشحالۍ سندرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شنه او ښکلې به شي دښته

د لبنان د غرو په شان

شي حاصلخيزه به د کرمل

او شارون د کروندو په شان

خلک به وګوري شان او شوکت د څښتن

هغوی به ويني لويي زمونږ د خدای

۳ ورکړه قوت کمزورو او ستړو لاسونو ته

او قوي کړه هغه زنګنونه چې لړزيږي

۴ چې انديښمن دي څوک، هغوی ته ووايئ:

«شئ قوي او مه ويرېږئ

ګورئ، راروان دی ستاسو خدای

تاسو به وژغوري

سزا به ورکړي هغه ستاسو دښمنانو ته

او ستاسو بدل به د هغوی نه واخلي.»

۵ په هغه وخت کې به ړانده بينا شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کاڼه به اوري

۶ وهي ټوپونه به ګوډان لکه هوسۍ په شان

څوک چې ګونګیان وي وهي نارې د خوشحالۍ به هغوی

په صحرا کې به بهیږي چینې د اوبو

او په دښته کې ویالې د اوبو

۷ شي به بدلې سوځوونکې شګې د اوبو په ډنډ

او وچه ځمکه د اوبو په چینو

چې په کوم ځای کې اوسېدل سورلنډیان

هلته راشنه به شي واښه او لوخې

۸ هلته به خلاصه شي یو لویه لاره

چې وي به یې نوم «سپېڅلې لاره»

تېر به نه شي ناپاک خلک په دې لار هېڅکله

خو غوره قوم د څښتن به په دې لاره قدمونه وهي

هرڅوک چې لاړ شي په دې لاره

که وي بې عقل هم خو نه به شي بې لارې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ هلته به نه وي زمريان

په دې لار به نه وي داړونکي حيوانات

خو چې ازاد کړي دي کوم خلک څښتن

هغوی به وکړي په دې لاره سفر

١٠ هغه خلک چې ازاد کړي دي څښتن

په خوشحالۍ سره به ورسيږي اورشليم ته هغوی

او راستانه به شي صهيون ته له سندرو سره

د هغوی په سر به وي تلپاتې خوشحالي لکه د تاج په شان

د هغوی زړونه به وي ډک له خوشحالۍ نه

او شي به خلاص د غم او له خفګانه څخه

## په يهودا باندې د سنخاريب حمله

(دوهم پاچاهان ١٨: ١٣ - ٢٧ او دوهم تواريخ ٣٢: ١ - ١٩)

٣٦ ١ د حزقيا د پاچاهۍ په څوارلسم کال د اشور پاچا سنخاريب د يهودا په ټولو قوي شويو ښارونو
باندې حمله وکړه او هغه يې ونيول. ٢ د اشور پاچا يو لوی لښکر د خپل لوړ رتبه مامور سره د لاکيش
څخه ولېږه چې په اورشليم کې د حزقيا مخالفت وکړي. هغه د پاسني ډنډ د لښتي په غاړه چې د کاليو
وينځونکو د پټي په لاره کې پرته ده، ودرېده. ٣ د حزقيا پاچا درې درباريان دباندې راووتل چې د هغوی
سره ليدنه کتنه وکړي. هغه درباريان دا وو: د حلقيا زوی الياقيم چې د ماڼۍ مسوول ؤ، شبنا د دربار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منشي او د اساف زوی يواخ چې د پېښو د ثبتولو مسوول ؤ. ۴ د اشوريانو لوړ رتبه ملکي مامور هغوی ته
وويل: «لوی پاچا يعنې د اشور پاچا غواړي په دې پوه شي چې حزقيا پاچا په څه شي باندې تکيه کوي؟ ۵
خپل پاچا ته ووايئ: ‹ايا ته فکر کوې چې يوازې خبرې کولای شي چې د عسکري پوهې او قدرت ځای
ونيسي؟ ته په چا باندې تکيه کوې چې زما په وړاندې ياغي شوی يې؟ ۶ گوره، ته په دې تمه يې چې
مصر به درسره مرسته وکړي، خو هغه به د هغې کړکې په شان وي چې د امسا په توګه ورڅخه کار اخيستل
کيږي. هغه به مات شي، ستا په لاس کې به ننوځي او تا به ټپي کړي. نو هرڅوک چې د مصر په پاچا باندې
تکيه وکړي هغه به همداسې شي.

۷ کېدای شي ماته ووايئ چې مونږ په خپل څښتن خدای باندې تکيه کوو. ايا دا هغه څوک نه دی چې
حزقيا د هغه د عبادت او د قربانۍ ځايونه له منځه يووړل او د يهودا او اورشليم خلکو ته يې وويل چې تاسو
د دې قربانۍ ځای په وړاندې چې په اورشليم کې دی عبادت وکړئ؟ ۸ زه به ستاسو سره د خپل بادار،
يعنې د اشور د پاچا په استازيتوب يو شرط کېږدم. زه به تاسو ته دوه زره اسونه درکړم، خو که چېرې تاسو
وکولای شئ چې همدومره کسان پيدا کړئ چې په هغو باندې سپاره شي. ۹ تاسو د جنګي ګاډيو او سپرو
عسکرو په خاطر په مصر باندې تکيه کوئ. نو څنګه کولای شئ چې تاسو زما د بادار د خدمتګارانو څخه
حتی يو ډېر کمزوری منصبدار په شا وتمبوئ؟ ۱۰ ايا تاسو فکر کوئ چې ما د څښتن د مرستې څخه پرته
ستاسو په وطن باندې حمله کړې ده چې هغه وران کړم؟ څښتن په خپله ماته وويل چې په هغه باندې حمله
وکړم او هغه له منځه يوسم.›»

۱۱ په دې وخت کې الياقيم، شبنا او يوآخ هغه لوړ رتبه مامور ته وويل: «مهرباني وکړئ، زمونږ سره د
آرامۍ په ژبه خبرې وکړئ، ځکه چې مونږ په هغې باندې پوهېږو. د يهودا په ژبه خبرې مه کوئ، ځکه هغه
ټول خلک چې په دېوال باندې ناست دي ستاسو خبرو ته يې غوږ ايښی دی.» ۱۲ هغه لوړ رتبه مامور
ځواب ورکړ: «ايا تاسو فکر کوئ چې زما پاچا زه د دې دپاره رالېږلی يم چې دا ټولې خبرې يوازې تاسو او
ستاسو پاچا ته وکړم؟ نه، زه د هغو خلکو سره هم خبرې کوم چې په دېوال باندې ناست دي. هغوی او تاسو
به دومره وږي او تږي شئ چې خپل غايطه مواد به وخوري او خپلې متيازې به وڅښئ.»

۱۳ بيا هغه مامور ودرېده او په لوړ اواز يې د يهودا په ژبه وويل: «د اشوريانو د لوی پاچا پيغام واورئ!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ پاچا داسې وايي: ‹حزقیا مه پرېږدئ چې تاسو وغولوي. هغه نه شي کولای چې تاسو وژغوري. ۱۵
باور مه کوئ که هغه تاسو ته ووايي: په څښتن باندې تکيه وکړئ. هغه به تاسې وژغوري او دا ښار به د
اشور پاچا ته په لاس ورنه کړل شي. ۱۶ د حزقیا خبرو ته غوږ مه نیسئ، ځکه چې د اشور پاچا داسې وايي:
زما سره روغه جوړه وکړئ. راووځئ او ماته تسلیم شئ. نو تاسو هر يو به د خپلو تاکونو انګور وخورئ، د خپلو
ونو څخه به انځر وخورئ او د خپلو ذخيرو څخه به اوبه وڅښئ. ۱۷ وروسته زه راځم او تاسو به هغه
هېواد ته بوځم چې ستاسو د وطن په شان دی. په هغه هېواد کې چې د شرابو د جوړولو دپاره د انګورو
باغونه او د ډوډۍ د دپاره غلې دانې دي. ۱۸ پام وکړئ داسې نه چې حزقیا تاسو بې لارې کړي او تاسو ته
ووايي چې څښتن به تاسو وژغوري. ايا کله د کوم قوم خدايانو خپل وطن د اشور پاچا له لاسه ژغورلی دی؟
۱۹ چېرته دي د حمات او ارفاد خدايان؟ چېرته دي د سفروايم خدايان؟ ايا هغوی سامره زما د لاسونو
څخه وژغورله؟ ۲۰ د دې ټولو هېوادونو د خدايانو څخه کوم يو دا توان درلود چې خپل هېواد زما څخه
وژغوري؟ نو څښتن به څنګه وکولای شي چې اورشليم زما د لاسونو څخه خلاص کړي؟›»

۲۱ خو خلک غلي پاتې شول او په ځواب کې يې ورته هېڅ ونه ويل، ځکه چې حزقیا پاچا هغوی ته دا امر
کړی ؤ چې ځواب ورنه کړي. ۲۲ نو الياقيم، شبنا او يواخ له غمه خپل کالي وشکول، حزقیا ته ورغلل او
څه چې هغه مامور ورته ويلي وو، هغه يې ورته بيان کړل.

## د اشعيا نبي سره مشوره

(دوهم پاچاهان ۱۹: ۱- ۷)

۳۷ ۱ کله چې حزقیا پاچا دا خبره واورېدله، هغه له غمه خپل کالي وشکول، د وير کالي يې واغوستل
او د څښتن کور ته ورننوت. ۲ هغه د ماڼۍ مسوول الياقيم، د دربار منشي شبنا او د کاهنانو مشران چې
ټولو د وير کالي اغوستي وو، د آموص زوی اشعيا نبي ته ورولېږل. ۳ دوی هغه ته وويل: «حزقیا پاچا
داسې وايي: نن ورځ د خفګان ورځ ده، مونږ ته سزا راکول کيږي او سپکاوی راته شوی دی. مونږ د هغې
ښځې په شان يو چې د اولاد زېږولو ته تياره وي، خو د زېږولو قوت په کې نه وي. ۴ د اشور پاچا خپل
لوړ رتبه مامور د دې دپاره رالېږلی دی چې د ژوندي خدای سپکاوی وکړي. ستا څښتن خدای دا د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپکاوی خبرې اورېدلې دي او هغه چا چې دا خبرې کړې دي، امکان لري چې هغه ته سزا ورکړي. نو د
هغو کسانو دپاره دعا وکړئ چې ژوندي پاتې دي.»

۵ کله چې اشعیا د حزقیا پاچا پیغام تر لاسه کړ، ۶ هغه بېرته دا ځواب ورولېږه: «څښتن تاته داسې
وايي چې اشوريان مه پرېږده چې په دې سپکو خبرو سره تا ووېروي چې څښتن تا نه شي ژغورلی. ۷
څښتن به د اشور په پاچا ځینې ګونګوسې واوروي او هغه به مجبور کړي چې بېرته خپل هېواد ته ستون
شي. هلته به يې په یو چا باندې ووژني.»

## یوځل بیا د اشوریانو ګواښ

(دوهم پاچاهان ۱۹: ۸ - ۱۹)

۸ کله چې د اشور لوړ رتبه مامور خبر شو چې پاچا د لاکیش څخه تللی دی او د لبنه د ښار په وړاندې
جنګېږي، نو هلته ورغی چې د هغه سره مشوره وکړي. ۹ اشوريانو ته خبر ورورسېد چې د مصر لښکر د
ایتوپیا پاچا ترهاقه تر مشرۍ لاندې راروان دی چې حمله وکړي. کله چې د اشور پاچا دا خبره واورېدله، نو
هغه د یهودا پاچا حزقیا ته د استازو په لاس لیک ورولېږه: ۱۰ «په خپل خدای باور مه کوه او د هغه په
هغې وعدې مه غولېږه چې زما په وړاندې به د اورشلیم څخه دفاع وکړي. ۱۱ تا اورېدلي دي چې د اشور
پاچاهانو د ټولو هېوادونو سره څه وکړل. هغه يې په پوره توګه له منځه یوړل. ایا فکر کوې چې ته به
وژغورل شې؟ ۱۲ زما نیکونو د جوزان، حاران او رصف ښارونه له منځه یوړل او د عدن هغه خلک يې چې
په تلسار کې اوسېدل، ووژل او د هغوی د خدایانو څخه هېڅ یو هغوی ونه ژغورل. ۱۳ د حمات، ارفاد،
سفروایم، هینع او عوا د ښارونو پاچاهان چېرته دي؟»

۱۴ حزقیا پاچا د استازو څخه لیک واخیست او هغه يې ولوست. بیا هغه د څښتن کور ته لاړ، هغه لیک
يې د څښتن په حضور کې پرانیست ۱۵ او داسې دعا يې وکړه: ۱۶ «ای مطلق قادر څښتنه، د اسراییلو
خدایه چې د اسماني مخلوقاتو دپاسه په تخت ناست يې! تا اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي. ته یوازېنی
خدای يې چې د نړۍ په ټولو پاچاهیو باندې پاچاهي کوې. ۱۷ نو ای څښتنه، وګوره چې په مونږ باندې
څه تېرېږي. ای ژوندی خدایه! د سنخاریب ټولې خبرې واوره، چې ستا سپکاوی کوي. ۱۸ ای څښتنه، دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رښتيا ده چې د اشور پاچاهانو ټول هېوادونه وران او له منځه وړي دي ۱۹ او د هغوی خدايان يې سوځولي
دي. هغه خدايان نه وو، هغه يوازې د لرګيو او تيږو هغه بتان وو چې د انسان په لاسونو جوړ شوي وو. ۲۰
نو زمونږ څښتن خدايه، مونږ د اشوريانو څخه وژغوره، ترڅو د نړۍ ټولې پاچاهۍ په دې پوه شي چې يوازې
ته څښتن يې.»

## حزقيا ته د اشعيا پيغام

(دوهم پاچاهان ۱۹: ۲۰ - ۳۷)

۲۱ نو د آموص زوی اشعيا حزقيا پاچا ته دا پيغام ورولېږه: «د اسراييلو څښتن خدای داسې وايي: ‹په دې
خاطر چې تا د اشور د پاچا سنخاريب په هکله دعا وکړه، ۲۲ نو زه د هغه په ځواب کې داسې وايم:
اورشليم د يوې پېغلې انجلۍ په شان دی چې ستا څخه کرکه کوي او په تا باندې ملنډې وهي. کله چې ته
تښتې، نو هغوی په تا پورې خندا کوي. ۲۳ ای سنخاريبه! تا ماته، يعنې د اسراييلو سپېڅلي خدای ته
سپکاوی کړی او کفر دې ويلی دی، خپل اواز دې اوچت کړی او چاته دې د غرور په سترګه کتلي دي؟
۲۴ تا په خپلو نوکرانو زه څښتن سپک کړم او د خپل ځان په اړه دې داسې لاپې وهلې دي: ما خپلې جنګي
ګاډۍ د لبنان ډېرو لوړو ځايونو ته خېژولې دي، د هغه ځنګل تر ټولو لوړ ځای ته ختلی يم او د سبر او
سروې ډېرې ښې ونې مې پرې کړې دي. ۲۵ تا لافې ووهلې چې ما په پرديو هېوادونو کې د هغو څاه ګانو
اوبه وڅښلې چې ما کيندلې وې او په خپلو پښو باندې مې د مصر ټول سيندونه وچ کړل.

۲۶ ايا تا دا نه دي اورېدلي چې دا هرڅه مې پخوا پلان کړي وو او حتی په دې نه پوهېږې چې دا يوازې
زه وم چې دا پرېکړه مې وکړه چې ته به دا کار کوې؟ ته مې پرېښودلې چې هغه قوي ښارونه وران کړې.
۲۷ د هغو ځايونو خلک کمزوري او ډېر سخت وارخطا شول. هغوی د پټيو د بوټو يا د هغو تنکيو واښو په
شان وو چې د کوټو په سر باندې شنه کيږي او کله چې هوا توده شي، نو هغه مړاوي کيږي.

۲۸ خو ای سنخاريبه، زه خبر يم چې ته چېرته اوسېږې او څه وخت ځې او راځې. همدارنګه زه پوهېږم
چې څومره ماته په قهر يې. ۲۹ ما ستا قهر چې زما په وړاندې يې لرې ليدلی او ستا د غرور نه خبر يم. نو
زه به ستا په پوزه کې چنګک او ستا په خوله کې قيضه واچوم او په کومه لاره چې راغلی يې، په هماغې لارې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به دې بېرته ولېږم.››»

۳۰ بيا اشعيا حزقيا پاچا ته ووېل: «دا به د هغه څه نښه وي چې پېښ به شي. سږکال او راتلونکی کال به
ته هغه غلې دانې وخورې چې په خپله شنې کيږي، خو په درېيم کال به ته وکولای شې چې خپلې غلې دانې
وکرې او حاصل به يې واخلې او د انګورو تاکونه به وکرې او انګور به يې وخورې. ۳۱ هغوی چې په يهودا
کې ژوندي پاتې دي د نباتاتو په شان به په ځمکه کې ژورې ريښې وکړي او مېوه به ونيسي. ۳۲ په
اورشليم او د صهيون په غره کې به يو شمېر خلک ژوندي پاتې شي، ځکه چې مطلق قادر څښتن به په خپل
غيرت باندې دا کار وکړي.

۳۳ څښتن د اشور د پاچا په هکله داسې وايي: ‹هغه به د اورشليم ښار ته داخل نه شي او يو غشی به هم
په هغه باندې ګوزار نه کړي. هېڅ عسکر به د خپلو سپرونو سره دې ښار ته ورنژدې نه شي او د هغه
شاوخوا به د خاورو ډېرى جوړې نه کړي. ۳۴ څښتن داسې وايي: په هغې لارې چې هغه راغلی دی بېرته
به په هماغې لارې لاړ شي او ښار ته به داخل نه شي. ۳۵ زه به د دې ښار څخه د خپل ځان په اړه او د
خپلې هغې وعدې په اړه چې د خپل خدمتګار داود سره مې کړې وه، دفاع وکړم او هغه به وساتم.››»

۳۶ د څښتن فرښته د اشوريانو کمپ ته ورغله او ۱۸۵۰۰۰ عسکر يې ووژل. کله چې سهار وختي خلک
راپاڅېدل، نو ويې ليدل چې په هغه ځای کې مړي پراته دي. ۳۷ نو سنخاريب پاچا بېرته اشور ته ستون
شو او د نينوا په ښار کې اوسېده. ۳۸ يوه ورځ چې هغه د خپل خدای نسروک د عبادت په ځای کې
عبادت کاوه، د هغه دوو زامنو ادرملک او شرازر په خپلو تورو باندې هغه ووژه او بيا هغوی د اړارات
خاورې ته وتښتېدل. د هغه بل زوی چې اسرحدون نومېده د هغه په ځای پاچا شو.

## د حزقيا پاچا ناروغي او بېرته روغېدل

(دوهم پاچاهان ۲۰: ۱- ۱۱ او دوهم تواريخ ۳۲: ۲۴- ۲٦)

# ۳۸

۱ په هغو ورځو کې حزقيا پاچا ناروغ شو او مرګ ته نژدې ؤ. د آموص زوی اشعيا نبي ورغی چې
هغه ووينې او هغه ته يې ووېل: «څښتن داسې وايي چې خپل ټول کارونه دې برابر کړه، ځکه چې ته مړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېږي او روغ به نه شې.» ۲ حزقيا خپل مخ دېوال ته واړاوه او دعا يې وکړه: ۳ «اې څښتنه، دا در په
ياد کړه چې ما د زړه له کومي ستا خدمت کړی دی، تاته وفادار وم او تل مې دا کوښښ کړی دی چې هغه
کار وکړم چې تا راڅخه غوښتنه کړې ده.» بيا يې ډېر سخت وژړل.

۴ بيا څښتن اشعيا ته ووېل: ۵ «لاړ شه او حزقيا ته ووايه: ‹ستا د نيکه داوود څښتن خدای داسې
وايي: ما ستا دعا قبوله کړه او ستا اوښکې مې وليدلې. زه به ستا ژوند پنځلس کاله نور هم زيات کړم. ۶
زه به تا او دغه ښار د اشور د پاچا له لاسه وژغورم او د دې ښار څخه به دفاع وکړم.›» ۷ بيا اشعيا،
حزقيا ته ووېل: «څښتن د دې وعدې د ثبوت دپاره دا نښه تاته درکوي. ۸ څښتن به د احاز په زينه
باندې د لمر سيوری لس پوړۍ وروسته کړي.»

نو سيوری بېرته لس پوړۍ وروسته لاړ.

۹ کله چې حزقيا له ناروغۍ نه روغ شو، نو هغه دا شکرګزاري وليکله:

۱۰ ما کاوه فکر چې د ځوانۍ په عمر

باید لاړ شمه د مړو دنيا ته

او شم به محروم له پاتې کلونو د ژوند

۱۱ ما کاوه فکر چې په نړۍ کې د ژونديو

به هېڅکله څښتن ونه وينم

او نه به ووينمه هغه انسان

چې اوسيږي دې نړۍ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ د ژوند مزي مې پرې کيږي

لکه کيږدۍ د شپون چې راټوليږي

لکه ښنګه چې ټوکر راټولوي اوبدونکی

ما راټول کړلو خپل ژوند

او لکه پرې کيږي چې ټوکر د اوبدلو د کارګاه نه

ما کاوه فکر چې ښتن مې رسوي ژوند پای ته

١٣ ما ټوله شپه کولو فکر

لکه داسې چې زمری مې ټول هډوکي ماتوي

ما کاوه فکر چې ښتن مې رسوي ژوند پای ته

١٤ زما اواز دی نری شوی توتکۍ په شان

کول زګېروي مې د کوترې په شان

زما سترګې سترې شوې دي اسمان ته په کتلو

ای ښتنه، په ما ظلم کيږي، راسره مرسته وکړه

١٥ خو څه چاره لرم زه؟

ځکه ښتن راسره کړې دي خبرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دا دی کار د هغه

ژوند مې دی تریخ او خوب مې الوتی دی

له سترګو څخه

۱۶ ای څښتنه، ستا کلام او ستا کارونه

ورکوي هرچا ته ژوند او ماته هم

ماته روغتیا راکړه او نوی ژوند

راته په برخه کړه

۱۷ په رښتیا کوم کړاوونه چې زغملي دي ما

هغه په ګټه وو زما

ستا مینې وژغورلم د مرګ له کندې

ځکه دې وغورځول له نظره ګناهونه زما

۱۸ څوک چې قبرونو کې دي

شکرګزاري د ستا کولای نه شي

مړي ویلی نه شي ستا ثنا

او په وفادارۍ دې نه کوي باور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ شکرګزاري کوي ستا، ژوندي کسان يوازې

لکه څنګه چې يې زه کوم نن

پلرونه وايي اولادونو ته خپل

چې ته څومره وفادار يې

۲۰ څښتن ژغورلی يمه

ربابونه به وهو او په سندرو به دې وايو ثنا

ترڅو ژوندي يو

مونږ به وکړو دا کار ستا په کور کې

۲۱ نو اشعيا د حزقيا خدمتګارانو ته ويلي وو: «د انځرو مرهم واخلئ او هغه د پاچا په دانه باندې کېږدئ
چې روغ شي.» ۲۲ حزقيا پوښتنه کړې وه: «هغه به کومه نښه وي چې وکولای شم د څښتن کور ته لاړ
شم؟»

## د بابل استازي

(دوهم پاچاهان ۲۰: ۱۲ - ۱۹)

**۳۹** ۱ په همدې وخت کې د بابل پاچا د بلدان زوی مرودک بلدان خبر شو چې حزقيا پاچا ناروغ ؤ او
اوس روغ شوی دی، نو هغه د خپلو استازو په لاس حزقيا ته ليکونه او يو سوغات ورولېږل. ۲ حزقيا
استازو ته تود هرکلی ووايه او هغوی ته يې د خپلو شتمنيو تحويلخانې، يعنې خپل سپين او سره زر، خپل
خوشبويه تېل او عطرونه او خپل ټول عسکري سامان وروښودل. د هغه په ماڼۍ يا پاچاهۍ کې داسې شی نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ؤ چې هغوی ته يې نه وي ښودلی. ۳ بيا اشعيا نبي حزقيا پاچا ته ورغی او پوښتنه يې ترې وکړه: «دا
خلک د کوم ځای څخه راغلي وو او تاته يې څه وويل؟» حزقيا ځواب ورکړ: «هغوی د يو ډېر لېرې وطن
يعنې د بابل څخه راغلي وو.» ۴ اشعيا پوښتنه وکړه: «ستا په ماڼۍ کې هغوی څه وليدل؟» حزقيا ځواب
ورکړ: «هغوی هرڅه وليدل. په تحويلخانو کې داسې شی نه ؤ چې هغوی ته مې نه وي ښودلی.»

۵ بيا اشعيا حزقيا پاچا ته وويل: «مطلق قادر څښتن داسې وايي: ۶ داسې وخت راتلونکی دی چې
هرڅه چې ستا په ماڼۍ کې دي او هرڅه چې ستا نيکونو تر نن ورځې پورې ذخيره کړي دي، هغه به بابل ته
يووړل شي. هېڅ شی به پاتې نه شي. ۷ ستا د خپلې اولادې څخه به ځينې په اسارت يووړل شي او هغوی
به خصيان شي چې د بابل د پاچا په ماڼۍ کې خدمت وکړي.» ۸ حزقيا پاچا فکر وکړ چې دا خبره دا
معنی لري چې د هغه په ژوند کې به سوله او امن وي، نو هغه ځواب ورکړ: «هغه پيغام چې تا د څښتن له
خوا ماته راکړ ښه پيغام دی.»

## د څښتن د تسلۍ کلام خپل قوم ته

۴۰ ۱ ستاسو خدای وايي:

«ورکړئ تسلي

زما غوره شوي قوم ته ورکړئ تسلي!

۲ خبرې وکړئ په نرمه ژبه د اورشليم خلکو سره

او کړئ اعلان هغوی ته

چې تېرې شوې مو دي د غلامۍ ورځې

او ما بخښلي ګناهونه ستاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه هغوی ته مې ورکړې سزا

د ګناهونو په بدل کې یو په دوه»

۳ زه اواز اورم چې یو څوک وهي نارې:

«لاره تیاره کړئ په دښته کې څښتن دپاره

جوړه صحرا کې کړئ لویه او سیده لاره

زمونږ د خدای دپاره

۴ شي به ډکه هره دره

شي به هواره هره غونډۍ او غر

او شي به هوار کنډه و کپر ځایونه

۵ بیا راښکاره به شي جلال د څښتن

او ټول انسانان به یې یوځای ووینې

ځکه داسې ویلي دي خپله څښتن»

۶ یو اواز راځي او وايي: «یو پیغام اعلان کړه»

ما پوښتنه وکړه: «کوم پیغام اعلان کړم؟»

«دا اعلان وکړه چې د واښو په شان دي ټول انسانان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زیات دوام نه کړي د هغوی ژوند له ځنګلي ګلانو

۷ ښتن چې کله په هغوی باندې نازل کړي باد

واښه وچیږي او ګلان رژیږي

هو، په رښتیا چې انسانان دي د واښو په شان

۸ واښه وچیږي او ګلان رژیږي

خو تل ترتله به وي ټینګ زمونږ د خدای کلام»

۹ ای صهیونه، وخېژه لوړ غره ته

له هغه ځایه ورکړه زېری

ای اورشلیمه، په لوړ اواز ورکړه خپل زېری

پرته له وېرې ته اعلان کړه هغه

د یهودا ښارو ته ووایه:

«راروان دی ستاسو خدای»

۱۰ ګوره، ښتن تعالی راځي

او پاچاهي کوي د مټو په زور

ګوره، راولي له خپله ځانه سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ژغورل شوي خلک

راروان دي هغوی هغه نه مخکې

١١ هغه به پام کوي په خپلې رمې لکه د شپون په شان

راغونډوي به هغه وري په يوځای

او وړې به يې غېږه کې خپل

بيايي په مينه به د هغوی مورګانې

## د اسراييلو بې مثاله خدای

١٢ ايا کولای شي څوک چې اندازه کړي

د بحر اوبه په خپله لپه

يا اسمان په خپلې لوېشت باندې؟

ايا کولای شي څوک چې په سطل کې ځای کړي

د ټولې ځمکې خاورې

يا تله کې وتلي غونډۍ او غرونه؟

١٣ ايا کولای شي څوک چې نصيحت وکړي څښتن ته؟

يا د هغه روح ته لارښوونه وکړي د مشاور په توګه؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ایا مجبور ؤ څښتن مشورې ته د چا

چې وروښايي هغه ته سمه لاره

یا ورزده کړي ورته پوهه او حکمت؟

۱۵ نه، په حقیقت کې ټول قومونه دي څښتن دپاره داسې

لکه په سطل کې یو څاڅکی اوبه

او یا لکه چې دوړه وي په تله کې

هغه د دوړې په شان پورته کوي جزیرې

۱۶ زمونږ څښتن ته د سوځېدونکو نذرانو دپاره

کافي نه دي اور بلولو دپاره

د لبنان د ځنګلونو هغه ټول حیوانات

کافي نه دي د دې ځنګلونو ټولې ونې

۱۷ هېڅ هم نه دي د څښتن په وړاندې د نړۍ ټول قومونه

او په هېڅ کې شمېرل کېږي د هغه په وړاندې

۱۸ نو تشبیه کولای شئ خدای د چا سره؟

پرتله کولای شئ هغه د کومې مجسمې سره؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ایا کولای شئ چې پرتله کړئ څښتن له یو بت سره؟

کسبګر هغه قالب کې اچوي اول او ترې جوړوي مجسمه

په سرو زرو پوښوي زرګر هغه

او جوړوي هم د سپینو زرو زنځیرونه د هغه دپاره

۲۰ څوک چې غریب وي هغه نه شي ورکولی نذرانه

داسې لرګی غوره کوي هغه بت جوړولو لره

چې نه ورستیږي هغه

بیا ورکوي هغه په لاس د یو ماهر کسبګر

چې ترې جوړ کړي یو بت چې راونه غورځیږي

۲۱ ایا تاسو په دې نه پوهیږئ؟

ایا تاسو اوریدلي نه وو؟

ایا تاسو ته له پیله ویل شوي نه وو؟

ایا تاسو په دې نه پوهیدئ چې ځنګه پیدا شوه دا نړۍ؟

۲۲ څښتن ډیر لوړ له ځمکې ناست دی په خپل تخت باندې

او د ځمکې اوسېدونکي ورته ښکاري ملخانو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپروي هغه اسمان لکه پردې په شان

او ودروي يې لکه خېمې په شان د اوسېدو دپاره

٢٣ غورځوي له واکه هغه قوي حکمرانان

او په نشت بدلوي د نړۍ قوي مشران

٢٤ هغوی دي هغو نيالګيو په شان

چې کرل شوي اوس تازه

او ريښې يې ځغليدلې نه وي

چې راوالوزي کله د ښتن باد

هغوی وچ شي او سيلۍ يې يوسي

لکه د بوسو په شان

٢٥ سپېڅلی خدای وايي:

«تشبيه کوئ مې تاسو چا سره؟

ايا بل څوک شته زما په شان؟»

٢٦ اسمان ته وګورئ!

چا پيدا کړي دي دا ستوري چې يې وينئ تاسې؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا هغه څوک دی تنظیموي چې اسماني لښکرې

ورته معلوم دی شمېر د هغوی، هر یو په نوم پېژني

هغه لري دومره توان

هغه نه پرېږدي چې ورک شي له هغو نه یو هم

٢٧ نو ای یعقوبه، ولې وایئ

او ای اسراییلو، بیا کوئ شکایت ولې

چې خبر نه دی څښتن زمونږ له کړاوونو څخه

او نه کوي پام زمونږ حق ته زمونږ خدای

٢٨ ایا نه پوهېږئ او تاسو نه دي اورېدلي

چې څښتن دی تلپاتې خدای

او پیدا کړې ده هغه ټوله نړۍ؟

هغه هېڅکله نه ستړی کیږي او ستومانه کیږي نه

او نه پوهیږي هېڅوک د هغه فکرونو باندې

٢٩ هغه ستړو ته قوت وربخښي

او زیاتوي زور د کمزورو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ حتی ځوانان هم شي ستړي او ستومانه

او زلمي هم له ستړيا رالويږي

۳۱ خو چې څښتن ته منتظر دي هغوی

وبه مومي هغوی نوی زور

په وزرونو باندې به الوزي لکه عقاب په شان

هغوی به منډې وهي، خو ستومانه کيږي به نه

هغوی به ګرځي، خو ستړي کيږي به نه

## اسراييلو ته د څښتن ډاډګېرنه

**۴۱** ۱ څښتن وايي:

«ای د لېرې هېوادونو خلکو

اوسئ غلي او ماته غوږ ونيسئ!

زړور اوسئ او محکمې ته خپله دعوه وړاندې کړئ

تاسو ته دربه کړل شي وخت چې خبرې وکړئ

راځئ دا پرېکړه وکړو يو ځای چې په حقه دی څوک

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ چا هڅولی یو فاتح دی له ختیځه

او خپل خدمت ته يې راوبللو؟

ورکوي څوک برى هغه ته په قومونو باندې

چې کړي پاچاهان هغه تر پښو لاندې؟

دوړه کوي په خپله توره هغوی لکه د خاورو په شان

او خواره واره کوي يې په خپلو غشو لکه د بوسو په شان

۳ تعقيبوي هغوی او مخکې ځي بې له خطره څخه

په داسې لارو چې يې مخکې لګېدلې نه وي پښې هلته

۴ هغه څوک ؤ چې سبب د دې کارو شو؟

هغه څوک دی چې له پیله په نسلونو کې

خلک ټاکي خپل مقصد دپاره؟

زه څښتن وم موجود له پیل نه

او په پای کې هم به یم موجود زه څښتن

۵ خلک د لېرې هېوادو وېرېږي

ځکه لیدلي دي هغوی زما کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لړزيږي ټوله نړۍ له ويرې

هغوی راغلل او ټول راغونډ شول سره

۶ هغوی د يو بل سره مرسته کوي

او وايي يو بل ته: ‹قوي اوسئ!›

۷ نجار زرګر ته وايي: ‹شاباش!›

څوک چې هواروي بت په ټکولو باندې

څوک هڅوي هغه چې کار کوي له سندان سره

وايي هغوی چې ليم کاري يې ښه ده

او په مېخونو ټينګوي دغه بت چې راونه لوېږي

۸ خو ته ای د اسراييلو قومه، خدمتګاره زما

ای يعقوبه چې غوره کړی يې ما

ای زما د ملګري ابراهيم اولادې

۹ د نړۍ له بله سره مې ته راوستلې

د نړۍ د لېرې کنجونو مې راوغوښتلې

او درته مې وويل: ‹ته خدمتګار يې زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته مې رد کړی نه یې بلکې غوره کړی مې یې،

۱۰ مه وېرېږه، ځکه یمه زه له تا سره

مه ډارېږه، زه ستا خدای یم

زه به تاته قوت درکړم، وبه کړم درسره مرسته

زه به درکړم بری خپل عدالت کې او تا به ژغورم

۱۱ ګوره، څوک چې په تا باندې په قهر دي ډېر

تول به وشرمیږي او رسوا به شي

څوک چې کوي جګړه له تا سره

په نشت حساب به شي هغوی او له منځه لاړ به شي

۱۲ هغه کسان چې کړي له تا سره جنګ

لټوئ به هغوی تاسو

خو پیدا به یې نه کړئ

نور به نه وي هغوی

۱۳ ځکه زه یمه ستا ښښتن خدای

او تا نیسم له ښي لاسه او درته وایم:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

‹مه وېرېږه، زه کوم تا سره مرسته››»

۱۴ ښتن وايي: «ای یعقوبه، ای اسراییله

که څه هم ته يې کمزوری او کوچنی

لکه چینجي په شان يې

خو مه وېرېږه، زه یمه ستا مرستندوی

د اسراییلو سپېڅلی خدای دی ستا ژغورونکی

۱۵ ګوره، زه به جوړ کړمه له تا نه

د درمند ټکولو څپر

چې ولري نوي او تېره غاښونه

ترڅو میده میده او هوار کړې غرونه

او ذرې ذرې کړې غونډۍ ګانې

لکه د بوسو په شان

۱۶ ته به هوا ته کړې ګوزار هغوی

باد به يې لېرې یوسي

او خواره واره به يې کړي توفان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا به له ما ځښتن خوشحاله شي

او کوې به فخر په ما

چې سپېڅلی خدای یمه د اسراییلو

۱۷ چې کله اوبه لټوي بې وزلي او مجبور خلک

او نه پیدا کیږي هغه

له ډېرې تندې یې وچیږي ستوني

بیا زه ځښتن به کړم قبوله د هغوی دعا

هغوی به هېڅکله پرېنږدمه یوازې، زه د اسراییلو خدای

۱۸ زه به سیندونه کړم جاري د وچو غرونو منځ کې

او په درو کې به جاري کړم چینې

زه به بدله کړمه دښته په ډنډونو د اوبو

او کړم به بدله وچه ځمکه په جاري چینو

۱۹ زه به راشنې کړمه په دښته کې د سبر

او د اکاسۍ، اس او د زیتونو ونې

کړم به صحرا کې راشنه د سروې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چنار او د نښتر ونې

٢٠ ترڅو خلک ووینې دا

وبه کړي فکر په دې اړه او ټول به پوه شي په دې

چې ما څښتن کړی دا کار په خپل قدرت باندې

او سپېڅلي خدای د اسراییلو پیدا کړي دا ټول»

## د بتانو په اړه د څښتن بیان

٢١ څښتن، د یعقوب پاچا وايي:

«ای بتانو د قومونو، خپله دعوه وړاندې کړئ

او ووایئ خپل قوي دلایل

٢٢ هغوی دې وړاندې دلیلونه کړي

او مونږ ته ووایي چې څه به پېښ شي

او ودې وايي هغه پېښې

چې پېشګويي يې کړې وه د پېښېدو نه مخکې

راځئ چې وکړو فکر د هغو په هکله

چې دا پېښ شوي په رښتیا دي که نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یا دې مونږ ته کړي بیان راتلونکی

۲۳ مونږ ته ووایئ چې څه به کیږي په راتلونکې کې

بیا به مونږ پوه شو چې په رښتیا تاسو خدایان یئ

یا کوم کار وکړئ د خیر یا کوم مصیبت راولئ

چې مونږ یې ووینو او ووېرېږو

۲۴ خو تاسو هېڅ شی نه یئ او نه شئ کولای کوم کار

چې غوره کوي تاسو څوک، د کرکې وړ دي هغوی

## څښتن د راتلونکې په هکله پوهیږي

۲۵ ما هڅولی یو سړی چې حمله وکړي له شماله

هغه ما دی غوره کړی له ختیځه

هغه کوي زما د نوم درناوی

او پاچاهان به کړي تر پښو لاندې

لکه په ختو باندې خېژي چې کلال

۲۶ کړې وه چا دا پېشګويي چې به داسې کیږي

ترڅو وکړو مونږ باور چې هغه وایي رښتیا؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېڅ‌چا نه دي څه ويلي په دې اړه
او نه يې کړې دی اعلان د دې
ستاسو خبرې اورېدلې نه دي هېڅ‌چا
۲۷ زه څښتن وم لومړنی ذات
چې مې صهيون ته ورکړ زېری
ما استازی ولېږلو اورشليم ته چې هلته ووايي:
‹وګورئ، راروان دي ستاسو خلک›
۲۸ خو ما پيدا نه کړلو څوک د هغو خدايانو منځ کې
چې راکړي ماته مشوره
او په هغو کې يو هم رانه کړ ځواب زما د پوښتنې
۲۹ ګورئ، دا ټول دي دروغجن خدايان
هغوی هېڅ شی هم کولای نه شي
دا دي بې وسه او کمزوري بتان»

## د څښتن غوره خدمتګار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۴۲

۱ څښتن وايي:

«دا دی زما خدمتګار چې زه يې ملاتړ کومه

هغه ما دی غوره کړی، زه خوشحاله يم له هغه نه

ما خپل روح دی نازل کړی په هغه باندې

او راولي به هغه عدالت او انصاف د نړۍ قومو ته

۲ هغه به ونه وهي چيغې، نه لوړوي به خپل اواز

اورېدل کيږي به نه د هغه اواز کوڅو کې

۳ نه ماتوي به هغه يوه کږه لوخه هم

نه مړه کوي به هغه نيمګړې بله ډېوه

په حقيقت کې راولي به عدالت هغه

۴ هغه به نه شي نااميده او بې حوصلې

ترڅو ټينګ کړي په نړۍ کې عدالت

خلک د لېرې هېوادونو منتظر دي

چې تعليم د هغه واوري»

۵ خدای يعنې څښتن پيدا او خپاره کړل اسمانونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه جوړه کړله ځمکه او پیدا یې ټول مخلوق کړ

ټولو خلکو ته یې ساه او ژوندون ورکړ

هغه اوس خپل خدمتګار ته داسې وايي:

۶ «ما، څښتن راوغوښتلې ته

ترڅو ټینګ کړې په نړۍ کې عدالت

تاته مې درکړلو واک او ته مې وساتلې

کومه لوظ زه ستا په وسیله

د نړۍ د ټولو خلکو سره

زه به جوړه کړمه تا نه رڼا

چې د قومونو لارښوونه وکړې

۷ ته به بینا کړې ړندې سترګې

ته به ازاد کړې بندیان

چې په زندان او په تیارو کې دي

۸ زه یم څښتن! دا دی نوم زما

زه به ورنه کړم خپل جلال هېچا ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به هېڅکله شریک نه کړم بتان

خپلې ثنا او صفت کې

٩ ګورئ، څه چې ما کړې پېشګويي وه

عملي شول هغه ټول

اوس نوې پېښې، مخکې له دې نه چې شي پېښې

درکوم تاسو ته خبر»

## څښتن ته د ثنا او صفت نوې سندره

١٠ څښتن ته ووایئ نوې سندره

ای ټولې نړۍ، د هغه ثنا او صفت ووایئ!

ای په بحیره کې مسافرو، ای په بحیره کې ټول مخلوقه

ای لېرې هېوادونو او په هغو کې اوسېدونکو خلکو

د هغه ثنا او صفت ووایئ!

١١ په لوړ اواز دې د څښتن ثنا او صفت ووایي

دښته او د هغې ښارګوټي

کلیوال دې د قیدار همداسې وکړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سالع ښاريان دې ووايي د خوشحالۍ سندرې

هغوی دې ووهي نارې د غرونو له سرونو څخه

۱۲ چې په لېرې هېوادونو کې اوسيږي کوم خلک

هغوی دې ووايي ثنا او صفت د څښتن

او بيان دې کړي جلال د هغه

۱۳ څښتن جګړې ته ځي د جنګيالي په شان

او په غيرت تياروي ورته خپل ځان

ورکوي هغه په چيغه د جګړې اعلان

او ښکاره کوي خپل دښمنانو ته خپل زور او ځواک

## خپل قوم ته د څښتن د مرستې وعده

۱۴ څښتن وايي:

«له ډېره وخته وم زه غلی

او کنترول مې کړ خپل قهر

خو اوس زه يم د داسې ښځې په شان

چې کوي زېږوي له ډېره درده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لنګون په وخت کې او نفس یې سوځي

۱۵ زه به له منځه یوسم غونډۍ او غرونه

زه به وچ کړمه واښه او ونې

وچ به سیندونه کړمه

په کې ښکاره چې جزیرې شي

بیا به هم وچ کړم د اوبو ډنډونه

۱۶ زه به ړندو ته لارښوونه وکړم

په هغو لارو چې هیڅ وخت ورباندې تللي نه وي

زه به بدله په رڼا کړمه تیارې د دوی

او ورته هوارې به کړم کنډې او کپرې ځمکې

زه به هغوی ته دا کارونه وکړم

هغوی به هیڅکله پرېنږدمه یوازې

۱۷ خو هغه څوک چې باور لري بتانو باندې

او ورته وایي خپل خدایان

هغوی به سپک شي او ډېر به وشرمیږي»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# کاڼه او ړانده اسراییلیان

۱۸ ښتن وايي: «ای کڼو خلکو واورئ!

ای ړندو خلکو، خلاصې کړئ سترګې او وګورئ!

۱۹ څوک دی ړوند زما د خادم په شان؟

څوک دی کوڼ زما د استازي په شان؟

څوک دی ړوند زما، ښتن د ټاکلي خادم په شان

۲۰ ډېر شيان وليدل تاسو

خو اهميت مو ورته ورنه کړ

غوږونه خلاص دي ستاسو

خو څه پرې نه اورئ»

۲۱ دا چې ښتن عادل دی، هغه لېوال ؤ

چې قوانين يې پرتمين وګڼل شي

او درناوی يې وشي او جلالي ښکاره شي

۲۲ خو اوس دا خلک لوټ شوي

دي په کندو کې راګېر او اچول شوي زندانونو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خلاصون دپاره یې رانغی هېڅوک

دي تالا شوي او چور شوي دا خلک

خو څوک نه ؤ چې ووايي: «بېرته ولېږئ هغوی»

۲۳ ايا څوک شته تاسو کې چې دې خبرو ته ونيسي غوږ؟

ايا دې ته به پام وکړي څوک راتلونکي وخت کې؟

۲۴ چا اجازه ورکړه چې شي تالا دې يعقوب؟

لوټمارانو ته تسليم کړ اسراييل چا؟

څښتن خپله داسې وکړل

ځکه چې مونږ ګناه وکړه د هغه په وړاندې

قدم وانخيست اسراييلو د هغه په لاره

ويې نه کړه پيروي د هغه له قوانينو څخه

۲۵ له دې امله څښتن نازل کړ خپل غضب په هغوی

او هغوی وليده کړاو او تاوان د جګړې

بلېده د هغه قهر اسراييلو کې لکه د اور په شان

خو پوه نه شول هغوی چې څه کيږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی وانخیست هیڅ عبرت

## د ژغورنې وعده

# ۴۳

١ خو اوس ای یعقوبه! هغه څښتن چې پیدا کړي یې یئ
ای اسراییلو! هغه څښتن چې دی خالق ستاسو
هغه داسې وایي:
«وېرېږئ مه، ځکه ژغورلي مې یئ تاسو
تاسو په نوم یئ ما راغوښتي او زما یئ تاسو
٢ چې تېرېږئ کله تاسو له سیندونو، زه به تاسو سره مل یم
چې تېرېږئ کله له سیندونو، نو نه به ډوبېږئ تاسو
چې تېرېږئ کله د اور له منځه، نو نه به سوځېږئ تاسو
زیان به نه رسوي تاسو ته د اور لمبې
٣ ځکه چې ستاسو څښتن خدای یمه زه
زه د اسراییلو سپېڅلی خدای یمه ژغورونکی ستاسو
قربانوم زه مصر ستاسو ازادۍ دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانوم ستاسو بدل کې ایتوپیا او سیبا

۴ تاسو ماته ارزښتمن او عزتمن یئ

مینه لرمه زه له تاسو سره

نو په دې خاطر زه به قربان کړم خلک ستاسو په ځای

او ستاسو بدل کې به قربان کړمه قومونه

۵ مه وېرېږئ، زه یم تاسو سره مل!

راولم به ستاسو خلک له ختیځه

او زه به راغونډ کړم له لوېدیځه تاسو

۶ زه به ووایم شمال ته پرېږده هغوی چې لاړ شي

او وبه وایمه جنوب ته هغوی مه ایساروه

راولئ زما زامن له لېرې هېوادونو څخه

چې په هر ځای کې دي زما لورګانې

پرېږدئ چې بېرته راستنې شي خپل وطن ته

۷ چې زما په نوم یادیږي هغه ټول کسان

چې پیدا کړي ما هغوی دي خپل جلال دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چې مې خلق کړي هغوی»

## اسراییلیان د څښتن شاهدان

۸ څښتن وايي: «راولئ هغه خلک

چې لري سترګې خو ړانده دي

او لري غوږونه خو کاڼه دي

۹ راغونډ شوي ټول قومونه

او شوي پوښتنه له هغوی نه

چا پېشګويي کړې ده د اوسنيو پېښو؟

چا پېشګويي کړې وه د تېرو شويو پېښو؟

هغوی دې راوړي شاهدان او ثابته دې کړي خپله خبره

خلک دې واوري او ودې وايي چې هو، سمه ده دا خبره»

۱۰ څښتن وايي: «ای د اسراییلو قومه تاسو يئ زما شاهدان

او غوره کړي مې يئ د خدمتګار په توګه

ترڅو ما وپېژنئ او راوړئ ایمان په ما

او په دې پوه شئ چې زه يم يوازېنی خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرته له ما نشته دی بل خدای

هیڅکله نه ؤ او نه به وي

۱۱ زه، یوازې زه څښتن یم

پرته له ما نه بل ژغورونکی نشته

۱۲ زه وم چې پېشګویي مې وکړه چې څه به پېښ شي

او راغلم زه ستاسو ژغورنې ته

پردی خدای نه ؤ چې تاسو ته وکړي دا کارونه

تاسو په خپله شاهدان یئ زما

۱۳ زه یم خدای او تل به پاتی شم خدای

هیڅوک نه شي خلاصېدی زما له لاسه

ما چې څه کړي دي، هغه څوک بدلولی نه شي»

## د بابل څخه تېښته

۱۴ څښتن، ستاسو ژغورونکی،

سپېڅلی خدای د اسراییلو، داسې وايي:

«ستاسو ژغورنې په خاطر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ولېږه لښکر بابل ته

ترڅو مجبور کړم ټول بابلیان تېښتې ته

هغو کشتۍ ګانو کې چې خوښولې هغوی

۱۵ زه څښتن یم ستاسو سپېڅلی خدای

ای اسراییلو، تاسو پیدا کړي يئ ما

او زه پاچا یم ستاسو»

۱۶ څښتن خلاصه کړله په بحیره کې یوه لاره

یوې څنډې ته یې کړلې زورورې اوبه

۱۷ د تباهۍ لوري ته یې بوتللې

د مصر لویې او قوي لښکرې

داسې لښکرې چې لرلې یې

جنګي ګاډۍ او اسونه

هغوی راوغورځېدل او

پورته نه شول بیا هېڅکله

او مړه شول د ډېوې په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ نو څښتن داسې وايي:

«هېرې کړئ تېرې پېښې

خپل ژوند مه تېروئ

په يادولو د پخوانيو پېښو

۱۹ ګورئ، همدا اوس چې زه کوم کوم نوی کار

هغه به کيږي او ليدلی يې شئ تاسو

زه به جوړه کړم په دښته کې يوه لاره

او په کې جاري به کړمه زه د اوبو سيندونه

۲۰ زما درناوی به کوي وحشي حيوانات،

سورلنډيان او شترمرغ

ځکه چې زه روانوم اوبه په دښته کې

او سيندونه په صحرا کې

چې ورکړم اوبه خپلو غوره شويو خلکو ته

۲۱ دا هغه خلک دي چې خلق کړي مې دي

د خپل ځان دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوی به کوي په ښکاره ثنا او صفت زما»

## د اسراییلو ګناه

۲۲ څښتن وايي:

«ای یعقوبه، تاسو ونه کړله غوښتنه د مرستې

ای د اسراییلو قومه!

ستړي شوي يئ زما نه تاسو

۲۳ تاسو رانه وړې سوځېدونکې نذرانې

ماته د خپلو پسونو

تاسو ونه کړ درناوی زما

د قربانیو په کولو سره

ما په تاسو ایښی نه ؤ دا بار

چې ماته راوړئ نذرانې

ما ستړي نه کړئ تاسو

د قیمتي خوشبویۍ په دودولو سره

۲۴ زما دپاره مو وانخیستله خوشبویه دالچیني په بیه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راضي مو نه کړمه زه د وازګو په وړاندې کولو سره

خو تاسو کېښوده په ما باندې د خپلو ګناهونو بار

زه تاسو ستړی کړمه په خپلو بدو کړنو

۲۵ زه هغه خدای یم چې د خپل ځان په خاطر

پرده اچوم ستاسو ګناهونو باندې

او یاد به نه کړم ګناهونه ستاسو

۲۶ تاسو په ما چې لګولي کوم تورونه دي

راځئ چې لاړ شو محکمې ته

خپله دعوه وړاندې کړئ

دا ثابته کړئ چې تاسو يئ په حقه

۲۷ زما په وړاندې ګناه کړې وه

ستاسو لومړني نیکه

زما په وړاندې شول یاغي ستاسو مشران

۲۸ نو ځکه مې لېږې کړل سپېڅلي کاهنان له خپلو دندو څخه

او ما راوستله تباهي په اسراییلو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرې مې ښود چې سپکاوی زما د قوم وشي»

## خدای اسراییلو ته برکت ورکوي

# ۴۴

١ ښښتن وايي:

«ای یعقوبه خدمتګاره زما

ای اسراییله چې غوره کړی يې ما

اوس راته غوږ ونیسه»

٢ ښښتن خالق دی ستا

ته يې جوړ کړې د مور په ګېډه کې

او وبه کړي درسره مرسته

هغه داسې وايي:

«ای یعقوبه خدمتګاره زما، مه وېرېږه

ای اسراییله ته غوره کړې يې ما، مه وېرېږه

٣ ځکه تږې ځمکې ته به ورکړم زه اوبه

او جاري به کړمه ویالې په وچه ځمکه باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به نازل کړم خپل روح ستاسو اولادونو باندې

او برکت به ور په برخه کړمه ستاسو اولادې ته

۴ هغوی به لوی شي د واښو په منځ کې لکه د ولو په شان

د هغو ولو په شان چې شنې کيږي د جاري ويالو په غاړه

۵ ځينې به وايي چې مونږ يو د څښتن

نور به يادوي خپل ځانونه د يعقوب په نامه

ځينې به وليکي خپلو لاسونو باندې چې مونږه يو د څښتن

او نور به وايي چې مونږ يو اسراييليان»

## پرته د څښتن نه بل خدای نشته

۶ څښتن، د اسراييلو پاچا او ژغورونکی

مطلق قادر څښتن وايي داسې:

«زه اول يم او اخر يم

نشته بل خدای پرته له ما

۷ نشته څوک زما په شان

که چېرې وي، هغه دې وکړي اعلان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په ترتیب سره دې ووړاندې کړي خپل دلیلونه ماته

چې ما یو قوم ځای په ځای کړی ؤ له ډېر پخوا نه

هغوی دې ووایي چې څه پېښ شوي

هغوی دې وکړي پېشګویي چې پېښېږي به څه

۸ ای زما خلکو مه وېرېږئ او ډارېږئ مه!

ایا نه پوهېږئ تاسو چې د پخوا زمانې نه بیا تر اوسه

څه چې پېښ شوي، ما وه کړې پېشګویي د هغو

او تاسو یئ زما شاهدان

ایا شته دی بل خدای پرته له ما نه؟

نه، زه نه پېژنم بل د پناه ځای او بل خدای!»

## بت پرستي یعنې ناپوهي او کم عقلتوب

۹ هغوی چې بتان جوړوي ناپوه او جاهلان دي او په هغو شیانو پورې زړه تړي چې هېڅ ګټه نه لري. هغه
څوک چې د دې بتانو عبادت کوي، هغوی نهویني او نه پوهیږي چې اخر به وشرمیږي. ۱۰ یو فلزي بت
جوړول او بیا ورته د خدای په توګه عبادت کول څه ګټه لري؟ ۱۱ ګورئ، هغوی چې د هغه عبادت کوي،
وبه شرمیږي. کوم کسبګران چې بتان جوړوي هغوی یوازې انسانان دي، نور هېڅ شی نه دي. هغوی دې
راشي او په محکمه کې دې ودریږي. هغوی به ډېر ووېریږي او ټول به وشرمیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ اهنګر د فلز یوه ټوټه اخلي او په داش باندې یې ږدي او کارورباندې کوي. هغه په خپلو قوي متو
هغه فلز په سټک دومره ټکوي چې یو شکل ورنه جوړ شي. کله چې هغه کار کوي، وږی کیږي، خپل زور له
لاسه ورکوي او له تندې بې حاله کیږي. ۱۳ نجار د لرګي اندازه اخلي او په هغه باندې یو تصویر وباسي.
وروسته د رندې او تېشې سره هغه لرګي توږي او د بت په شکل یې چې د یو ښایسته انسان څېره ولري،
جوړوي. بیا یې په خپل کور کې ږدي. ۱۴ هغه د سبر ونې وهي، یا له ځنګل نه د څېړۍ ونې غوره کوي او
پرېږدي چې ونې لویې شي. یا د سروې ونه کري او انتظار کوي چې د باران لاندې هغه لویه شي. ۱۵ بیا
یو سړی د ونو د لرګیو یوه برخه د سوځولو دپاره اخلي. یوه برخه یې د ځان د تودولو او د ډوډۍ د پخولو
دپاره کاروي او له پاتې برخې یې خدای جوړوي او سجده ورته کوي. ۱۶ د لرګیو له یوې برخې اور بلوي.
غوښه کبابوي، خوري یې او مړیږي. هغه خپل ځان تودوي او وایي: «څومره ښه اور بلیږي، زه خپل ځان تود
احساسوم.» ۱۷ له پاتې لرګیو بت جوړوي او بیا ورته په سجده شي او عبادت یې کوي. هغه ته دعا کوي
او وایي: «ته زما خدای یې، ما وژغوره!»

۱۸ داسې خلک جاهلان دي او شعور نه لري. د هغوی په سترګو او زړونو پرده پرته ده، نو په دې خاطر
هغوی نهویني او نه پوهیږي. ۱۹ د بتانو جوړوونکي دومره عقل او شعور نه لري چې فکر وکړي او خپل
ځان ته ووایي: «یو څه لرګي مې وسوځول، په هغو باندې مې ډوډۍ پخه کړه، غوښه مېورباندې کباب کړه
او ومې خوړله. اوس څنګه کېدای شي چې د پاتې لرګیو نه یو کرغېړن بت جوړ کړم؟ ایا د لرګي یوې ټوټې
ته زه سجده وکړم؟»

۲۰ څوک چې بت جوړوي دا داسې دی لکه څوک چې ایرې خوري. د هغه احمقانه فکر هغه داسې
بې لارې کړی دی چې له دې فکره ځان نه شي خلاصولی. هغه دا نه شي منلی کوم بت چې د هغه په لاس
کې دی، هغه په رښتیا خدای نه دی.

## څښتن خالق او ژغورونکی

۲۱ څښتن وایي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«ای یعقوبه، په یاد ساته ته دا خبرې:

ای اسراییله، په یاد ساته چې ته یې زما خدمتګار

ما پیدا کړی یې د دې دپاره چې اوسې زما خدمتګار

ای اسراییله، نه هېرومه تا زه هېڅکله

۲۲ سرغړونې مې کړې ستاسو داسې پاکې

لکه وریځې چې ورکیږي له اسمانه

ګناهونه مې کړل پاک ستاسو

لکه غبار په شان چې ورکوي یې لمر

راستانه شئ ماته

ځکه ژغورلي مې یئ تاسو»

۲۳ ای اسمانونو، سندرې ووایئ د خوشحالۍ

ځکه چې وکړل ښتن لوی کارونه!

ای د ځمکې ژورو ځایونو،

ووهئ چیغې د خوشحالۍ

ای غرونو او ای ټولو ونو د ځنګل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووايئ د خوشحالۍ سندرې!

ځکه چې وژغوره څښتن د یعقوب قوم

او اسراییل به وکړي ثنا او صفت د څښتن

## اورشلیم به بېرته ودان شي

۲۴ څښتن، ژغورونکی ستا داسې وايي:

چا چې ته جوړ کړې د مور ګېډه کې

هغه داسې وايي:

«زه یم څښتن او یم خالق د ټولو شیانو

ما خپاره کړل اسمانونه په یوازې ځان

او په خپله مې هواره کړله ځمکه

۲۵ باطلوم زه پېشګویۍ د فال کتونکو

زه د هغوی نه احمقان جوړوم

ثابتوم غلطې د هوښیارانو وینا

او د هغوی حکمت بدلوم په حماقت باندې

۲۶ خو چې کله پېشګویي کړي خدمتګار زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کله چې ولېږمه زه استازي

چې ښکاره کړي نقشې زما

تاییدوم د خپل خادم خبرې

او عملي کومه نقشې د استازو خپلو

د اورشلیم په اړه وایمه زه

چې هغه به بیا وګرځي استوګنځی

یوځل به بیا اباد شي د یهودا ښارونه

او کنډوالې به یې کړم جوړې بېرته

۲۷ ژور بحر ته زه وایمه چې وچ شه

او هم به وچ کړمه سیندونه ستاسو

۲۸ د کوروش په اړه وایمه زه:

‹هغه زما شپونډی او لارښود دی زما د قوم

او کړي به ټول هغه کارونه چې ترې غواړم یې زه

هغه به حکم وکړي چې باید جوړ شي اورشلیم

او باید کېښودل شي زما د سپېڅلي کور بنیاد››»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# څښتن او د کوروش ټاکنه

۴۵ ۱ څښتن ټاکلی دی کوروش چې شي پاچا

او زور او واک يې دی ورکړی ورته

چې قومونه يې تابع شي

چې کړي لېرې پاچاهان له واکه

څښتن به خلاصې دروازې کړي د ښار

د هغه دپاره او نورې به نه بنديږي

څښتن کوروش ته داسې وايي:

۲ «زه به په خپله څمه ستا نه مخکې

او هوار به کړمه غرونه

زه به برنجي دروازې ماتې کړمه

او اړمونه به يې د اوسپنې ټوټې ټوټې کړم

۳ زه به تاته خزانې درکړم د تورو تيارو ځايونو

او هم به درکړم شتمني تاته د پټو ځايونو

بيا به ته پوه شې چې زه څښتن د اسراييلو خدای يم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې تاته کړي په نوم اواز

۴ ته مې ټاکلی یې ترڅو مرسته وکړې

زما د خدمتګار یعقوب

او مرسته وکړې زما د غوره شوي قوم اسراییلو سره

سره له دې چې ته ما نه پېژنې

زه په نوم اواز کومه تاته

او درکوم لقب د عزت تاته

۵ زه څښتن یم، نشته بل خدای پرته له ما

سره له دې چې ته ما نه پېژنې

زه به تاته درکړم توان

۶ د دې دپاره زه کوم دا کار

چې له ختیځه تر لوېدیځه پورې

ټول خلک پوه شي په دې

چې زه څښتن یم او بل خدای نشته

۷ زه خالق یم د تیارې او رڼا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه راولمه مصیبت او سوله

زه څښتن یم او کوم دا ټول کارونه

٨ ای اسمانه، ای ورېځو راووروه ته عدالت

لکه باران په شان

ځمکه دې پرانیستل شي

ترڅو خلاصون او عدالت راشین شي

او په کې وغوړېږي د عدالت او د خلاصون غوټۍ

زه څښتن کوم دا ټول کارونه»

## د خلقت او تاریخ څښتن

٩ افسوس په حال د هغه چې کړي جګړه د خپل خالق سره

هغه داسې دی لکه منګی چې د کلال سره کوي جګړه

ایا ختېه کولای شي وکړي پوښتنه د کلال څخه

دا چې ته څه جوړوې؟

یا ختېه ووایي کلال ته چې ته مهارت نه لرې؟

١٠ افسوس په حال د هغه چا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ووايي خپل مور او پلار ته:

«تاسو ولې په دې شکل زېږولی یمه؟»

۱۱ څښتن، سپېڅلی خدای د اسراییلو

او خالق د هغوی داسې وايي:

«تاسو کولای شئ پوښتنه وکړئ ما نه

راتلونکي وخت په هکله

خو حق نه لرئ چې پوښتنه وکړئ ما نه

زما د اولادو په اړه

او یا راته ووایئ چې باید څه وکړم

۱۲ زه هغه ذات یم چې مې جوړه کړله ځمکه

او انسان مې خلق کړ چې په کې واوسیږي

اسمانونه مې خپاره کړل په خپل لاس

لمر، سپوږمۍ او ستوري دي زما فرمان کې

۱۳ ما په خپله هڅولی دی کوروش

چې وکړي سم او د عدالت کارونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کومو لارو چې سفر کړي هغه
هغه به سمې کړمه
هغه به بېرته زما ښار اورشليم ودان کړي
او زما خلک به ازاد له اسارت کړي
دا کار به وکړي کوروش په وړيا توګه
نه به پيسې واخلي او نه به سوغات»
داسې وايي مطلق قادر څښتن
څښتن اسراييلو ته داسې وايي: ۱۴
«مال او شتمني د مصر او ايتوپيا به وي د ستاسو
او د سيبا لوړ قدي خلک به غلامان وي ستاسو
په زنځيرونو کې روان به وي هغوی تاسو پسې
تاسو ته ټيټ به خپل سرونه کړي او اقرار به وکړي
چې څښتن مل دی يوازې تاسو سره
نشته بل خدای پرته له هغه نه»
ای د اسراييلو خدايه او ای ژغورونکيه ۱۵

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په رښتيا ته هغه خدای يې چې خپل ځان پټوي

۱۶ څوک چې بتان جوړوي

ټول به وشرمېږي او شي به رسوا

۱۷ خو څښتن به اسراييل وژغوري

او خلاصون به يې پايښت ومومي د تل دپاره

د رسوايۍ سره به مخ نه شي د هغه قوم هېڅکله

۱۸ څښتن هغه خدای دی چې يې جوړ کړل اسمانونه

هغه جوړه کړله ځمکه، هغه يې کړه ټينګه او کلکه

جوړه يې نه کړله خالي هغه

هغه يې جوړه کړه د دې دپاره

چې په کې واوسېږي خلک

دا هغه ذات دی چې داسې وايي:

«زه يم څښتن او نشته بل خدای

۱۹ ما نه دي کړي پټې خبرې

پټ مې ساتلی نه دی خپل مقصد

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د یعقوب اولادې ته مې ویلي نه دي

چې ما لټوئ بېځایه

زه څښتن یم او رښتیا وایم

او اعلانوم زه حق»

## بتان او د نړۍ څښتن

۲۰ څښتن وايي:

«ای له قومونو پاتې شویو ژوندي خلکو

شئ راټول او راشئ زما حضور ته!

چې ګرځوي څوک د لرګیو بتان د خپل ځانه سره

دعا کوي هغو خدایانو ته چې دوی ژغورلی نه شي

هغوی جاهل دي او په هېڅ نه پوهیږي

۲۱ راشئ او خپله دعوه وړاندې کړئ په محکمه کې

خلک پرېږدئ چې مشوره وکړي یو د بله سره

چا وه کړې پېشګویي له ډېر پخوا نه چې څه به کیږي؟

ایا هغه څښتن زه نه وم؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه ژغورونکی او عادل خدای یم

زما نه پرته بل خدای نشته

۲۲ ای د ټولې نړۍ خلکو

راستانه شئ ماته ترڅو وژغورل شئ

ځکه چې زه یوازېنی خدای یم

او زما نه پرته بل خدای نشته

۲۳ ما په خپل ذات باندې قسم خوړلی

زما وعده ده رښتیا او د باور وړ ده

او تل هغې ته وفادار یم

هر یو راځي به او په ګونډو به شي زما په مخکې

او هره ژبه به قسم خوري زما په نوم

۲۴ خلک به وایي چې بری او توان

یوازې ښبتن پورې اړه لري

هرڅوک چې په قهر دي په ما باندې

هغوی به راشي زما حضور ته او هغوی به وشرمېږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ بريالی به شي ټول قوم د اسراييلو د څښتن په وسيله

او خوشحالي به هغوی وکړي د هغه په خاطر»

## رښتينی خدای او د بابل بتان

۴۶

۱ دي کړوپ شوي د بابل بتان بل او نبو

په حيواناتو باندې بار دي بتان د هغوی

هغه بتان چې ګرځول به خلکو

اوس يو دروند بار دی په ستړو حيواناتو باندې

۲ دي کړوپ شوي دواړه خدايان

ژغورلی نه شي هغوی خپل ځانونه

او اسيران شوي دي دوی په خپله

۳ «ای د يعقوب اولادې

ای زما د قوم اسراييلو نه پاتې شويو خلکو

ماته غوږ ونيسئ

ما کړی پام په تاسو له زېږېدو نه مخکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو ساتنه مې کوله د مور له خېټې

۴ زه ستاسو خدای یم تر زوړوالي پورې

او کوم به پام په تاسو تر سپین ږیرتوب پورې

ما پیدا کړي يئ او ستاسو ملاتړ به وکړم

پام به وکړمه په تاسو او تاسو به وژغورمه

۵ برابروئ او پرتله کوئ مې تاسو چا سره؟

ایا زه لرمه ورته والی له کوم چا سره؟

ایا بل څوک شته زما په شان؟

۶ خلک خلاصوي خپلې کڅوړې

او سره زر ترې غورځوي

هغوی سپین زر تلي په تله باندې

ورکوي هغوی زرګر ته پیسې

چې ورته بت جوړ کړي

بیا ورته کړي سجده او عبادت يې کوي

۷ اوچتوي هغوی دا بت خپلو اوږو ته او وړي هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا یې کېږدي په خپل ځای او ولاړ وي هلته

له خپله ځایه خوځېدلی نه شي

که څوک وکړي فریاد ورته

ورته نه شي ورکولی ځواب

او له مصیبته یې ژغورلی نه شي

٨ ای ګناهکارو خلکو، دا په یاد ساتئ

ما چې څه کړي دي، مه هېروئ هغه

٩ څه چې پېښ شوي وو ډېر پخوا

هغه په یاد راوړئ

ځکه چې زه یوازېنی خدای یم

زه یم خدای او بل خدای نشته زما په شان

١٠ ما د شروع نه دا ویلي وو چې څه به کیږي

د ډېر پخوا نه مې ویلي وو چې څه به پېښ شي

ما وویل چې بریالي کیږي به زما ټولې نقشې

اراده چې د هر کار وکړمه زه هغه سرته رسوم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ زه غواړمه یو کس چې له ختیځه راشي

له لېرې هېواده چې عملي کړي نقشه زما

هغه به ووهي غوټه لکه د باز په شان

څه چې وویل ما هغه به وکړم

دا اراده ده زما او زه به يې سرته رسومه

۱۲ ای سرزورو خلکو، ماته غوږ ونیسئ

تاسو فکر کوئ چې ډېر لېرې دی برى

۱۳ رانژدې کومه ورځ د برې او نه ده لېرې هغه

زه به درکړمه خلاصون تاسو ته بې له ځنډه

زه به وژغورم صهیون

او اسراییلو ته به ورکړم خپل جلال»

## د بابل د سقوط په هکله پیشګویي

# ۴۷

۱ څښتن وايي:

«ای د پېغلې انجلۍ په شان بابله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شه راښکته له خپل تخته

او کښېنه د ځمکې خاورو باندې

ځکه ته نه يې نور هغه ښکلې او نازکه پېغله!

۲ اوس راواخله پل د ژرندې او اوړه کړه غنم

لېرې کړه خپل نقاب! ښکلي کالي وباسه!

لمن دې پورته کړه او له ويالو تېره شه!

۳ خلک به ووينې چې ته يې لوڅه

هغوی به ووينې چې ته يې سپکه

او شرمېدلې يې ته

زه به واخلمه بدل له تا نه

او وبه نه کړمه زه رحم په چا»

۴ زمونږ ژغورونکی دی

سپېڅلی خدای د اسراييلو

د هغه نوم دی مطلق قادر څښتن

۵ څښتن بابل ته وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«تیارې ته لاړه شه او کښېنه غلې

ځکه چې تاته به نور څوک

د پاچاهیو ملکه نه وایي

۶ زه وم په قهر په خپل قوم باندې

د هغوی سره مې داسې چلند وکړ

چې ګوندې نور هغوی زما نه دي

نو په دې خاطر مې په لاس درکړل تاته هغوی

خو تا ونه کړلو رحم په هغوی باندې

حتی تا کېښود ډېر دروند پېټې

د سپین ږیرو په اوږو باندې

۷ تا ویل: ‹زه به تل یم ملکه›

او ودې نه نیول نظر کې دا شیان

او هیڅ وخت دې فکر نه ؤ کړی

د دې کار پای ته

۸ نو دې خبرې ته اوس غوږ ونیسه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای د عیاشۍ سره مینه لرونکې

فکر کوې چې ته یې په امن او په امان کې

کوې دعوه چې بل څوک نشته زما په شان

فکر کولو تا چې هېڅکله به کونډه نه شم

یا به ونه وینم دا غم

چې اولادونه مې له لاسه ورکړم

۹ خو په یوه شېبه او یوه ورځ کې

په ټول قدرت به په تا راشي دغه دواړه بلاګانې

او سره له ټولو کوډو او جادو چې ترې کار اخلې

خپل اولادونه او مېړه به ته له لاسه ورکړې

۱۰ تا په امن کې ګڼلو خپل ځان په بدو کړنو سره

تا کاوه فکر چې ما نه ویني هېڅوک

بې لارې کړې یې ته خپل حکمت او پوهې

او د خپل ځان سره دې دا وویل

چې بل څوک نشته دی زما په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ خو په تا باندې به راشي مصيبت

او مخنيوی به يې ونه شي کړای

کوډې او جادو هم ستا

په تا به راشي مصيبت

او خلاصولی به ترې نه شي خپل ځان

په تا به راشي تباهي ناڅاپه

يوه داسې تباهي چې دې په خوب کې هم ليدلې نه وي

١٢ تا د ځوانۍ له وخته زيار وېسته

چې ډېرو کوډو څخه کار واخلې

نو هغو کوډو ته دوام ورکړه

شي کېدای چې بريالۍ شې

او ووېروې خپل دښمنان

١٣ چې درکول کيږي تاته کومې مشورې

ته له هغو نه ستړې شوې يې

چېرې دي هغه نجوميان ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ګوري ستورو ته او کړي د هغو څېړنه

او پېشګويي کړي مياشت په مياشت

چې په تا څه پېښيږي

هغوی دې راشي او تا دې وژغوري

۱۴ خو پوه شه چې نجوميان به

وسوځي اور کې لکه د بوسو په شان

وبه نه لري د دې وس او توان

چې ځان وژغوري د اور له سرو لمبو نه

دا به نه وي د سکرو د اور په شان

چې انسان کښېني او ورته تود کړي خپل ځان

۱۵ دي همدا نجوميان چې تا زيار اېستلی

چې مشوره ترې واخلې

او له ځوانۍ نه دې دا کار کاوه

هغوی به پرېږدي تا او په خپله لاره به ځي

او پاتې به نه شي څوک چې تا وژغوري»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# سرزورى اسراييل

# ۴۸

١ اى د يعقوب اولادې

چې يادېږئ په نامه د اسراييلو

اى د يهودا اولادې

تاسو قسم خورئ د څښتن په نامه

او کوئ ذکر او عبادت د اسراييلو د خداى

خو په رښتيا او صداقت سره نه

٢ خو بياهم وياړئ په دې

چې اوسېدونکي د سپېڅلي ښار يئ

او تاسو تکيه کوئ د اسراييلو په خداى

چې نوم يې دى مطلق قادر څښتن

٣ څښتن وايي د اسراييلو قوم ته:

«ما پېشګويي کړې وه ډېره پخوا

او اعلان مې کړى ؤ چې پېښيږي به څه

بيا مې ناڅاپه عملي کړلې دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما ټولي پېشګويۍ شوې رښتيا

۴ ځکه چې زه پوهېدم

چې تاسو څومره يئ سرکښه خلک

او يئ کلک لکه د اوسپنې په شان

او نه نرمېدونکي يئ د برنجو په شان

۵ او ما پېشګويي کړې وه

ستاسو د راتلونکې په هکله له ډېر پخوا نه

اعلان مې کړی ؤ د هغو پېښو چې دي شوي

د دې دپاره چې دعوه ونه کړئ

چې دا هرڅه کړي ستاسو بتانو

او شوي ستاسو د فلزي مجسمو په امر

۶ تاسو زما پېشګويۍ واورېدلې

اوس يې وګورئ چې پوره شوې ټولې

بايد په دې باندې اقرار وکړئ

چې پېشګويۍ وې زما سمې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اعلانوم تاسو ته نوي شيان

له دې نه وروسته

هغه څه چې وو پټ له تاسو

او خبر نه وئ له هغو نه تاسو

۷ يوازې اوس منځ ته راوړمه هغه ټول شيان

چې تاسو نه وو اورېدلي تېرو وختونو کې

که چېرې تاسو اورېدلي وای

نو تاسو کړې به دعوه وای

چې مونږ خبر وو له دې

۸ نه، تاسو په دې اړه هېڅ نه دي اورېدلي

او خبر نه يئ هېڅ په دې هکله

ځکه چې زه پوهېدم چې خاينان يئ تاسو

او مشهور وئ د ياغيانو په نوم د مور له ګېډې

۹ خو د خپل نوم په خاطر ډېره کومه زه

له خپلې غوسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل ثنا او صفت په خاطر زه مخنیوی کوم

له خپلې غوسې او له منځه نه وړم تاسو

١٠ ګورئ، ما تاسو پاک کړئ،

خو نه په شان د سپینو زرو

تاسو مې وازمایلئ د کړاوونو داش کې

١١ څه چې کوم هغه کوم زه د خپل ځان په خاطر

یوازې کړم یې د خپل ځان په خاطر

ځکه زه نه پرېږدم چې بې عزتي مې وشي

او زه به ورنه کړم خپل جلال هېچا ته»

## کوروش د څښتن ټاکل شوی مشر

١٢ څښتن وايي: «ای یعقوبه، ای اسراییله،

ای زما قومه چې ما راغوښتي یئ واورئ!

یوازېنی خدای یمه زه

اول او اخر یمه زه

١٣ هو، ما بنیاد ایښی د ځمکې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو لاسونو باندې

او ما خپاره کړي اسمانونه دي

کله چې زه هغوی راغواړمه

نو راځي او حاضروي ځانونه

۱۴ سره راغونډ شئ تاسو ټول او واورئ!

په خدايانو کې چا وکړه پېشګويي د دغو پېښو؟

د کوم سړي سره چې مينه لرم

هغه تر سره به کړي بابل باندې زما اراده

او د هغه قدرت به کاندي ړنګه د بابل پاچاهي

۱۵ زه هغه ذات يم چې کورش ته مې اواز وکړ

او ما راوغوښت هغه

هغه دنده چې ما وسپارله هغه ته

نو برى به يې شي په برخه

۱۶ اوس نژدې راشئ او څه چې وايم

ورته غوږ ونيسئ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما له پیله په ښکاره خبرې کړې

او له شروع نه مې لاس درلود په ټولو پېښو کې»

اوس زه څښتن تعالی د خپل روح سره رالېږلی یم.

## د خپل قوم دپاره د څښتن نقشه

۱۷ سپېڅلی خدای د اسراییلو

هغه څښتن چې دی ژغورونکی ستاسو

داسې وایي:

«زه څښتن خدای یم ستاسو

زه هغه ذات یمه چې غواړم

درکړم تاسو ته تعلیم چې وي په ګټه ستاسو

او درته ښایم هغه لاره چې پرې لاړ شئ تاسو

۱۸ کاشکې مو پام کړی وای زما حکمونو ته

نو بیا به د سیند په شان جاري وای سوله ستاسو

او برې به راروان وای ستاسو خواته

په شان د بحیرې د څپو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ لکه د شګو په شان به وای بې شمېره اولاده ستاسو

او پرېښودلئ مې نه چې تاسو خپله

او یا نوم ستاسو له منځه لاړ شي»

۲۰ وځئ بابل نه او وتښتئ!

ټوله نړۍ کې کړئ اعلان دا زېری

د خوشحالۍ په چیغو

او ووایئ: «څښتن وژغوره

خپل خدمتګار یعقوب!»

۲۱ په وچه دښته کې چې کله روان کړی ؤ

څښتن خپل قوم

هغوی یې پرېنښودل چې تږي شي

څښتن د ګټ څخه جاري کړلې اوبه هغوی ته

هغه سوری کړلو ګټ او وبهېدلې اوبه ورڅخه

۲۲ څښتن وایي: «سوله نشته بد عملو ته»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ښتن خدمتګار او د قومونو رڼا

۴۹ ۱ ای د لېرې هېوادونو خلکو، ماته غوږ ونیسئ!

ای هغو خلکو چې اوسېږئ لېرې

وکړئ پام زما خبرو ته!

زه ښتن خدای وم غوره کړی زېږېدو نه مخکې

او زه یې وټاکلم د خپل خدمتګار په توګه

د مور له ګېډې څخه

۲ هغه تېره کړه زما ژبه لکه د توري په شان

او د خپل لاس د سیوري لاندې یې وکړه ساتنه زما

زه یې تېره کړم لکه د غشي په شان

او پټ یې وساتلم د خپلو غشو په کڅوړه کې

۳ هغه وویل ماته: «ته اسراییل یې خدمتګار زما

او ته به سبب شې د دې چې زه وښایمه خپله لویي»

۴ خو ما وویل له ځانه سره:

«ما وویست زیار خو ۇ بې ګټې هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولګاوه ما خپل ټول قوت بېځایه

خو بیاهم لرم باور په څښتن چې دفاع وکړي زما

زه یم ډاډه چې هغه به راته اجر راکړي»

۵ څښتن زه جوړ کړمه د مور په خېټه کې

چې خدمتګار شم د هغه

ترڅو راولم زه د هغه خواته بېرته قوم د یعقوب

او سره راغونډ کړم د اسراییلو خواره واره خلک

لرم عزت زه د څښتن نظر کې

او ماته یې قوت راکړی

۶ ماته وویل هغه:

«دا کافي نه ده، ای خدمتګاره زما

چې ته یوازې خدمتګار اوسې زما

ترڅو قبیلې کړې ځای په ځای د یعقوب

او بېرته راولې د اسراییلو ژوندي پاتې خلک

بلکې تا نه به جوړه کړم رڼا د قومو دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو ورسي خلاصون زما تر ټولې نړۍ ته»

۷ چې کتل کیږي چاته په سپکه سترګه

د هغه چا څخه چې قومونه کوي کرکه

هغه څوک چې غلام شوی د حکمرانانو له خوا

ژغورونکی او سپېڅلی خدای د اسراییلو

هغه ته داسې وايي:

«پاچاهان چې کله وګوري تا

تاته به پاڅیږي د درناوي په خاطر

شاهزادګان چې کله وګوري تا

تاته ټیټیږي به د درناوي په خاطر

ځکه څښتن دی وفادار او غوره کړی يې ته

سپېڅلي خدای د اسراییلو»

## د اورشلیم بیا جوړونه

۸ څښتن داسې وايي:

«په سم وخت کې چې د ژغورنې ورځ ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به واورمه ستا چیغې د کومک دپاره

زه به وکړمه ساتنه او ملاتړ ستا

او لوظ به وکړم زه د خلکو سره

ستا په وسیله

ته یوځل بیا به کړې اباده هغه ځمکه

او هغه به ووېشې چې اوس پرته ده

ورانه او ویجاړه

٩ بندیانو ته به ووایې ته چې راوځئ او ازاد شئ!

او چې په تیارو کې دي څوک هغوی ته وبه وایې

تاسو راووځئ رڼا ته!

هغوی به وڅري لکه پسونو په شان د لارو څنګ کې

او کړي پیدا به خواړه په ټولو وچو او شاړو غونډیو باندې

١٠ هغوی به نه شي هېڅ وخت وږي تږي،

نه به لمر او نه سوځوونکې ګرمي

هغوی ته ورسوي زیان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه هغوی ته کیږي لاړښوونه به د هغه چا له خوا

چې خواخوږی لري هغوی سره

او هغه به بیایي هغوی د اوبو چینو ته

۱۱ د غرونو منځ کې به زه جوړه کړمه لاره

او خپلو خلکو ته تیارې به کړم لویې لارې

۱۲ ګورئ، زما خلک به راشي د لیرې ځایه څخه

ځینې به راشي له شماله او ځینې له لویدیځ څخه

او ځینې جنوب کې له اسوان څخه»

۱۳ ای اسمانونو ووایئ د خوشحالۍ سندرې!

ای ځمکې خوشحاله اوسه!

او ای غرونو ووایئ د خوشحالۍ سندرې

ځکه ورکړې تسلي ده خپل قوم ته څښتن

او رحم به وکړي هغه په خپلو کړېدلو خلکو

۱۴ خو صهیون وویل:

«زه یم پریښی څښتن!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه یم هېر کړی ښتن!»

۱۵ نو په ځواب کې ښتن ووېل:

«ایا یوه مور شي هېرولی خپل تی رودونکی ماشوم؟

ایا کولای شي چې ونه کړي مینه هغه ماشوم سره

چې زېږولی یې وي؟

که بیاهم یوه مور هېر کړي خپل ماشوم

خو زه به هېڅکله هېر نه کړمه تا

۱۶ ای اورشلیمه، زه دې هېڅکله هېرولی نه شم!

ما ستا تصویر ایستلی په ورغویو د خپلو لاسونو

تل په فکر کې یم ستا د دېوالونو

۱۷ ځوک چې تا بیا جوړوي،

هغوی به زر راشي

خو هغو خلکو چې وران کړی یې ته

ستا نه به ووځي هغوی

۱۸ وګوره شاوخوا ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نظر وکړه چې څه کيږي!

ستا ټول خلک راغونډيږي

او دي راروان ستا خواته

زه قسم خورم په خپل ژوند باندې

ته به وياړ وکړې خپلو خلکو باندې

داسې وياړ چې کوي يې ناوې خپلو ګاڼو باندې

۱۹ په رښتيا ستا وطن ۆ وران او ويجاړ شوی

خو هغه به ډک شي اوس د خلکو څخه

او ډېر وړوکی او وي به تنګ

د هغو خلکو اوسېدو دپاره

هغه خلک چې بدل کړی يې ته په کنډوالو باندې

ستا نه به لېرې شي

۲۰ ستا کوم خلک چې زېږېدلي دي جلاوطنۍ کې

يو وخت به تاته هغوی ووايي:

‹دا ځای وړوکی او ډېر تنګ دی زمونږ دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ته راکړه نوره پراخه ځمکه د اوسېدو دپاره›

٢١ بیا به پوښتنه وکړې ته د خپل ځان ښخه:

‹چا راوړي دومره اولادونه دې نړۍ ته ماته؟

ما خو له لاسه دي ورکړي اولادونه خپل

او نه مې کېږي اولادونه نور

جلاوطنه شول او وشړل شول زما پاتې ژوندي خلک

بیا چا وروزل دا ماشومان؟

زه خو یوازې پاتې شوی ومه

دا ماشومان له کومه ځایه راغلل؟›»

٢٢ ښښتن تعالی داسې وایي:

«ګوره، زه به وکړم اشاره پردي قومونو ته

او زه به هغوی ته خپل بیرغ پورته کړم

هغوی به راوړي ستا زامن په غېږ کې

او ستا لونې خپلو اوږو باندې

٢٣ داسې به وي پاچاهان ستا دپاره لکه پلرونو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ملکې لکه د میندو په شان

هغوی به ټیټ شي ستا په وړاندې

او ښځې به خاورې ستا د پښو

نو بیا به پوه شې ته چې زه ښښتن یم

څوک چې په تمه وي زما کومک ته

نااميده کیږي به نه»

۲۴ ایا کولای شي څوک

چې غنیمت د جګړې واخلي له جنګیالي نه؟

او یا څوک شي خلاصولی بندیان

د کوم ظالم حکمران له لاسه؟

۲۵ خو ښښتن داسې وايي:

«حتی خلاص به اسیران شي د جنګیالي له لاسه

او د ظالم حکمران څخه به ونیول شي

د غنیمت مالونه

هرڅوک چې تا سره جګړه کوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوی سره به وجنګېږم زه

او اولادونه به ستا وژغورمه زه

۲۶ په دښمنانو به دې وخورم

د يو او بل د بدن غوښې

د يو او بل د وينو په ښبلو به

داسې نشه شي هغوی

د شرابو د نشې په شان

بيا به ټول انسانان پوه شي

چې زه ښښتن يمه ژغورونکی ستا

او د يعقوب زورور خدای يمه چې ازادوم تا»

## ۵۰

۱ ښښتن داسې وايي:

«ايا فکر کوئ چې ما داسې يئ شړلي

لکه څوک چې کړي طلاقه خپله ښځه؟

نو بيا طلاق نامه ده چېرته؟

ايا فکر کوئ چې ما خرڅ کړي يئ د غلامانو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه څوک چې خرڅوي خپل اولادونه غلامانو په شان؟

نه، په سبب د ګناهونو خپلو يئ خرڅ شوي تاسو

په سبب د سرغړونو خپلو يئ شړل شوي

۲ چې کله راغلم ستاسو ژغورنې ته زه

ولې تاسو کوم غبرګون ونه ښود؟

کله چې تاسو ما راوغوښتلئ،

ولې رانه کړلو ځواب تاسو؟

ايا دومره کمزوری يم زه

چې تاسو بېرته اخيستلی نه شم؟

ګورئ، زه وچومه بحيره په يو امر باندې

او بدلوم سيندونه زه په دښته باندې

ترڅو ماهيان مړه شي له تندې نه

او بد بوی د هغوی خپور شي هرې خواته

۳ زه پوښلی شم اسمان د وير په تور

او تياره کولای شم هغه»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د څښتن د خدمتګار اطاعت

۴ څښتن تعالی دي رازده کړي ماته
چې د دې وړ شم چې ورزده يې کړمه نورو ته
ترڅو قوي کړمه ستومانه خلک
هر سهار راويښوي هغه ما
چې غوږ ونيسم د هغه تعليم ته
د زده کوونکي په شان
۵ څښتن تعالی زما غوږونه خلاص کړل
ما نه ده کړې سرکښي له هغه
ګرځېدلی نه يم د هغه له لارې څخه
۶ چا چې وهلم زه
ما کړله لوڅه خپله ملا هغه ته
زما ږيره چې هغوی کله شکوله
ما وړاندې کړ خپل مخ هغوی ته
هغوی چې کله سپکولم زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما مخ ته يې توکولې لاړې

ما ترې وانه اړوه خپل مخ

۷ ښښتن تعالی دی مرستندوی زما

نو ماته نه شي رسولی ضرر سپکاوی د هغوی

او په خپله اراده باندې ولاړ يمه ټينګ

په دې پوهېږم چې شرمنده به نه شم

۸ ځکه چې خدای نژدې دی

او بې ګناهي به کړي ثابته زما

څوک کولی شي جرات چې په ما تور ولګوي؟

راځئ چې لاړ شو محکمې ته

څوک مدعي دی زما؟

مخامخ دې شي هغه راسره

۹ زما دفاع کوي ښښتن تعالی په خپله

نو بيا کولای شي څوک

چې ما مجرم ثابت کړي؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورک به شي ټول مدعيان زما

د زړو کاليو په شان

لکه چينجو چې وي خوړلي

۱۰ ای تاسو ټول چې وېرېږئ له څښتنه

او په خبرو د هغه د خدمتګار کوئ عمل

په کومه لاره چې روان يې تاسو

هېڅ رڼا نه ليدل کيږي

خو په څښتن باندې وکړئ توکل

او په خپل خدای باندې باور ولرئ

۱۱ خو تاسو ټول چې اور بلوئ

او سمبالوئ ځانونه په مشعلونو باندې

د دې اور د شغلو رڼا کې تېر کړئ خپل ژوند

خو په سخت عذاب کې به شئ مړه زما له لاسه

## د اورشليم دپاره د تسلۍ خبرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۵۱

۱ ښتن وايي:

«ای هغو خلکو چې روان يئ
د عدالت په لاره
او يئ لټون کې د ښتن
نو ماته غوږ ونيسئ
فکر وکړئ د هغه ګټ په هکله
چې جدا شوي يئ ترې
فکر وکړئ د هغه کان په هکله
چې راويستل شوي يئ ترې

۲ فکر وکړئ د خپل نيکه ابراهيم په اړه
او هم د ساره په اړه چې زيږولي يې يئ تاسو
کله چې ما راوغوښت ابراهيم
نو اولادونه يې نه وو
خو ما ورکړ برکت هغه ته او هغه شو
د اولادونو خاوند

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او اولاده مې ورته کړه ډېره زياته

٣ زه به ورکړم تسلي صهيون ته

او کنډوالې به د هغه جوړې کړم ټولې

که څه هم چې ځمکه يې دښته ده

خو زه به جوړ کړمه ترې باغ

د هغه باغ په شان

چې مې جوړ کړی ؤ عدن کې

هلته وي به خوشحالي او خوښي

هلته ويل کيږي به زما په خاطر

د شکرانې او ثنا او صفت سندرې

٤ ای زما خلکو، ماته غوږ ونيسئ

زه چې څه وايم ورته پام وکړئ

زه به قومونو ته شريعت ورکړم

زه به جاري کړمه خپل عدالت

ترڅو رڼا شي ژوند د هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ زما عدالت او زما انصاف نژدې دی
او راروانه ده زما ژغورنه
زه به په خپله حکومت وکړم قومونو باندې
لېرې هېوادونه انتظار کوي زما د راتلو
په دې هیله دي چې وژغورم هغوی
۶ وکړئ نظر پورته اسمان ته
او وګورئ لاندې ځمکې ته!
ځکه چې ورک به له نظره شي
اسمانونه د لوګي په شان
ځمکه زړه به شي لکه کالیو په شان
او ټول خلک به یې مړه شي د مچانو په شان
خو زه به وژغورم تاسو د تل دپاره
او نه لري پای زما عدالت
۷ ای هغو خلکو چې پوهېږئ عدالت باندې
نو ماته غوږ ونیسئ!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغو خلکو چې زما شريعت ته يې ورکړی دی

ځای په خپلو زړونو کې!

کله چې څوک کړي سپکاوی ستاسو، نو مه وېرېږئ

کله چې څوک درته ښکنځلې کوي، مه خپه کېږئ

٨ ځکه هغوی به وي هغو کاليو په شان

چې وي خوړلي کوېو

او هغو وړيو په شان چې خوړلي وي چنجيو

خو وي به تلپاتې عدالت زما

او ژغورنه به وي ټولو نسلونو دپاره»

٩ راويښ شه، پاڅه ای څښتنه!

د خپل قدرت څخه دې کار واخله

او وژغوره مونږ

لکه چې څنګه دې پخوا کړي وو

دا ته وې چې دې ټوټې ټوټې کړه

لويه بلا د سيند

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ دا هم ته وې چې بحیره دې کړله وچه

یعنې هغه بحیره چې وه ډېره ژوره

په ژورو د بحیرې کې دې کړه جوړه لاره

ترڅو پرې تېر شي هغه خلک چې ژغورلي دي تا

۱۱ هغه خلک چې ژغورلي دي څښتن

وبه رسیږي صهیون ته هغوی په خوشحالۍ سره

او راستانه به شي صهیون ته په دې لاره

د خوشحالۍ له سندرو سره

د تاج په شان د هغوی په سر به وي

خوشحالي تلپاتې

د هغوی زړونه به شي ډک له خوشحالۍ نه

او شي به له غم او له خفګانه خلاص

۱۲ څښتن وایي:

«یوازې زه درکوم تسلي تاسو ته

نو بیا وېرېږئ ولې له فاني انسانه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د واښو په شان له منځه ځي زر؟

۱۳ ایا هېر کړی مو دی هغه څښتن،

چې پیدا کړي یې يئ تاسو

اسمانونه یې دي خپاره کړي

او بنیاد یې ایښی دی د ځمکې؟

ولې په وېره کې تل ژوند تېروئ

د هغو خلکو د غوسې له لاسه

چې دربانديې ظلم کوي

څوک چې تیار دي تاسو له منځه یوسي؟

په تاسو نه کوي اغېزه نور د هغوی قهر

۱۴ څوک چې بندیان دي زر به ازاد شي هغوی

هغوی به نه مري په زندان کې

او وږي به هم نه شي هېڅکله هغوی

۱۵ ځکه چې زه یم څښتن خدای ستاسو

زه راولمه بحیره په څپو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او غړمبوم څپې د هغه

زما نوم دی مطلق قادر څښتن!

۱۶ ما درکړی خپل کلام تاته

او ساتلی مې يې د خپل لاس

د سيوري لاندې

ما خپاره کړي اسمانونه

بنياد مې ايښی دی د ځمکې

او ما وويل صهيون ته: ‹ته يې قوم زما›»

## د اورشليم د کړاوونو پای

۱۷ ای اورشليمه، ته راويښ شه!

ته راپاڅېږه او ودرېږه!

تا د څښتن له لاسه څښلې د غضب ډکه پياله

چې يې درکړې وه د قهر په وخت کې

هغه دې وڅښله تر وروستي څاڅکي پورې

او اوس په لاره کوږ وږ روان يې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ ستا چې ښومره اولادونه زېږېدلي

له هغو نه يو هم نشته چې ستا وکړي لارښوونه

تا چې ښومره اولادونه دي روزلي

له هغو نه يو هم نشته چې تا ونيسي د لاسه

۱۹ دوه غبرګې بلاګانې نازل شوې دي په تا

يعنې ورانی او تباهي، قحطي او جګړه

داسې څوک نشته چې درته درکړي تسلي

داسې څوک نشته چې درسره وکړي خواخوږي

۲۰ د هرې کوڅې په سر کې

اولادونه ستا غورځېدلي او پراته دي

هغوی دي هغې هوسۍ په شان

چې راګير شوې وي په جال کې

ځکه په هغو دی نازل شوی د څښتن غضب

او هغوی رټلي دي ستا خدای

۲۱ نو واورئ، ای د اورشليم کړېدلو او بې وزله خلکو!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که څه هم شراب مو نه دي څښلي خو نشه ښکارئ

٢٢ څښتن، ستاسو خدای کوي دفاع ستاسو او داسې وايي:

«ګورئ، ما لېرې کړې ده پیاله د غضب ستاسو له لاسه

د هغې پیالې په څښلو چې کاږه واږه ځئ تاسو

نور به ونه څښئ تاسو دا پیاله

٢٣ زه به ورکړم هغه چاته دا پیاله

چا چې په تاسو باندې کړی ظلم

هغه چا چې په کوڅو کې څملولئ تاسو

او ایښودلې به یې پښې درباندې

لکه چې ګرځي څوک په خاورو باندې»

## خدای اورشلیم ژغوري

۵۲ ١ ای صهیونه، شه راویښ، راپاڅه

خپل ځان قوي کړه

ای سپېڅلی ښاره اورشلیمه،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کالي واغونده د خپل شان او شوکت!

په رښتیا به کافران او ناپاکه کسان

بیا هېڅکله داخل نه شي ستا دروازو ته

٢ ای اورشلیمه، ځان ته ټکان ورکړه، ازاد شه!

له خاورو پورته شه او کښېنه په خپل تخت باندې

ای اسیرانو د صهیون، وشلوئ

د غلامۍ زنځیرونه د خپلو غاړو نه

٣ نو څښتن داسې وايي: «تاسو په وړیا توګه خرڅ شوي وئ او هم به په وړیا توګه بېرته واخیستل شئ.»
٤ څښتن تعالی داسې وايي: «ډېره موده مخکې زما قوم مصر ته تللی ؤ چې هلته د پردیو په توګه ژوند
وکړي، وروسته اشوریانو هغوی اسیران کړل او بې سببه یې په هغوی ظلم کاوه ٥ او اوس په بابل کې هم
په هغوی ظلم کیږي. هغوی په وړیا توګه غلامان شوي دي او د هغوی حاکمان په خپل ځان ویاړي او هر
وخت زما نوم سپکوي. ٦ خو هغه ورځ راتلونکې ده چې زما قوم به زما د نوم اقرار وکړي چې زه خدای
یم. هو، هغوی به پوه شي چې زه دلته یم او په خپله د هغوی سره خبرې کوم.»

٧ ښومره ښکلي دي د پیغام وړونکي قدمونه

چې په غرونو دي روان

چې راوړي زېری د خوشحالۍ او سولې

هغه اعلان کړي د ژغورنې او صهیون ته وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«پاچاهي کوي ستا خدای»

۸ څوک چې ساتنه کړي د ښار، هغه چيغې وهي

هغوی چيغې وهي له خوشحالۍ نه

ځکه هغوی په خپلو سترګو ويني

د څښتن راستنېدل صهيون ته

۹ ای د اورشليم کنډوالو،

يوځای او په لوړ اواز د خوشحالۍ ووهئ چيغې!

ځکه څښتن به وژغوري خپل ښار

او خپلو خلکو ته به ورکړي تسلي

۱۰ څښتن به کار واخلي له خپل سپېڅلي ځواکه

د ټولو قومونو مخکې

وبه ګوري ټوله نړۍ

زمونږ د خدای ژغورنه

۱۱ ځئ، لاړ شئ، ووځئ له دې ځايه!

څوک چې سامان وړي د څښتن د کور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له بابله ووځئ

پاک کړئ ځانونه خپل

او لاس مه وروړئ ناپاکه شي ته

۱۲ دا ځل به ونه وځئ په بيړه تاسو

له هغه ځايه

تاسو به نه کوئ د تېښتې هڅه

ځکه څښتن به ځي ستاسو نه مخکې

او د شا له خوا به کړي ساتنه ستاسو

د اسراييلو خدای

## کړېدلی خدمتګار

۱۳ څښتن وايي:

«ګورئ، په خپل کار کې بريالی به وي زما خدمتګار

وي به سرلوړی او ډېر درناوی به يې کيږي

۱۴ خو کله چې وليد هغه ډېرو خلکو

نو حيران شول هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه بدرنګه يې څېره شوه دومره

چې نه ښکاره کېدله د انسان په شان

۱۵ خو اوس به ډېر قومونه شي حيران هغه ته

او چوپ به شي پاتې پاچاهان له حيرانتيا نه

هغوی به ووينې داسې شيان

چې هېڅکله ورته نه وو ويل شوي

هغوی به پوه شي داسې شيانو باندې

چې يې نه وو اورېدلي مخکې»

## ۵۳

۱ چا باور کړی دی زمونږ پيغام باندې؟

ښکاره شوی چاته د څښتن قوي لاس؟

۲ داسې لوی شو د څښتن په مخکې

خدمتګار د هغه

لکه تنکي نيالګي په شان

چې ريښې نيسي په وچه ځمکه کې

نه درلودله هغه داسې ښکلا يا ښايست

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زمونږ پام يې اړولی وای خپل ځان ته

هغه کې نه ؤ داسې جالب شی

چې لېوال شوي وای مونږ ورته

۳ خلکو کتل هغه ته په سپکه سترګه

او هغه يې رد کړ

هغه وزغمل دردونه او کړاوونه

حتی هر چا مخ اړوه له هغه

خلکو کتل هغه ته په سپکه سترګه

نه ورکاوه مونږه هغه ته ارزښت

۴ بې له شکه هغه وزغمل زمونږ کړاوونه

او خپلو اوږو باندې يې يووړل زمونږ دردونه

هغه دردونه چې هغه وزغمل بايد زغملي وای مونږ

خو مونږ فکر کاوه چې يوه سزا ده دا دردونه

چې راغلي په هغه باندې د خدای له خوا نه

۵ خو هغه ټپي ټپي شو زمونږ د ګناهونو په خاطر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ووهل شو زمونږ د بدو کارونو په خاطر

د هغې سزا په خاطر چې هغه وزغمله

را په برخه شوله مونږ ته ارامي

د هغه د ټپونو نه مونږ وموندله روغتيا

۶ مونږ ټول وو لکه ورکو پسونو په شان

هر يو روان ؤ سرګردان په خپله لاره

خو څښتن کېښودله زمونږ ټوله ګناه

د هغه په اوږو باندې

۷ په هغه ظلم وشو خو ويې زغملو په عاجزۍ سره

هغه هيڅ ونه ويل

لکه څوک چې وړي ورى حلالولو ته

لکه څنګه چې وي غلى پسه د سکولوونکو مخکې

هغه هيڅ ونه ويل

۸ هغه ونيول شو او په مرګ محکوم شو

او يووړل شو اعدام ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه يې وواژه زما د قوم د جرمونو په خاطر

او هېچا يې ونه کړه پروا

٩ هغه يې ښخ کړ د مجرمانو په شان

او د يو شتمن سړي په قبر کې يې کېښود هغه

که څه هم هغه هېڅکله کړی نه ؤ ظلم او تېری

او نه يې څوک ؤ غولولی

١٠ خو دا رضا وه د څښتن

چې هغه ووهي او ويې کړوي

ترڅو قرباني شي د ګناه په خاطر د هغه ژوند

نو هغه به ووينې خپل اولادونه

او وبه لري زيات عمر

شي پوره به د څښتن رضا په وسيله د هغه

١١ هغه به وګوري رڼا له يو دردناکه

ژوندانه نه وروسته

او شي به ډاډه چې کړېدنه يې بېځايه نه وه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي تجربه به کړېدنه زما عادل خدمتګار

دا به ممکن کړي چې عادل وګڼل شي ډېر خلک

ځکه هغه به یوسي ګناهونه د هغوی خپلو اوږو باندې

١٢ نو زه به ورکړمه هغه ته د عزت مقام

مقام به ورکړم د لویانو او زورورو ورته

ځکه هغه کړلو قربان خپل ځان

او وشمېرل شو په مجرمانو کې

په ځان یې واخیسته د ډېرو خلکو ګناه

او د مجرمانو دپاره یې وکړه دعا

## د اسراییلو سره د ښتن مینه

# ۵۴

١ ښتن وايي:

«ای اورشلیمه، ته وې په شان

د هغې شنډې ښځې

چې دردونه یې د لنګون نه وي لیدلي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو اوس ووايه د خوشحالۍ سندرې

او ووهه چيغې په لوړ اواز!

سره له دې چې شړل شوې وې ته

خو ته به د مېړه لرونکې ښځې څخه

ولرې زيات اولادونه

٢ کومه خېمه کې چې اوسېږې هغه لويه کړه ته

پردې يې جوړې کړه خورې ورې

په مصرف کې يې سپما مه کوه

رسۍ ګانې کړه اوږدې د هغې

او ښه يې کلکه کړه مېخونو باندې

٣ هرې خواته به ته وغزوې خپلې پولې

کومه ځمکه چې نيولې ده اوس نورو خلکو

بېرته به يې ونيسي اولاده ستاسو

کوم ښارونه چې اوس وران دي

هغه به بېرته کړي ودان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ مه وېرېږه، ځکه ته به مخامخ نه شې بيا

له رسوايۍ سره

مه بې زړه کېږه، ځکه رسوا به نه شې

ځکه چې هېر به کړې ته شرم د خپلې ځوانۍ

او وبه نه وينې ته سپکاوی د کونډتوب

۵ ځکه ستا خالق چې نوم يې دی

مطلق قادر څښتن

ستا دپاره هغه دی لکه مېړه په شان

سپېڅلی خدای د اسراييلو

دی ژغورونکی ستا

هغه ته وايي خدای د ټولې نړۍ

۶ ته يې د ځوانې ښځې په شان

چې پريښې يې وي مېړه

او مات شوی يې وي زړه

خو ستا څښتن خدای بېرته راغواړي تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او داسې وايي:

٧ ‹ما ته پرېښودلې د ډېر لږ وخت دپاره

خو اوس به زه په ډېره مينه بېرته تا راولم

٨ ډېرې غوسې نه ما مخ واړاوه له تا يوې شېبې دپاره

خو زه به رحم وکړم تا باندې تلپاتې مينې سره››»

هغه څښتن چې ستا ژغورونکی دی، داسې وايي.

٩ «ځکه دا زما دپاره ده لکه د نوح د زمانې په شان

لکه څنګه چې ځمکه ونيوله ټوله اوبو

او په هغه وخت کې مې خوړلی ؤ قسم

بيا به هېڅکله رانه شي داسې سېلاب په ځمکه

اوس هم قسم خورم چې بيا به

نه شمه په تا باندې په قهر

او تاته نه درکوم نوره سزا

١٠ که له منځه لاړ شي غرونه

او له خپله ځايه شي غونډۍ بېځايه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو لاړه به نه شي له منځه زما تلپاتې مینه

او د تل دپاره به ولاړ يم د خپلې سولې په لوظ»

هغه څښتن چې کوي رحم په تا، دا وايي

## راتلونکی اورشلیم

١١ څښتن وايي:

«ای کړېدلیه ښاره چې تېر شوی دی توفان دربانديې

هېڅوک نشته چې تاته درکړي تسلي

ګوره، زه به تا بېرته جوړ کړم د قیمتي تیږو نه

او بنيادونه به دې کېږدم د لاجوردو څخه

١٢ د یاقوتو نه به جوړ کړم ستا برجونه

او دروازې به دې وي د هغو تیږو چې ځلیږي

له قیمتي تیږو به جوړ کړم ستا شاوخوا دېوالونه

١٣ زه به په خپله تعلیم ورکړم ټولو اولادونو ته ستا

او ور په برخه به کړم سوله او ارامي ورته

١٤ ستا بنیاد به وي ولاړ په عدالت او انصاف

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته به لېږي يې له ظلمه او وبه نه وېرېږي

او نه به وېره تاته راشي نژدې

۱۵ که چېرې څوک جګړه وکړي له تا سره

اراده به زما نه وي په هغه کې

څوک چې جګړه کوي له تا سره

هغه به ماتې وخوري ستا له امله

۱۶ ګوره، ما پیدا کړی اهنګر دی

چې په اورغالي کې سکاره بلوي په پکي باندې

او وسله جوړوي د خپل مقصد دپاره

او هم مې پیدا کړ تباه کوونکی

چې کار واخلي له وسلې نه

د تباهۍ په خاطر

۱۷ کومه وسله چې ستا په ضد جوړېږي

تاته نه شي رسولی ضرر

چې په تا باندې څوک تور لګوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته بريالى به شي هغه باندې

خادمان به زما ګټه واخلي دې نه

او ور په برخه به برى کړمه هغوى ته»

دا د څښتن وينا ده.

## د څښتن رحم

55 ۱ څښتن وايي:

«اى هغو خلکو، چې يئ تږي

راشئ او وڅښئ اوبه

تاسو چې نه لرئ پيسې

راشئ غله واخلئ او ويې خورئ

راشئ واخلئ شراب او شيدې

دا دي وړيا تاسو ته

۲ کوم شيان چې د خوړلو نه دي

نو لګوئ ولې پيسې ورباندې؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې تاسو لګوئ د تنګاکو لاسونو پیسې

او بیاهم پاتې کېږئ وږي؟

ونیسئ غوږ ماته په ځیر سره

او ښه خوراک کوئ،

تاسو به خوند واخلئ د ښو خوړو څخه

۳ ای زما خلکو، ونیسئ غوږ ماته په ځیر سره

او راشئ ماته

ونیسئ غوږ ترڅو ژوندي واوسئ!

وبه کړم تاسو سره یو لوظ ابدي

دربه کړم هغه باوري او تلپاتې مینه

چې د داود سره مې کړې وه وعده

۴ ګورئ، هغه مې وټاکه قوماندان او د قومونو مشر

او ما وښود خپل قدرت هغوی ته په وسیله د هغه

۵ اوس به راوغواړئ پردي قومونه تاسو

چې یو وخت هغوی نه پېژندلئ تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغوی به راشي اوس په منډه منډه

ځکه ستاسو څښتن خدای، سپېڅلي خدای د اسراييلو

دربخښلی دی عزت او وياړ تاسو ته»

۶ اوس چې موندلی شئ څښتن، نو د هغه وکړئ لټون

اوس چې نژدې دی څښتن، په هغه غږ وکړئ

۷ بد عمله خلک دې پرېږدي خپلې بدې لارې

بد خيالونه دې بدل کړي خپل

هغوی دې وکړي رجوع څښتن ته

چې پرې وکړي رحم

رجوع دې وکړي زمونږ خدای ته

ځکه بخښنه د هغه نه لري پای

۸ څښتن داسې وايي: «زما خيالونه نه دي

ستاسو د خيالونو په شان

او نه مې هم لارې دي

ستاسو د لارو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ لکه څنګه چې له ځمکې نه اوچت دي اسمانونه

داسې اوچت دي زما خيالونه او زما لارې هم

ستاسو د خيالونو او لارو څخه

١٠ لکه څنګه چې وريږي باران او واوره له اسمانه

او هغه نه ځي بېرته پورته ترڅو خړوبه نه کړي ځمکه

تياروي ځمکه د کښت دپاره، راشنه کوي فصلونه

تياروي تخم د کښت دپاره او خواړه خوراک دپاره

١١ نو همداسې کومه خبره چې راوځي زما له خولې

بې ثمره به رانه شي هغه بېرته

بلکې پوره به کړي زما مقصد هغه

او عملي به کړي زما اراده

١٢ تاسو به ووځئ د بابل نه په خوشحالۍ سره

او په سلامتۍ سره به يووړل شئ خپل وطن ته

غرونه او غونډۍ به ستاسو په مخکې

سندرې ووايي په لوړ اواز سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او له خوشحالۍ به ټولې ونې پړقوي لاسونه

۱۳ چېرته چې دي اوس د اغزيو بوټي

هلته راشنې به شي د سروې ونې

او شي راشنې به د اس ونې

دا به وي يوه تلپاتې او نه ختمېدونکې نښه

دا به ورکړي لوی عزت د څښتن نوم ته»

## د نورو قومونو ژغورنه

٥٦ ۱ څښتن خپل قوم ته داسې وايي: «د انصاف او عدالت په بنياد چلند وکړئ، ځکه چې زه به زر راشم، تاسو ته به خلاصون درکړم او زما عدالت به څرګند شي. ۲ بختور دی هغه څوک چې تل داسې کوي او د سبت د ورځې درناوی کوي او د هغه سپکاوی نه کوي. له بدو کړنو ځان ساتي.»

۳ د پردي وطن سړی چې د څښتن د قوم سره يوځای شوی، هغه دې فکر ونه کړي چې څښتن به خامخا ما له خپلو خلکو نه بېل کړي او نه دې خصي سړی دا فکر وکړي چې زه خو د وچې ونې په شان بې حاصله يم. ۴ ځکه څښتن داسې وايي: «کوم خصيان چې زما د سبت د ورځې درناوی وکړي، هغه کار وکړي چې زه وربانديې خوشحالېږم او په وفادارۍ سره زما په لوظ باندې ټينګ ولاړ وي، ۵ نو بيا هر خصي ته به د خپل کور په دېوالونو کې يو يادګار او يو نوم ورکړم. د هغه چا په پرتله چې اولادونه لري، نوم به يې لوړ وي او تل ترتله به يادېږي، هېڅکله به هغه هېر نه شي.»

۶ نو څښتن هغو پرديو خلکو ته چې د هغه د قوم سره يوځای کېږي، د هغه د نوم سره مينه کوي، د هغه خدمت کوي، د سبت د ورځې درناوی کوي او د دې ورځې سپکاوی نه کوي، بلکې په وفادارۍ سره د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په لوظ باندې ټینګ ولاړ وي، وايي: ۷ «تاسو به خپل سپېڅلي غره ته راولم او هلته به په خپل کور
کې چې د دعا کولو ځای دی خوشحالي درکړم. کومې سوځېدونکې نذرانې او نورې قربانۍ چې تاسو یې زما
د قربانۍ په ځای باندې کوئ، هغه به قبولې کړم. ځکه زما کور به د ټولو قومونو دپاره د دعا د کور په نوم
وبلل شي.» ۸ څښتن تعالی چې خپل قوم اسراییل یې له جلاوطنۍ نه خپل وطن ته راوستلی دی، وعده
کړې ده چې هغه به نور خلک هم راولي چې د دوی سره یوځای شي.

## د اسراییلي مشرانو غندنه

۹ ای ټولو وحشي او د ځنګل داړونکو حیواناتو راشئ، دا خلک وداړئ او ویې خورئ! ۱۰ څښتن وايي:
«زما د قوم مشران د هغو پهره دارانو په شان دي چې ړانده وي او په خطر نه پوهیږي. دا مشران د هغو
ساتونکو سپیو په شان دي چې نه غاپي، هسې پراته وي او خوبونه ویني. خوب یې ښومره خوښ دی! ۱۱
هغوی د حریصو سپیو په شان دي چې هېڅکله نه مړیږي او هم د هغو شپنو په شان دي چې په خطر نه
پوهیږي. هر یو یې هغه کار کوي چې زړه یې غواړي، یوازې خپلې ګټې په پام کې نیسي او بس. ۱۲ هغوی
وايي: ‹راځئ چې شراب واخلو او هرڅومره چې کولای شو ویې څښو! سبا ورځ به د نن ورځې څخه هم بهتره
وي.›»

## د نېکو خلکو مړینه

# ۵۷

۱ هېڅوک د نېکو خلکو د مړینې پروا نه ساتي. کله چې هغوی مړه شي د مړینې په دلیل یې
څوک نه پوهیږي. هغوی په دې خاطر مري، ترڅو له راروانې بلا څخه وژغورل شي. ۲ څوک چې نېکه
لاره غوره کوي او مري، د هغوی دپاره مړینه سلامتي او ارامي ده.

## د اسراییلو د بت پرستۍ غندنه

۳ ای کوډګرو، زناکارانو او فاسدو خلکو، دلته راشئ! ۴ تاسو د ژبې په ویستلو په چا ملنډې وهئ؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو سرکښ او غولوونکي نه يئ؟ ۵ تاسو د بتانو داسې عبادت کوئ، لکه څنګه چې د سپېڅلو ځېړيو او
هرې شنې ونې لاندې زنا کوئ. تاسو خپل اولادونه په وچو ويالو او د ګټو په غارونو کې قرباني کوئ. ۶
تاسو د هغو ځايونو نه ښويې تيږې را اخلئ، خپل ځان ته بتان جوړوئ او د خدايانو په توګه ورته عبادت
کوئ. تاسو هغوی ته د څښلو نذرانې توی کړې دي او د غلو دانو نذرانې مو ورته راوړې دي. ايا دا ټول
شيان ومنم؟ ۷ تاسو لوړو غرونو ته ځئ، بتانو ته نذرانې وړاندې کوئ او هلته زنا کوئ. ۸ د ترلو
دروازو تر شا مو بتان ودرولي دي او زه مو پرېښی يم. ځانونه لوڅوئ، د خپلو معشوقو سره په يوه بستره کې
څملئ، هغوی سره لوظ کوئ او په دې ډول خپل هوس پوره کوئ. ۹ تاسو د مولک بت ته د تېلو سوغات
وړاندې کوئ او په ځان باندې ډېر عطرونه وهئ. د دې دپاره چې نور خدايان پيدا کړئ، نو خپل استازي
ډېرو لېرې ځايونو، حتی د مړو دنيا ته لېږئ. ۱۰ تاسو د نورو خدايانو په لټولو سره خپل ځانونه ستړي
کړل، خو تاسو ونه ويل چې دا کار بې ګټې دی. تاسو د هغوی په لټون کې نوی قوت پيدا کړ او کمزوري نه
شوئ.

۱۱ څښتن وايي: «دا خدای څوک دی چې تاسو ورڅخه دومره وېرېږئ، ماته دروغ وايئ او ما بيخي
هېروئ؟ په دې خاطر چې زه ډېره موده غلی پاتې وم، زما څخه نه وېرېږئ؟ ۱۲ تاسو فکر کوئ چې ستاسو
کارونه عادلانه دي، خو زه به ستاسو بد عملونه خلکو ته ښکاره کړم. دا کارونه به تاسو سره کومه مرسته
ونه شي کولای. ۱۳ کله چې تاسو د مرستې دپاره چيغې وهئ، نو پرېږدئ چې ستاسو بتان تاسو وژغوري!
څکه حتی يو نرم باد به هغوی ټول لېرې يوسي! خو څوک چې ماته پناه راوړي، هغوی به د دې هېواد او زما
د سپېڅلي غره وارثان وي.»

## د مرستې او شفا په اړه د خدای وعده

۱۴ څښتن وايي: «لاره جوړه کړئ، لاره جوړه کړئ! زما د خلکو د لارې څخه هر خنډ لرې کړئ!» ۱۵
څکه خدای تعالی چې ډېر لوړ، تل ترتله ژوندی او نوم يې سپېڅلی دی، داسې وايي: «زه په لوړ او سپېڅلي
ځای کې اوسېږم، خو زه د هغو خلکو سره هم اوسېږم چې توبه ګاره او عاجزان دي، ترڅو د عاجزو خلکو باور
په ځای کړم او د توبه ګارانو هيله بېرته راژوندۍ کړم. ۱۶ زه به تل په خپل قوم باندې تور نه لګوم او نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به وربانديږ په قهرېږم، ځکه که داسې مې وکړل، نو د خلکو نه به روح او ساه ووځي يعنې هغه ژوندون
ورکوونکې ساه چې ما پيدا کړې ده. ١٧ زه په هغوی د دوی د حريصتوب په خاطر په قهر وم، نو ځکه مې
هغوی ته سزا ورکړه او مخ مې ورڅخه واړاوه. خو هغوی مرتد خلک وو او د ګناه لاره يې پرېنښودله. ١٨
ما وليدل چې زما خلکو څه کول، خو زه به هغوی ته شفا ورکړم. زه به دوی ته لارښوونه وکړم او تسلي به
ورته ورکړم. ويرجنو خلکو ته به هم تسلي ورکړم ١٩ او دوی به دې ته وهڅوم چې زما ثنا او صفت وکړي.
زه به ټولو ته که نژدې وي يا لېرې، سوله او سلامتي ور په برخه کړم او خپلو خلکو ته به شفا ورکړم! ٢٠
خو بدکاره خلک د هغه توفاني بحيرې په شان دي چې غرهار يې هېڅکله درېدلی نه شي او اوبه يې چټلې او
خټې له ځانه سره راوړي.» ٢١ زما خدای وايي: «د بد عملو خلکو دپاره سوله نشته.»

## رښتينې روژه

۵۸ ١ څښتن وايي: «ته په لوړ اواز چيغې ووهه، ورو ورو خبرې مه کوه! د سرني په شان خپل اواز
اوچت کړه! د يعقوب اولادې يعنې زما قوم ته د هغوی د ياغيتوب او ګناهونو اعلان وکړه! ٢ زما خلک
هره ورځ زما په لټون کې دي او هغوی لېوال دي چې زما لاره وپېژني. هغوی د هغه نېک قوم په شان ښکاري
چې د خپل خدای حکمونه يې رد کړي نه وي. دوی زما نه عادلانه پرېکړې غواړي. هغوی ماته وايي: ‹موږ
تا خدای ته د نژدېوالي له امله خوشحالېږو.›»

٣ خلک د څښتن څخه پوښتنه کوي: «کله چې موږ روژه نيسو، ولې تاسو يې نه وينئ؟ موږ ځانونه
دومره وړي کړل، ولې تا پام ونه کړ؟»

څښتن خلکو ته وايي: «حقيقت دا دی کله چې تاسو روژه نيسئ، نو يوازې د خپلې ګټې په فکر کې يئ او د
خپلو ټولو مزدورانو سره ظلم او زياتې کوئ. ٤ داسې روژه څه ګټه لري چې تاسو په کې نانډرۍ وهئ او
جګړه کوئ او يو بل په سوک وهئ؟ د داسې روژې په وخت کې ستاسو اواز اسمان ته نه رسيږي. ٥ کله
چې تاسو روژه نيسئ نو خپل ځانونه کږوئ، لکه د لوخو په شان خپل سرونه ټيټ نيسئ، بوجۍ غوړوئ او په
ايرو باندې کښېنئ. ايا تاسو دې ته روژه وايئ؟ ايا فکر کوئ چې زه به داسې روژه ومنم؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ کومه روژه چې زه يې غواړم هغه دا ده: د ظلم زنځيرونه وشلوئ، د بې عدالتۍ جغ لېرې او مات کړئ
او مظلومان ازاد کړئ. ۷ د خپلو خوړو نه وږيو خلکو ته برخه ورکړئ او د خپلو کورونو دروازې بې وزلو
او بې کوره خلکو ته خلاصې پرېږدئ. کوم خلک چې کاليو ته اړتيا لري، هغوی ته کالي ورکړئ او د خپلو
خپلوانو سره د مرستې کولو څخه مه پټېږئ. ۸ نو بيا به تاسو لکه د سهار د لمر په شان ځلېږئ او ستاسو
ټپونه به ډېر زر روغ شي. ستاسو نېکي به ستاسو سره مل وي او د څښتن جلال به د هرې خوا څخه ستاسو
ساتنه وکړي. ۹ کله چې تاسو اواز وکړئ، زه به هغه واورم. کله چې زما څخه مرسته غواړئ، نو وبه وايم:
‹زه حاضر يم.›

که چېرې تاسو په خپل منځ کې د ظلم، ګوتنيونې او ناحقه تور څخه لاس واخلئ، ۱۰ که تاسو وږيو خلکو
ته خواړه ورکړئ او د اړو خلکو اړتياوې پوره کړئ، نو بيا به ستاسو رڼا په تياره کې وځلېږي او ستاسو شاوخوا
تياره به د غرمې د لمر په شان په رڼا بدل شي. ۱۱ زه به تل ستاسو لارښوونه وکړم او په وچو سيمو کې به
تاسو په خپلو نعمتونو ماړه کړم. زه به تاسو قوي وساتم. تاسو به د هغه باغ په شان يئ چې پرېمانه اوبه ولري
او د هغې چينې په شان يئ چې هېڅکله نه وچيږي. ۱۲ ستاسو خلک به هغه ځايونه چې ډېر پخوا وران
شوي وو، بېرته ودان کړي او د هغو په بنيادونو باندې به بيا ودانۍ جوړې کړي. تاسو به د ښار د دېوالونو د
رغوونکو او کوڅو د بيا جوړوونکو په نوم مشهور شئ.»

## د سبت د ورځې د لمانځلو اجر

۱۳ څښتن وايي: «که چېرې تاسو د سبت د ورځې درناوی وکړئ، هغه سپېڅلې وګڼئ او په دې ورځ د
خپلو ګټو په فکر کې ونه اوسئ او که چېرې دې ته د خوشحالۍ ورځ ووايئ، کار ونه کړئ، له ناوړو خبرو نه
لاس واخلئ، ۱۴ نو بيا به هغه خوشحالي لاسته راوړئ چې زه يې درکوم. زه به تاسو ته لوی عزت درکړم.
زه به تاسو دې ته هم پرېږدم چې د هغې ځمکې څخه خوند واخلئ چې ستاسو د نيکه يعقوب سره مې وعده
کړې وه. ما څښتن په خپله داسې ويلي دي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ګناه په خلاف خبرداري

59 ۱ ګومان مه کوئ چې د څښتن لاس دومره لنډ دی چې تاسو ژغورلی نه شي او یا يې غوږ دومره درووند دی چې ستاسو زارۍ اورېدلی نه شي. ۲ خو پوه شئ چې ستاسو بد عمل ستاسو او د څښتن ترمنځ بېلتون راوستی دی. ستاسو ګناهونو د هغه مخ ستاسو څخه پټ کړی دی، له دې کبله هغه ستاسو زارۍ نه اوري. ۳ لاسونه مو په وینو او ګوتې مو په ګناه ککړې دي. له شونډو نه مو دروغ راوځي او ژبه مو په بدو خبرو خوځېږي.

۴ هېڅوک په محکمه کې له انصافه کار نه اخلي او رښتینی قضاوت نه کوي. په دروغو تکیه کوي چې خپله دعوه وګټي او نورو ته د نقصان رسولو نقشې جوړوي او بدي راولي. ۵ د هغوی نقشې د مار د هګیو په شان دي چې کله ماتې شي، نو د خلکو د تباهۍ دپاره کارول کېږي. خو دا نقشې هم د غڼو د جالونو په شان دي. ۶ هغوی نه شي کولای چې د غڼو د تارونو څخه کالي جوړ کړي، ترڅو خپل ځانونه ورباندې پټ کړي. هر ډول بد عملونه د هغوی له خوا رامنځته کېږي او لاسونه يې د خلکو د تباه کولو دپاره تیار دي. ۷ هغوی ګناه کولو دپاره منډې وهي او زر زر د بې ګناه خلکو وینه تویوي. دوی یوازې د بدۍ نقشې جوړوي او د ژوند لاره يې ورانۍ او تباهي ده. ۸ هغوی د سولې او سلامتۍ لاره نه پېژني او د هغوی په لارو کې انصاف نشته. هغوی په کږو لارو باندې روان دي. هرڅوک چې په داسې لارو باندې ځي، سوله او سلامتي نه پېژني.

## د خپلو ګناهونو منل

۹ خلک وايي: «اوس مونږ پوهېږو چې ولې زمونږ سره انصاف نه کېږي او خدای ولې مونږ د هغو خلکو نه چې په مونږ ظلم کوي، نه ژغوري. مونږ د رڼا په هیله یو. خو ګورئ، مونږ ته یوازې تیاره ښکاري، رڼا نه وینو او په تیاره کې روان یو. ۱۰ مونږ د ړندو خلکو په شان په تیاره کې لاس په دېوال کېږدو او روانېږو. مونږ په رڼا ورځ لکه د شپې په شان تیندکونه خورو او په ژوندیو خلکو کې د مړو په شان یو. ۱۱ مونږ ټول لکه د اېږو په شان غورېږو او د کوترو په شان سخت زګېروي کوو. د انصاف په تمه یو، خو هغه نشته. د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژغورنې په هيله يو، خو ژغورنه زمونږ نه ډېره لېرې ده. ۱۲ ځکه مونږ ستا په وړاندې ډېر جرمونه کړي دي
او ګناهونه مو زمونږ په ضد شاهدي ورکوي. مونږ مجرمان يو او خپل ګناهونه منو. ۱۳ مونږ ستا په
وړاندې بغاوت کړی دی. ته مو نه يې منلی او ستا له پيروۍ نه مو انکار کړی دی. مونږ په نورو ظلم او
سرغړونه کړې ده. زمونږ خيالونه سم نه دي او زمونږ خبرې دروغ دي. ۱۴ انصاف مو پرېښی دی او
عدالت زمونږ نه لېرې ولاړ دی. رښتيا په کوڅه او بازار کې تيندک خوړلی دی او رښتينولي هلته هېڅ ځای
نه لري. ۱۵ هېڅوک رښتيا نه وايي او څوک چې غواړي له بدۍ نه لاس واخلی، په هغه باندې حمله
کيږي.» څښتن دا هرڅه وليدل او هغه په دې خفه ؤ چې انصاف نه ؤ.

## څښتن او د خپل قوم ژغورنه

۱۶ هغه هک پک حيران پاتې شو چې داسې هېڅوک نشته چې د مظلومانو سره مرسته وکړي. نو هغه د
خپلو قوي متو څخه کار واخيست چې هغوی وژغوري. د څښتن عدالت هغه بريالی کړ. ۱۷ هغه عدالت
د زغرو د کاليو په شان واغوست او د خلاصون د زغرو خولۍ يې په سر کړه. هغه د بدل اخيستلو کالي
واغوستل او د غيرت چپنه يې په تن کړه. ۱۸ هغه به خپلو دښمنانو ته د هغوی د کړنو سره سم سزا
ورکړي او غضب به يې ور باندې نازل شي، حتی که هغوی په ډېرو لېرې هېوادونو کې هم واوسيږي. ۱۹
نو هغه وخت به د لوېديځ خلک د څښتن د نوم څخه ووېرېږي او څوک چې په ختيځ کې اوسيږي هغوی به
د څښتن د جلال په ليدلو سره وډار شي. ځکه چې هغه به د يو تېز سيلاب په شان په هغوی باندې راشي
لکه د څښتن باد چې هغه راروان کړی وي.

۲۰ څښتن خپل قوم ته داسې وايي: «يو خلاصوونکی به صهيون ته راشي، ترڅو د يعقوب له اولادې څخه
هغه کسان چې د خپلو ګناهونو نه توبه وباسي، وژغوري.» ۲۱ څښتن وايي: «زه ستاسو سره دا لوظ کوم:
‹زه تاسو ته خپل روح درکوم او خپل کلام مې په تاسو باندې نازل کړی دی. دا خبرې به نه ستاسو، نه
ستاسو د ماشومانو او نه ستاسو د لمسيانو له خولې څخه لېرې شي. دا زما وعده ده، له همدا اوس نه تر
ابده پورې.›»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اورشلیم پرتمین راتلونکی

٦٠

١ پاڅه او وځلېږه

ځکه رڼا ده ځلېدلې په تا

او ځلېدلی دی جلال د څښتن

٢ ګوره، خوره شوې ده تیاره په ټوله ځمکه باندې

نور قومونه دي پټ شوي تورې تیارې لاندې

خو د څښتن رڼا به راشي په تا باندې

او ستا دپاسه به ښکاره شي د هغه جلال

٣ قومونه رابه شي چې ووینې رڼا ستا

پاچاهان به راشي چې ووینې ستا ځلېدونکې رڼا

٤ وګوره شاوخوا ته

او نظر وکړه چې څه پېښېږي!

راغونډېږي ستا ټول خلک

او ستا خواته راروان دي

ستا زامن راځي له ډېر لېرې ځایه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا لونړې به د ماشومانو په شان

په غېږ کې یووړل شي

۵ نو بیا به ته ووینې دا صحنه

او له خوشحالۍ به ډک شې

له هیجانه نه به درزیږي ستا زړه

ځکه تاته به راشي د بحیرې له لارې

د نورو قومونو شتمني

۶ رابه شي له عیفا او له مدیانه

لوی کاروانونه د اوښانو

او پټه به کړي ځمکه ستا

هغوی به راوړي سره زر او قیمتي خوشبویي

له شیبا نه له خپل ځانه سره

وربه کړي زېرى خلکو ته د ښتن د کارو

او هم به وکړي د هغه ستاینه

۷ تاته به راوړل شي ټولې رمې د قیدار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا خدمت ته به حاضر کړای شي د نبایوت پسونه

هغوی به خپله لاړ شي د څښتن د قربانۍ ځای ته

او هغه به ومني دا قرباني

څښتن به نور هم ښایسته کړي خپل پرتمین کور

۸ دا څوک دي چې روان دي لکه د ورېځو په شان

او راستنېږي خپلو ځالو ته لکه کوترو په شان؟

۹ وي به څښتن ته انتظار لېرې ملکونه

دي راروانې مخکې کشتۍ د بحیرې

چې راستانه کړي خپل هېواد ته ستا خلک

لېرې ځایونو څخه

هغوی راځي د خپلو سرو او سپینو زرو سره

کړي په دې ډول درناوی ستا د څښتن د نوم

چې دی سپېڅلی د اسراییلو خدای

ځکه ورکړی دی خپل قوم ته هغه شان او شوکت

۱۰ څښتن وایي اورشلیم ته:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«پردي خلک به بیا ودان کړي دېوالونه ستا

او پاچاهان به د هغوی وکړي خدمت ستا

که څه هم ما په قهر کې سزا درکړله تاته

خو اوس به رحم د خپلې مهربانۍ وښایم تاته

۱۱ شپه او ورځ به وي خلاصې دروازې ستا

او هغه به نه بندېږي هېڅکله

ترڅو راوړل شي شتمني د نورو قومونو تاته

او پاچاهان به د هغوی راوستل شي لکه بندیانو په شان

۱۲ خو که چېرې وکړي کوم قومونه او پاچاهۍ

ستا له خدمته انکار

له منځه لاړ به شي بیخي او شي تباه به هغوی

۱۳ د لبنان شان او شوکت به راشي تاته

تاته به راوړل شي له هغه ځایه

لرګي د سروې، سپېدار او نښتر د ونو

ترڅو ښکلې او سینګار کړي زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د عبادت ځای

زه به ورکړمه جلال دې ځای ته

۱۴ کومو خلکو چې دی کړی په تا ظلم

اولاده به د هغوی راشي او شي به ټيټ ستا په وړاندې

هرچا چې تاته سپکاوی کړی دی

هغوی به ولویږي ستا پښو ته

هغوی به یاد کړي تا د څښتن د ښار په نامه

یعنې ښار د اسراییلو د سپېڅلي خدای

چې صهیون دی هغه

۱۵ ته رد شوی وې یو وخت

او کرکه کوله خلکو ستا نه

هېچا به نه کاوه سفر د ستا په لاره

خو اوس به زه تا پرتمین کړمه د تل دپاره

تانه به جوړ کړم د خوشحالۍ ځای

ټولو نسلونو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ داسې ګټه به ترلاسه کړې

د پردیو قومونو او پاچاهانو څخه

لکه ماشوم چې روي د خپلې مور تی

بیا به ته پوه شې چې زه څښتن یمه ژغورونکی ستا

او قادر خدای یم د یعقوب چې خلاصون درکوم تاته

۱۷ زه به راوړم تاته په ځای د برنجو سره زر

په ځای د اوسپنې سپین زر

برنج د لرګیو په ځای

او اوسپنه د تیږو په ځای

ستا حاکمان به راولي سوله

او د انصاف او عدالت نه به کړي جوړه خپله دنده

۱۸ نور به د ظلم اواز نه وي ستا هېواد کې

ستا وطن به تباهي نه کړي ټوټې ټوټې

دېوالونه به خوندي ساتي تا

او هغه خلک چې ننوځي هلته، کوي ستاینه به ستا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ته به نور نه لرې اړتیا د ورځې د لمر رڼا ته

او نه به د شپې لرې اړتیا د سپوږمۍ ځلا ته

ځکه زه څښتن، ستا خدای به تل یمه رڼا ستا

په تا به وځلیږي زما د جلال رڼا

۲۰ نور به نه پرېوځي ستا لمر

او نه به کوزیږي ستا سپوږمۍ

ځکه زه څښتن به ابدي رڼا یم ستا

او پای ته به ورسي د غم ورځې ستا

۲۱ ستا ټول خلک به وي نېک

او تل به وي د خپل هېواد خاوندان

ما کرلي دي هغوی لکه نیالګیو په شان

خپلو لاسونو باندې

ترڅو ښکاره کړم ټولو ته خپله لویي او جلال

۲۲ ستا له کوچنۍ او له بې وسه کورنۍ نه به

قبیله نه بلکې لوی او قوي قوم جوړ شي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه چې څښتن یم

په مناسب وخت کې به ډېر زر

سرته ورسوم دا کار»

## د خلاصون زېری

٦١ ١ نازل شوی دی په ما روح د څښتن تعالی

ځکه چې زه يې مسح کړی یمه

ترڅو ورسوم زېری غریبانو ته

زه رالېږلی یم هغه

چې ورکړم شفا مات شویو زړونو ته

او اسیرانو او بندیانو ته اعلان کړم ازادي

٢ زه يې رالېږلی یمه چې کړم اعلان

د مهربانۍ کال د څښتن

او دا چې رارسېدلې ده د انتقام ورځ د څښتن

زه يې رالېږلی یمه چې تسلي ورکړم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو ويرجنو خلکو ته

۳ هغو خلکو ته چې وير کوي صهيون کې

د ايرو په ځای به ورکړمه هغوی ته ښايسته تاج

د وير په ځای به خوشحالي ورکړمه

او خفګان به يې بدل شي د ستاينې په سندره

هغوی به وي خپلې نېکۍ کې د څېړيو د ونو په شان

چې کرلي دي څښتن د خپل جلال دپاره

۴ هغوی به بيا جوړ کړي هغه پخواني ښارونه

چې د ډېر وخت دپاره وران پراته وو

هغوی به بيا ودان کړي هغه وران ښارونه

چې په کې ژوند نه کاوه د خلکو ډېرو نسلونو

۵ پردي خلک به کوي پام ستاسو رمو باندې

هغوی به ستاسو بزګران وي

او وي باغوانان به د انګورو د باغونو

۶ خو د څښتن د کاهنانو په نامه به مشهور شئ تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلک به وايي چې يئ د خدای خادمان

تاسو به شئ برخمن د نورو قومونو له شتمنيو څخه

او تاسو به وياړئ چې هغه شتمني شوه ستاسو

۷ پای ته به ورسيږي سپکاوی او رسوايي ستاسو

او وبه اوسيږئ په خپل هېواد کې

شي به دوه چنده شتمني ستاسو

او خوشحالي به مو په برخه شي د تل دپاره

۸ څښتن وايي:

«زه انصاف خوښوم او کوم کرکه له غلا او ظلمه

په وفادارۍ سره به ورکړم اجر خپلو خلکو ته

او د هغوی سره به وکړم يو تلپاتې لوظ

۹ ټولو قومونو او هېوادونو کې به

شي مشهوره اولاده د هغوی

هرڅوک چې ويني هغوی، نو په دې به پوه شي

چې ما ورکړی برکت هغوی ته»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ زه خوشحالي کومه ډېره د څښتن په خاطر

زما ځان به خوشحالي کړي په ستاینه د څښتن

ځکه هغه راته اغوستي د ژغورنې کالي

او د عدالت چپنه

لکه چې څنګه ښایسته کېږي زوم لونګۍ باندې

او ناوې ګاڼو باندې

۱۱ لکه چې څنګه راشنه کوي تخم ځمکه

او راشنه کوي باغ کرل شوي نیالګي

همدارنګه څښتن تعالی به کړي ښکاره

خپل عدالت ټولو قومونو لره

او هغوی به وکړي د هغه ستاینه

## د اورشلیم راتلونکی او د هغه ژغورنه

٦٢ ۱ چوپ به نه کښېنم زه د صهیون په خاطر

پاتې به نه شم غلی د اورشلیم په خاطر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو ونه ځلیږي عدالت د هغه

د سهار د رڼا په شان

او ونه ځلیږي ژغورنه يې د څراغ په شان

۲ ای اورشلیمه! وبه ويني عدالت ستا د نړۍ قومونه

وبه ګوري ستا شان او شوکت ټول پاچاهان

تاته به درکړل شي يو نوی نوم

څښتن به کیږدي په تا هغه نوم

۳ د ښکلي تاج په شان به شې ته د څښتن په لاس کې

شاهي لونګۍ په شان به شې ته د خپل خدای په لاس کې

۴ نور به څوک نه يادوي تا

د «پرېښودل شوي ښار» په نامه

بیا به دې ځمکه «شاړه» نه يادوي

خو ستا نوی نوم به وي «د څښتن د خوشحالۍ ښار»

او د ځمکې نوم به دې وي «د څښتن ناوې»

ځکه چې ستا نه دی څښتن خوشحاله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه به وي لکه مېږه د ستا د ځمکې

۵ لکه ښنګه چې یو ځوان کوي واده

له یوې پېغلې سره

نو داسې اوسیږي به ستا خلک په تا کې

لکه ښنګه چې خوشحاله وي یو زوم

له خپلې ناوې سره

نو داسې خوشحاله به وي خدای له تا نه

۶ ای اورشلیمه، ستا دېوالونو باندې

ما ودرولي دي پهره داران

هغوی به هېڅکله شپه او ورځ

نه کښېني غلي

چې یادوئ ښښتن ته د هغه وعدې

چپ مه کښېنئ

۷ ترڅو جوړ نه کړي اورشلیم یوځل بیا

او ترې جوړ نه کړي داسې ښار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د ستاينې سبب وګرځي ټولې نړۍ دپاره

تر هغه وخته څښتن مه پرېږدئ چې کښېني ارام

٨ په خپل ښي لاس او قوي مټ څښتن قسم کړی دی:

«نور به ورنه کړمه غلې دانې دښمنانو ته ستا

چې ويې خوري

نور به ستا شراب چې دی حاصل ستا د زيار

پردي خلک ونه څښي

٩ څوک چې رېبي دا غلې

هغوی به وکړي د څښتن ستاينه

د ډوډۍ خوړلو وخت کې

چې جوړوي څوک د انګورو شراب

هغوی به يې وڅښي د څښتن د کور انګړ کې»

١٠ ای د اورشليم خلکو، بيرون ووځئ د ښار له دروازو نه

لاړ شئ دباندې او چې راستنيږي کوم خلک ستاسو بېرته

هغوی ته بيا جوړه کړئ لاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړه کړئ لویه لاره

او لېرې کړئ تيږې له دې لارې څخه

یو بيرغ پورته کړئ ټولو قومونو ته چې ويې ويني

۱۱ ګورئ، څښتن اعلان کړی دی ټولې نړۍ ته:

«ووايئ د اورشليم خلکو ته

چې څښتن دی راروان ستاسو خلاصون دپاره

ګورئ، راولي هغه له ځانه سره ژغورل شوي خلک

راروان دي هغوی هغه نه مخکې»

۱۲ هغوی یادیږي به په نوم «سپېڅلی قوم د څښتن»

او «ژغورل شوي خلک د څښتن»

ای اورشليمه، ته به یاد شې

«په څښتن باندې د ګران ښار» په نامه

او د هغه ښار په نوم چې «نه دی پريښی څښتن»

## په نورو قومونو باندې د څښتن بريالیتوب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦٣ ١ دا څوک دی چې د ادوم د بزرې د ښار څخه راروان دی او تک سره کالي يې اغوستي دي؟ دا
څوک دی چې شانداره کالي لري او په لوی قدرت سره راروان دی؟

«دا زه څښتن يم چې د ژغورلو وس لرم او راروان يم چې خپل برياليتوب اعلان کړم.»

٢ ولې ستا کالي سره دي، داسې دي لکه چا چې د شرابو د جوړولو په خاطر انګور د پښو لاندې کړي
وي؟

٣ څښتن ځواب ورکوي: «هو، ما يوازې او پرته د چا له مرستې د غوسې په وخت کې خلک د انګورو په
شان تر پښو لاندې کړل او د هغوی وينې زما کالي سره کړل. ٤ ځکه ما پرېکړه وکړه، هغه وخت
رارسېدلی دی چې د خپلو دښمنانو څخه بدل واخلم او خپل قوم وژغورم. ٥ هرې خواته مې وکتل چې
څوک پيدا کړم، ترڅو زما سره مرسته وکړي. په حيرانتيا سره مې وليدل چې مرسته کوونکی نشته، نو بيا د
خپل قدرت او قهر په مرسته بريالی شوم. ٦ ما په خپل قهر سره قومونه تر پښو لاندې کړل او هغوی مې
د يو نشه سړي په شان کړل، بيا مې د هغوی وينه په ځمکه تويه کړه.»

## د څښتن د نېکۍ ستاينه

٧ زه به وکړمه بيان د څښتن د تلپاتې مينې

د ستاينې وړ دي د څښتن کارونه

ډېر برکت ورکړی هغه خپل د اسراييلو قوم ته

په خاطر د خپل رحم او تلپاتې مينې

٨ څښتن وويل: «په رښتيا هغوی زما قوم دی او زما سره به خيانت ونه کړي.» نو څښتن د هغوی
ژغورونکی شو. ٩ د هغوی په ټولو کړاوونو کې څښتن هم شريک شو او هغه فرښته چې د هغه په حضور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې ده، هغوی یې وژغورل. هغوی یې د خپلې مینې او خواخوږۍ له مخې وژغورل. هغه پخوا هم تل په
هغوی باندې پام کاوه. ۱۰ خو هغوی د څښتن په وړاندې سرغړونه وکړه او د هغه سپېڅلی روح یې خفه
کړ. نو ځکه هغه د هغوی دښمن شو او په خپله یې ورسره جګړه وکړه.

۱۱ بیا هغوی هغه تېره زمانه را په یاد کړه چې څنګه موسی خپل خلک د مصر څخه وویستل او پوښتنه یې
وکړه: «چېرته دی هغه کس چې د اسراییلو قوم یې د هغوی له مشرانو سره له سرې بحیرې نه تېر کړل؟
چېرته دی هغه څښتن چې هغوی ته یې خپل سپېڅلی روح نازل کړ؟» ۱۲ په خپل ستر قدرت یې د
موسی په لاس لوی کارونه تر سره کړل. هغه د بحیرې اوبه په منځ کې سره بېلې کړې او نوم یې تلپاتې
شهرت وموند. ۱۳ څښتن د بحیرې څخه د تېرېدو په وخت کې د اسراییلو قوم ته لارښوونه وکړه. هغوی
لکه د اسونو په شان پرته له تیندک خوړلو په دښته کې روان وو. ۱۴ لکه څنګه چې څاروي په یوه ارامه
دره کې روان وي، نو د څښتن روح هغوی ته همداسې ارامي ورکړه. په دې ډول څښتن خپل قوم ته لارښوونه
وکړه او د هغه نوم د دې کار په خاطر جلال وموند.

## د رحم او مرستې دپاره دعا

۱۵ ای څښتنه، د اسمان نه لاندې وګوره، د خپل سپېڅلي او د جلال نه ډک استوګنځي څخه په مونږ
باندې نظر وکړه. چېرته دی ستا غیرت او قدرت؟ چېرته ده هغه مینه او رحم چې زمونږ سره دې درلودله؟
ولې یې له مونږه سپموې؟ ۱۶ ځکه ته زمونږ پلار یې. که څه هم زمونږ نیکونه ابراهیم او یعقوب مونږ خپل
نه ګڼي. خو ای څښتنه، ته زمونږ پلار یې، چې له پخوا څخه زمونږ ژغورونکی یې او ستا شهرت له پخوا نه
دی. ۱۷ ای څښتنه! ولې مونږ پرېږدې چې ستا د لارې څخه وګرځو؟ ولې زمونږ زړونه دومره سختوې چې
ستا څخه ونه وېرېږو؟ د خپلو خدمتګارانو او هغو قبیلو په خاطر چې تل ستا دي، بېرته مونږ ته راوګرځه.
۱۸ ستا سپېڅلی ځای د لږ وخت دپاره ستا د سپېڅلو خلکو سره ؤ، خو وروسته دښمنانو هغه ځای تر پښو
لاندې کړ. ۱۹ مونږ د هغو خلکو په څېر شو چې ګواکې هېڅکله دې په هغوی واکمني نه وه کړې او
هېڅکله ستا په نامه نه یادېدل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦٤ ١ کاشکې اسمان سورى کړې او لاندې راښکته شې او غرونه ستا په ليدلو په لړزېدلو شي. ٢
لکه څنګه چې د لرګيو په سوځېدلو اوبه خوټيږي، نو ستا په راتګ سره به قومونه په لړزېدلو شي. بيا به ستا
نوم د دښمنانو په منځ کې مشهور شي. ٣ پخوا کله چې تا هيبتناکه کارونه وکړل چې مونږ يې هېڅ توقع
نه لرله، ستا په راښکته کېدو غرونو ټکان وخوړ. ٤ هېڅکله هېچا ستا په شان خداى نه دى ليدلى او نه
چا اورېدلى دى. يوازې ته هغه خداى يې چې د هغو خلکو سره مرسته کوې چې د هيلې سترګې يې تاته
دي. ٥ ته هغو خلکو ته هرکلى وايې چې په خوشحالۍ سره عادلانه کارونه سرته رسوي او هغوى به په
ياد ساتي چې ستا د رضا سره سم ژوند وکړي. ګوره، ته په مونږ په قهر شوې، خو مونږ ګناه پرېنښودله. که
چېرې تل ستا د رضا سره سم ژوند وکړو، نو وبه ژغورل شو. ٦ مونږ ټول ګناهکاران يو، حتى زمونږ ډېر
ښه عملونه هم لکه د يوې نجسې ټوټې په شان دي. مونږ ټول لکه د مني د پاڼو غوندې مړاوې کېږو او ګناه
مو لکه د باد پناه کوي. ٧ هېڅوک په دعا کې ستا نوم نه اخلي، هېڅوک په وفادارۍ سره ستا عبادت نه
کوي. ځکه تا خپل مخ زمونږ نه اړولى دى او مونږ دې د ګناه په منګولو کې پرېښي يو.

٨ خو اى ښښتنه، ته زمونږ پلار يې. مونږ لکه د خټې په شان يو او ته زمونږ دپاره لکه د کلال په شان يې.
مونږ ټول ستا په لاس جوړ شوي يو. ٩ نو په مونږ باندې دومره مه په قهرېږه او زمونږ ګناهونه د تل دپاره
مه در په يادوه. په مونږ پام وکړه، ځکه مونږ ټول ستا قوم يو. ١٠ ستا سپېڅلي ښارونه او صهيون هم په
دښته بدل شوي دي او اورشليم وران او ويجاړ پروت دى. ١١ زمونږ د عبادت سپېڅلى او پرتمين ځاى
چې زمونږ نيکونو به په کې ستا ستاينه کوله، په اور سوځول شوى او له منځه تللى دى. کوم ځايونه چې په
مونږ باندې ګران وو هغه په کنډوالو باندې بدل شوي دي. ١٢ اى ښښتنه، سره له دې چې مونږ دا ټول
کړاوونه وزغمل، ايا بياهم په مونږ رحم نه کوې؟ چوپ يې او مونږ ته له حده ډېره سزا راکوې؟

## سرکښه خلکو ته سزا

٦٥ ١ ښښتن ووېل: «زه دې ته تيار وم چې د خپلو خلکو دعاګانې قبولې کړم، خو هغوى دعا ونه کړه.
زه دې ته تيار وم چې هغوى ما پيدا کړي، خو هغوى زما په لټه کې نه وو. ما ويل: ‹زه دلته يم، زه دلته يم›،
خو بياهم هغه قوم زما نوم نه ياداوه. ٢ ما ټوله ورځ خپله غېږه يو سرکښه قوم ته خلاصه کړې ده، خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی په غلطو لارو روان دي او په کړو وړو نقشو پسې ګرځي. ۳ هغوی تل ما په قهر کوي. هغوی په
خپلو باغونو کې بتانو ته قربانۍ وړاندې کوي او د خښتو د قربانۍ په ځایونو کې خوشبویي سوځوي. ۴
هغوی په هدېرو کې کښېني او په پټو ځایونو کې شپې تېروي، په دې خاطر چې د مړو له ارواحګانو نه
مشوره وغواړي. د خوګ غوښه خوري او په لوښو کې یې د ناپاکو غوښو ښوروا ده. ۵ دا سرکښه خلک
نورو ته وايي: ‹مونږ ته مه رانژدې کېږئ، ځکه مونږ ستاسو نه سپېڅلي یو.› زه داسې خلک نه شم زغملی،
هغوی د داسې اور په شان دي چې ټوله ورځ بلېږي.

۶ ګورئ، دلته زما په وړاندې د سرکښه خلکو عملونه ثبت شوي دي: ‹زه به نور غلی پاتې نه شم، بلکې
هغوی ته به پوره سزا ورکړم. ۷ زه به سرکښه خلکو ته نه یوازې د هغوی د ګناهونو له امله بلکې د هغوی
د پلرونو او نیکونو د ګناهونو په خاطر به هم سزا ورکړم. ځکه چې هغوی په غرونو او غونډیو باندې خپلو
بتانو ته خوشبویي سوځولې ده او زما سپکاوی یې کړی دی. نو له دې امله سرکښه خلکو ته به د هغوی د
بدو کړنو په خاطر مناسبه سزا ورکړم.›»

۸ څښتن داسې وايي: «هېڅوک د انګورو ښه وږي له منځه نه وړي، بلکې د هغو څخه شراب جوړوي.
خو زه هم خپل ټول قوم له منځه نه وړم او د خپلو خدمتګارانو ساتنه کوم. ۹ زه د یعقوب د نسل څخه
او د یهودا د قبیلې څخه اولادونه پیدا کوم چې زما د غرني هېواد خاوندان شي. څوک چې زما غوره شوي
خدمتګاران دي، هلته به اوسېږي. ۱۰ څوک چې زما په لټه کې دي، په لوېدیځ کې به د شارون ډاګ د
هغوی د رمو څرځای او په ختیځ کې به یې د مصیبت دره د څارویو د څرولو ځای وي.

۱۱ خو تاسو چې ما پرېږدئ، زما سپېڅلی غر هېروئ، د ‹بخت› بت ته دسترخوان هواروئ او د
‹سرنوشت› بت ته د شرابو جامونه ډکوئ، ۱۲ تاسو به بد سرنوشت ولرئ او ټول به د حلالوونکي په
وړاندې ټیټ شئ. ځکه کله چې ما په تاسو غږ وکړ، تاسو ځواب رانه کړ او کله چې مې ستاسو سره خبرې
کولې، غوږ مو ورته نه نیوه، بلکې زما د سترګو په وړاندې مو بد کارونه کول. تاسو هغه لاره غوره کړه چې زما
رضا نه وه.» ۱۳ نو بیا څښتن تعالی داسې وايي: «ګورئ، زما خدمتګاران به پرېمانه ډوډۍ وخوري، خو
تاسو به وږي پاتې شئ. هغوی به د څښلو دپاره هرڅه ولري، خو تاسو به تږي اوسئ. هغوی به خوشحاله وي،
خو تاسو به رسوا شئ او وبه شرمېږئ. ۱۴ زما خدمتګاران به د خوشحالۍ سندرې ووايي، خو تاسو به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زړه له درده چیغې ووهئ او د ویر ژړا به کوئ. ۱۵ ستاسو نوم به زما د غوره شوي قوم په منځ کې د یو
لعنت په توګه وکارول شي. زه څښتن تعالی به تاسو له منځه یوسم، خو خپلو رښتینو خدمتګارانو ته به یو
نوی نوم ورکړم. ۱۶ نو هرڅوک چې په دې وطن کې د وفادار خدای په نوم د خپل ځان دپاره برکت
وغواړي او یا قسم وخوري، پخواني کړاوونه به یې هېر شي او زما له سترګو څخه به پناه شي.»

## نوی پیدایښت

۱۷ څښتن وايي: «ګورئ، زه نوي اسمانونه او یوه نوې ځمکه پیدا کوم. ټول پخواني شیان به هېر شي.
۱۸ څه چې ما پیدا کړي دي تاسو ورباندې تل خوشحاله اوسئ. ګورئ، زه اورشلیم جوړوم او اوسېدونکي
به یې خوشحاله وي. ۱۹ اورشلیم او زما خلک چې د هغه ځای اوسېدونکي دي، هغوی به زما د خوشحالۍ
سبب وګرځي. هلته به نوره ژړا او چیغې وانه ورېدل شي. ۲۰ ماشومان به نور په وړوکتوب کې نه مړه
کیږي او ټول خلک به خپل عمر پوره کوي. سل کلن خلک به په ځوانانو کې شمېرل کیږي او څوک چې سل
کلنۍ ته نه رسیږي، هغوی به لعنتي شمېرل کیږي. ۲۱ څوک چې کورونه جوړوي، نو په خپله به په کې
واوسیږي او څوک چې د انګورو باغونه کري، نو د هغو انګور به وخوري. ۲۲ ځکه نور به زما د قوم کورونه
او د انګورو باغونه د بل چا لاس ته ورنه شي. زما غوره شوي خلک به د ونو په شان ډېر اوږده عمرونه ولري.
د خپل زیار حاصل به لاسته راوړي او په پوره توګه به ترې خوند واخلي. ۲۳ د هغوی زیار به بېځایه نه وي
او د هغوی ماشومان به نور د بدبختۍ سره نه مخامخ کیږي. ځکه زه به هغوی او د هغوی اولادې ته تل
برکت ورکړم. ۲۴ حتی مخکې له دې چې هغوی ماته غږ وکړي، زه به ځواب ورکړم. مخکې له دې چې
خپله دعا پای ته ورسوي، زه به هغه قبوله کړم. ۲۵ لېوان او وري به په یوځای کې څریږي، زمریان به د
غویانو په شان بوس خوري، خو د مارانو خواړه به خاوره وي. هغه وحشي حیوانات به نور زما په سپېڅلي غره
صهیون باندې به هېچا او هېڅ شي ته زیان ونه رسوي او نه به یې له منځه یوسي.» څښتن داسې ویلي دي.

## رښتینی عبادت او د خدای قضاوت

٦٦ ۱ څښتن داسې وايي: «اسمان زما تخت دی او ځمکه زما د پښو چوکۍ ده. تاسو به ماته څه ډول

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور جوړ کړئ او زما د اوسېدلو ځای چېرته دی؟ ۲ ما دا ټول شيان په خپل لاس پيدا کړل او هغه منځ
ته راغلل. خو زه د هغه چا سره يم چې عاجز او توبه کوونکی وي او زما د کلام په وړاندې له وېرې رېږدي.

۳ څوک چې د قربانۍ دپاره غويی حلالوي، هغه انسان هم قتلوي. څوک چې وری د قربانۍ دپاره
حلالوي، هغه د سپي ورمېږ هم ماتوي. څوک چې د غلو دانو نذرانې ماته راوړي، هغه د خوګ وينه هم
وړاندې کوي. څوک چې ماته قيمتي خوشبويي سوځوي، هغه بت ته هم عبادت کوي. څنګه چې د هغوی
زړه وغواړي، هماغه کار کوي. هغوی د هغو ناوړو کارونو څخه چې د کرکې وړ دي، خوند اخلي. ۴ نو زه
به هم د هغوی دپاره سخت مصيبت وغواړم، داسې مصيبت چې هغوی ورنه وېرېږي. ځکه کله چې ما په
هغوی غږ وکړ، نو هېچا ځواب رانه کړ او کله به چې ما خبرې کولې، نو هېچا به ورته غوږ نه نيوه. خو هغوی
هغه کارونه وکړل چې زما په نظر بد وو او هغه څه يې خوښ کړل چې زه پرې خوشحاله نه وم.»

۵ ای هغو خلکو چې د څښتن د کلام څخه لړزېږئ، د هغه کلام ته غوږ ونيسئ چې وايي: «زما د نوم په
خاطر ستاسو خپل خلک ستاسو نه کرکه کوي او تاسې شړي. هغوی په ملنډو تاسو ته وايي: ‹څښتن دې
خپله لويي وښايي او تاسو دې وژغوري، ترڅو مونږ ستاسو خوشحالي ووينو!› خو هغوی به په خپله رسوا شي
او وبه شرمېږي. ۶ واورئ! هغه شورماشور چې له ښار څخه راځي او هغه غوغا چې د عبادت د ځای
څخه اورېدل کېږي، دا د څښتن اواز دی چې د خپلو دښمنانو څخه بدل اخلي.

۷ زما سپېڅلی ښار د هغې ښځې په شان دی چې ماشوم يې د زېږېدو له درد نه مخکې وزېږېږي، د
لنګون له درد نه مخکې يې ناڅاپه زوی دې نړۍ ته راځي. ۸ ايا چا کله داسې حيرانوونکې پېښه ليدلې يا
اورېدلې ده چې ناڅاپه يو هېواد په يوه ورځ کې پيدا شي؟ ايا کوم قوم په يوه شېبه کې زېږېدلی شي؟ خو په
هغه شېبه کې چې په صهيون باندې د لنګون درد پيل شو، ماشومان يې دې نړۍ ته راوړل. ۹ ايا فکر
کوئ کله چې زه د يوې ښځې خېټه خلاصه کړم او په همدې شېبه کې يې پرېنږدم چې ماشوم يې وزېږېږي؟
نه، زه هېڅکله داسې کار نه کوم.» ستاسو څښتن خدای داسې ويلي دي:

۱۰ ای هغو خلکو چې کوئ مينه د اورشليم سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای هغو خلکو چې کوئ ویر د هغه دپاره

خو اوس خوشحال اوسئ

او شریک شئ د هغه په خوشحالۍ کې

۱۱ لکه څنګه چې خوند اخلي ماشوم

د خپلې مور د سینې له شیدو

تاسو به هم شئ برخمن د اورشلیم

له نعمتونو څخه

او خوند به واخلئ د هغه له جلاله څخه

۱۲ څښتن داسې وايي: «ګورئ، زه به نېکمرغي او سلامتي د سیند په شان په اورشلیم کې جاري کړم او د
نورو قومونو شتمني به هغه ته د خوړ د سېلاب په شان راروانه کړم. تاسو به د داسې ماشوم په شان یئ چې
د مور له خوا شیدې ورکول کیږي، په خپله غېږه کې یې وړي او د مینې نه ډک چلند ورسره کوي. ۱۳
لکه څنګه چې یوه مور خپل ماشوم ته تسلي ورکوي، نو زه به هم تاسو ته په اورشلیم کې تسلي درکړم. ۱۴
کله چې تاسو دا پېښې وګورئ، نو خوشحاله به شئ. ستاسو بدن به د شنو واښو په شان وده وکړي. نو هغه
وخت به پوه شئ چې زه څښتن د خپلو خدمتګارانو سره مرسته کوم او خپلو دښمنانو ته خپل قهر ښایم.»

۱۵ ګورئ، څښتن د اور سره راروان دی او د هغه جنګي ګاډي د توفان په شان غړمبیږي. هغه به په ډېر
قهر او د اور د شغلو په شان په سختو رټلو سره خپلو دښمنانو ته سزا ورکړي. ۱۶ ځکه هغه به په اور او
خپلې تورې د نړۍ ټولو خلکو ته سزا ورکړي او ډېر خلک به د هغه د لاسه ووژل شي.

۱۷ څښتن داسې وايي: «هغه خلک به ټول یوځای له منځه لاړ شي چې خپل ځانونه سپېڅلي او پاکوي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوازې د دې دپاره باغونو ته ځي چې د بتانو عبادت وکړي او د خوګ غوښه، موږکان او نور حرام شيان
وخوري. ۱۸ زه د هغوی د خيالونو او کړنو څخه خبر يم. زه راځم د دې دپاره چې د ټولو قومونو او ژبو
خلک سره راغونډ کړم. کله چې هغوی راشي، نو زما جلال به ووينې ۱۹ او زه به د هغوی په منځ کې يو
زورور کار وکړم.

له دې خلکو نه به ځينې ژوندي پرېږدم او هغوی به دغو ځايونو ته ولېږم: هسپانيې، پول، لود چې په غشو
ويشتلو کې مهارت لري، توبال او يونان او لېرې هېوادونو ته چې زما د شهرت څخه خبر نه دي او زما لويي
يې نه ده ليدلې. هغوی به د دغو هېوادنو خلکو ته زما لويي اعلان کړي. ۲۰ هغوی به ستاسو ټول
اسراييلي ورونه له نورو قومونو څخه بېرته راولي. هغوی به دغه اسراييلي ورونه په اسونو، قچرو، اوښانو،
جنګي او عادي ګاډيو کې سپاره زما سپېڅلي غره اورشليم ته راولي او ماته به يې د يوې نذرانې په توګه
وړاندې کړي، لکه څنګه چې اسراييليان په پاکو لوښو کې د غلو دانو نذرانې زما د عبادت ځای ته راوړي.
۲۱ همدارنګه زه به د هغوی نه ځينې د کاهنانو په توګه وټاکم او ځينې د لاويانو په توګه.»

۲۲ څښتن داسې وايي: «لکه څنګه چې نوي اسمانونه او نوې ځمکه چې زه يې جوړوم زما په حضور کې به
تلپاتې وي، همداسې به ستاسو اولاده او ستاسو نوم تلپاتې وي. ۲۳ د هرې نوې مياشتې په اختر او
همدارنګه د سبت په هره ورځ به د نړۍ ټول خلک زما عبادت وکړي.

۲۴ کله چې هغوی د اورشليم څخه ووځي، نو د هغو خلکو مړي به ووينې چې زما په وړاندې يې سرغړونه
کړې وه. کوم چينجي چې د هغوی مړي خوري، هېڅکله به نه مري او کوم اور چې هغوی سوځوي، هېڅکله
به نه مړ کيږي. ټول خلک به هغوی ته د کرکې په سترګه ګوري.»

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.